


## د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: ټولواک
لیکوال: نیکولو مکیاویلي
ژباړه: ډاکتر محمد داود حبیبزی
لومړی چاپ: د میوند کلتوري ټولنه، غبرګولی، ۱۳۸۲
دویم چاپ :د امازون خپرندویه ټولنه، لړم، ۱۳۸۲
تیراژ: ۱۰۰۰ ټوکه

## ټولواک او نیکولو مکیاویلي

ټولواک په **۱۵۱۳** ز کال په فلورینس کې د میدیچیانو بیا واک ته رسیدلو پر مهال ولیکل شو. دغه اثر اوس هم پر ځو تو کمیزو اولسونو د ولکې ساتلو ساتلو لپاره هومره ګټور دی لکه د لومړي چاپ پرمهال چې یې و. همدا راز ټولواک د سوداګریزو مسئلو او د بېلابېلو ادارو او شرکتونو د اداره کولو او ستونزو د اواري لپاره، چې د دې عصر اداري مشران ورسره مخامخ دي، یو ښه لارښود دی. د کتاب لیکوال نېکولو مکیاویلي د سیاستپوهنې بنسټ اېښودونکی بلل کیږي. هغه د **۱۴۶۹**ز کال د مې په دریمه په فلورېنس کې زېږېدلی دی. له کال **۱۴۹۴** څخه یې تر **۱۵۱۲**ز پورې یوه رسمي دنده پرغاړه واخیسته چې په ترڅ کې یې په ګڼو اروپایي دربارونو کې ماموریتونه ترسره کړل. په **۱۵۱۲**ز کال په فلورینس کې بندي شو او بیا له بند خلاص او سان کاسیانو کې مېشت شو چې بیا هلته یې د یو شمېر نورو مهمو اثارو ترڅنګ دغه اثر هم ولیکه. او په کال **۱۵۲۷**ز کې یې د جون د میاشتې په **۲۲**مه له دې نړۍ سترګې پټې کړې .

## ځانګړې مننه

د هېواد له وتلي لیکوال، ژورنالېسټ، مورخ او خوږژبي شاعر عبدالباري جهاني نه یوه نړۍ مننه،
چې له زیاتو بوختیاوو سره سره یې خپل وخت او فکر د پېټرارک هغه ځلوریزې ژباړې ته ورکړ،
چې لیکوال د کتاب په پای کې راوړې ده.

ژباړن

سیاسي او ټولنیزې چارې د ساینسي هغو په شان نه دي چې د ریاضي او کیمیاوي فورمولونو په واسطه حل او اوارې شي. د سیاسي او اجتماعي پېښنو په ډلبندی او پایلو کې وخت او شېبې، ځای او ځایګی، احساسات او عواطف، ضوابط او روابط، استثنات او واقعات او نور ډېر مسایل خپل خپل اغېز لري. خو ساینسي مسایل بیا د خپلو ټاکلو علمي فورمولونو تابع دي او پورتني یاد شوي مسایل په کې اساسي نقش نه لري. خو هغه ټولنیزې پېښې چې په متواتر ډول د تجربو له لابراتواره راوتلي وي، د یو لړ اجتماعي فورمولو تابع ګرځي. متلونه او ځینې ولسي اصطلاحګانې چې د ولسي او ټولنیز ژوند لپاره د پرله پسې تجربو نچوړ دی د اجتماعي ستونزو ، لانجو او مسایلو د حل او اثبات لپاره غوره اجتماعي فورمولونه دي. سیاسي مسایل، پېښې او کړکېچونه چې د ټولنیز ژوند یوه اساسي برخه ده هم د پرله پسې تکرار او ورته والي له مخې مشخصو فورمولونو ته ور داخلېږي. سیاستوال د سیاسي پېښو له ورته والي څخه د خپلو سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره د یوې تجربې په توګه په آنې ډول ګټه پورته کوي خو د پېښو تحلیل، شننې، شالید او مخ لید ته دومره زیات فکر نه کوي. خو سیاستپوهان بیا د پېښو تل ته ورننوزي او ژور فکر کوي او په پای کې د ګڼو سیاسي پېښو له ورته والي څخه د راتلونکو پېښو او لانجو د حل لپاره یو سیاسي فورمول جوړوي .

د دې سیاسي پېښو د فورمول ځانګړتیا دا وي چې نه یوازې په یوه واحده ټولنه کې د تطبیق وړ وي بلکې د نورو ټولنو سیاستوال هم ترې ګټه پورته کولی شي. سیاستپوهان د مقدوني سکندر د بریالیتوب غټ راز په دې کې ګڼي چې د ارستو په شان د یو ژور فکري سیاستپوه افکار یې تر شا پراته وو. سکندر د ارستو له سیاسي فورمولونو څخه په ګټې اخیستنې د نړۍ پر فتحې بریالی شوی و. د هرهېواد د نیولو او ایلولو لپاره د لویې بریتانې د سیاستپوهانو سیاسي فورمول همغه و چې �تفرقه واچوه حکومت وکړه�او یا هم �بېل یې کړه ایل یې کړه�. د نړۍ هر بریالی سیاستوال چې ګورئ د بریالیتوب راز یې په همدې کې دی چې د سترو سیاستپوهانو سیاسي تیورۍ یې عملي کړې دي .

نیکولو مکیاویلي د نړۍ د ډېرو سترو سیاستپوهانو په جمله کې هغه سیاستپوه دی چې نوم یې تر هر چا زیات ځلېدلی او د نړۍ پر سیاسي چاپېریال خور دی .مکیاویلي د ۱۴۶۹م کال د مې د میاشتې پر دریمه نېټه په فلورېنس کې زېږېدلی او د ۱۵۲۷م کال د جون پر۲۲مه نېټه یې د ۵۸ کلونو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې کړې دي. د عمر ډېر کلونه یې په دربار کې پر سیاسي چارو ، سیاسي مطالعې او درباري لانجو کې تېر کړي دي. همدې عواملو دی په سیاسي چارو کې د پوره تجربې او ذکاوت خاوند کړ او کله چې د درباري غوړه مالانو په وجه یې خپله دنده له لاسه ورکړه نو لا زیات سیاسي تفکر او ژورتیا ته متوجه شو او په نتیجه کې یې دغه مهم اثر �ټولواک�رامنځته کړ چې د نږدې ۴۸۰ کلونو په بهیر کې یې د نړۍ پر سیاسي فضا فکري واکمني وکړه او کوي یې. دا کتاب د مکیاویلي د پرله پسې مطالعې او تجربې یو داسې نچوړ او غورچاڼ دی چې د متن هر پراګراف، هره جمله، هره کلیمه او هر توری یې په ډېر دقت لیکل شوی دی. کله چې سړی دا کتاب لولي نو هېڅ جمله او هېڅ ترکیب ورته زیات نه ښکاري چې سړی فکر وکړي دا یو زیاتي ترکیب دی او باید په کې نه وای راغلی. داسې لکه د ریاضي د عددونو او فورمولونو په شان چې هر عدد ځانته خپل خپل ځای ډکوي او په حذف سره یې مطلوبه نتیجه له منځه ځي.

د دې کتاب د لیکلو یو هدف دا و چې د ایټالیا د هغه وخت واکمن له سیاسي تېروتنو وژغوري او په ایټالیا کې د یوه مضبوط نظام د جوړولو لارې چارې په ګوته کړي. خو په دې کتاب کې شنل شوي او افاده شوي سیاسي مسایل دومره ژور، دقیق او پراخ وو چې نه یوازې د یوې واحدې ټولنې د واکمنو لپاره ښې لارښوونې وې، بلکې په ټوله نړۍ کې یې د سیاسي ستونزو ، کړکېچونو او ناروغیو د اوارې او د درملنې لپاره د ښو کاري نسخو کار هم ورکړ. په همدې وجه دا اثر د نړۍ په یو زیات شمېر سیاسي کړیو کې مشهور شو ، ان تردې چې یو شمېر سیاستوالو او سیاستپوهانو دا اثر په سیاسي چارو کې د یو شمېر ناعاطفي او جابرانه مسایلو ته د جواز په پلمه ناسم او د ولسواکۍ خلاف بللی .خو بیا هم هغه سیاستوال چې سیاست، اخلاق او عواطف سره بېلوي او سیاست یوازې د ګټو د ترلاسه کولو وسیله ګڼي او د اخلاقي ایډیالونو تابع یې نه ګڼي، دا اثر یو مهم تیوریک اثر ګڼي. د دې اثر یوه لویه ځانګړنه همدا ده چې تیورۍ او نظریات یې د زمان او مکان تابع نه دي. کله چې د هرې ټولنې یو سیاسي وګړی دا اثر په ځیرتیا سره لولي نو د خپلې ټولنې د ګڼو پېښو او ګڼو سیاسي کرکټرونو انځورونه په کې ګوري، سړی فکر کوي چې دا پېښې او دا کرکټرونه د دوی په ټولنه کې تېر شوي او ده په خپلو سترګو لیدلي دي. موږ چې کله د خپلې ټولنې سیاسي پېښې ګورو او په هغو کې بیا بېلابېل کرکټرونه مطالعه کوو او بیا دا کتاب ګورو ، نو فکر کوو چې

مکیاولي لکه چې دا کتاب د افغاني ټولنې لپاره لیکلی وي. مکیاولي چې د مختلفو واکمنو کوم مختلف خصوصیتونه په ګوته کړي او له هغو څخه راټوکېدلو پایلو ته یې اشاره کړې د هغو هره بېلګه په خپله ټولنه کې موندلی شو .
مکیاولي وايي: �ناوړین به ډېر لږ وخت لپاره د خلکو په ذهنو کې پاتې شي او ډېر کوچنی به بلل کېږي، خو که واکمن ژر تر ژره ځپلو شویو خلکو ته مرستې ورورسوي، دا مرستې به تر ډېره د خلکو په ذهن کې پاتې شي او له امله به یې د واکمن نوم په ډېر درنښت یادېږي�.د پورتنۍ جملې د عملي تطبیق بېلګه موږ په خپله ټولنه کې ګورو ؛ په کابل کې مختلفو تنظیمونو ډېره مرګ ژوبله وکړه او پر خلکو یې یو ستر ناوړین جوړ کړ، د همدې ناوړین په نتیجه کې د زیاتې شتمنۍ څښتنان شول، کله چې ناوړین پایته ورسېد ، همدا ناوړین وال اوس پر همغو خلکو د خپلې شتمنۍ په زور حکومت کوي او په پارلماني ټاکنو کې یې هم د همغې نامشروعې شتمنۍ په زور تر ټولو زیاتې رایې را خپلې کړې.
مکیاولي وايي: �سخاوت او زړه سوی واکمن د حقارت او کرکې خواته راکاږي�دلته له �سخاوت�څخه د مکیاولي مقصد هغه سخاوت دی چې واکمن یې یا له خپله جېبه او یاهم د بیت المال له کځوړې کوي، دا ډول سخاوت په پای کې واکمن له فقر څخه مخامخوي او کله چې یو واکمن د فقر مرحلې ته ورسېد په سخاوت بلد ولس بیا له فقیر واکمن څخه ملاتړ نه کوي. مکیاولي د یو واکمن لپاره تر حده زیات زړه سوی هم مضر بولي او وايي له هغه واکمن څخه چې خلک د وېرې احساس ونه کړي د هغه ملاتړ نه کوي. همدا نظر خوشال بابا هم ورکړی او وايي �حاکم چې قهر او مار چې ذهر ونه لري�مانا دا چې خپل جوهر او خصوصیت نه لري. مکیاولي هغه واکمن بریالی ګڼي چې له بېلا بېلو لارو له خلکو پانګه راټوله کړي او بېرته یې خلکو ته خیرات کړي، دا ډول سخاوت دوراني حرکت لري چې تمامی نه لري. نو ځکه واکمن ټول عمر د خلکو په زړونو کې محبوب پاتې کېږي. موږ پخپله ټولنه کې دا ډول ډېرې بېلګې لرو چې د خلکو د شتمنۍ لوټونکي او بېرته پر خلکو د هغې د یوې برخې مصرفونکي ته خلک ((ځوانمرد )) او ((ډوډۍ مار )) وايي او له ځانګړي درناوي څخه برخمن وي.
مکیاولي د دې پوښتنې په ځواب کې چې خلک باید له واکمن څخه وېره ولري او که هغه سره مینه، په ځواب کې وايي چې وېره تر مینې غوره ده. د ده په نظر له واکمن څخه وېره په ټولنه کې د سولې او ثبات سبب ګرځي او عامه شتمني په کې خوندي کېږي او له واکمن سره مینه یو اختیاري کار دی چې ورو ورو انارشۍ او ګډوډۍ ته لاره اواروي، له واکمن څخه د وېرې او له هغه سره د مینې بېلګې موږ په خپله ټولنه کې لرو .د امیر عبدالرحمٰن خان او سردار محمد داود خان شخصیتونه او حکومتونه هغه بېلګې دي چې خلکو ترې وېره احساسوله، نو ځکه په دې وخت کې عامه نظم ټینګ و. دا سې حکومتونه او واکمن چې خپل پرستېږ یې له لاسه ورکړی و او خلکو ترې وېره نه احساسوله ورورو په انارشۍ بدل شوي دي.
مکیاولي وايي: �څوک چې د نویو قوانینو او اصلاحاتو د پلي کولو مشري پر غاړه اخلي، په حقیقت کې د هغو خلکو دښمني پر غاړه اخلي چې په تېرو قوانینو کې سوکاله وو.�کله چې په افغانستان کې د هر نوي متمدن قانون د تطبیق لپاره هڅه شوې، دودیزوالو یې د خپلو ځاني ګټو له امله مخالفت کړی، غوره بېلګه یې د غازي امان اله خان اصلاحات وو چې ارتجاعي ځواکونو یې مخالفت وکړ .
مکیاولي وايي: �د بخت په زور حکومت ته رسېدل اسان دي خو د واکمنۍ ټینګول یې سخت دي.�د استاد کاندید اکاډیمیسن محمد صدیق په وینا افغانستان د استثناتو هېواد دی، دلته د سیاسي پېښو وړاندوینې نه کېږي، یانې ځینې سیاسي پېښې او شخصیتونه په استثنايي ډول رامنځته کېږي چې د خلکو سیاسي برخلیک ټاکي، که موږ خپله ټولنه د مکیاولي او استاد روهي په پورتنیو فومولو کې واچوو نو له پوره واقعیت سره به مخ شو. په افغانستان کې د سقاؤ د زوی واک ته رسېدل یوه استثنايي پېښه ځکه ګڼل کېدی شي چې داسې خلک هېڅ ډول تګلاره او فکر نه لري نو څنګه واک ته رسېدلی شي. دغه راز که په امریکې د سپتمبر د ۱۱مې نېټې پېښه نه وای رامنځته شوې، کېدی شي په افغانستان کې د لنډمهالي، منځمهالي او انتخابي حکومت په نامه او سني سیاسي اصلاحات اصلاً هېڅ رامنځته شوي نه وای. د بخت په زور واک ته رسېدلي خلک په رښتیا هم تر هغه وخته په واک کې وي چې بخت ورسره ملګری وي. ځکه دا ډول خلک تر واک د مخه او وروسته د واک د نیولو او ساتلو لپاره کوم دقیق پلان او ستراتیژي نه لري. مکیاولي د وینو څښونکو او هغو واکمنو په باب چې د برچې په زور حکومت کوي وايي: �څوک چې تل وینې تویوي، تل دې د ځان لپاره توره ولري. ځکه ولس پر ده او دی پر ولس باور نه کوي�موږ په افغانستان کې د داسې واکمنو بېلګې هم لیدلي چې ټول عمر یې د خپلې واکمنۍ لپاره له ځانه د توري د بوالونه تاؤ کړي او هرکله چې دا د بوالونه له منځه تللي، واکمني او واکمن هم له منځه تللي دي.
مکیاولي د سیاستوالو لپاره وړاندیز کوي او وايي چې د خپل حکومت بنسټ باید ټینګ جوړ کړي. دی د یوه مستحکم حکومت لپاره ښه قانون او ښې لښکرې اساسي عناصر بولي. دی اجېرې او مرستندویې لښکرې د یوه حکومت او واکمن

لپاره بې ګټې ګڼي، د مکیاوېلي په نظر �اجیرې او مرستندویه لښکرې د دښمن په وړاندې بې زړه وي، بې نظمه وي، د جنګ په وخت کې میدان پرېږدي او د سولې په وخت کې خزانه لوټوي� .
موږ په خپل وطن کې مرستندویې ((رابلل شوې او راغلې لښکرې))، اجیرې ملېشې او نورې ډول ډول لښکرې ولیدې چې یو ډول یې هم نه هېواد او نه هم هغه واکمن ته په ګټه تمامې شوې. ببرک کارمل پر شوري لښکرو ډډه لګوله خو یو وخت داسې راغی چې همدې شوروي لښکرو په پای کې له واکه څنډو ته کړ. ډاکتر نجیب اله د شمال پر بېلابېلو ملېشو ډډه لګوله، په پای کې پر هغه بر خلیک اخته شو .
مکیاوېلي واکمنو ته توصیه کوي چې �د ولس شتمني ته لاس ونه غځوي، ځکه خلک د پلار مړینه هېروي خو له پلاره ورپاتې شتمني یې له زړونو نه وځي.. �د پورتنۍ خبرې عملي بېلګې هم موږ په خپل هېواد کې ولیدې. په افغانستان کې ډېر مرګونه او ظلمونه وشول، زیاتره عامه زیانونه او ظلمونه د خلکو له یاده ووتل خو د نور محمد تره کي((۷)) او)) ۸ ((ګڼه فرمانونه چې د خلکو د شخصي ځمکې د وېش او ولور په باب صادر شوي و او دواړه د خلکو په شخصي ملکیت او ژوند انه کې د مداخلې ستر عاملونه ګڼل کېدل، تر اوسه پورې د خلکو له یاده نه دي وتلي او ان یو شمېر سیاستپوهان یې په افغانستان کې د بحران د اوږدېدو ستر لاملونه ګڼي.
د مکیاوېلي دا کتاب د سیاسي او ټولنیزو پېښو د شننې او تحلیل په باب ډېرې ژورې او پخې خبرې لري چې هره یوه یې د کاڼي کرښې ګڼل کېږي. د کتاب د ټولو خبرو د تحلیل او بحث پرځای به ښه دا وي چې خپله د کتاب اصل ته وروګرځو. په ټولیز ډول دومره ویلای شم لکه څنګه چې د حسابي معاملاتو د حل لپاره د ریاضي فورمولونو ته اړتیا ده، دغسې د دې کتاب محتویات د سیاسي ستونزو د شننې او حل لپاره د سیاسي فورمولونو په توګه کار کوي. هر څوک چې په سیاسي چارو او معاملو کې ګوتې وهي نو ورته بویه چې دا کتاب یو ځل ضرور ولولي.
ځوان او هڅاند لیکوال ښاغلی داود حبیبزی چې د هېواد د سیاسي او ټولنیزو پېښو د شننې او د هغو په باب د یوه غوره او دقیق دریځ نیونې ښه لېوال او مینه وال دی، په افغانستان کې د سیاستپوهنې د علمي اثارو کمښت ته متوجه شوی او د همدې تشې د ډکولو په نیت یې دا خورا مهم اثر له انګریزي څخه پښتو ته ژباړلی دی. دا اثر په خورا معیاري او کره پښتو ژباړل شوی او سړی یې له لوستلو ډېر خوند اخلي. په داسې حال کې چې زه د ښاغلي داود حبیبزي دا کار ستایم او دا په پښتو کې د ژباړل شویو اثارو په جمله کې له ژبني پلوه یو ښه پوره او کره کار ګڼم د کتاب د چاپ له امله ده او خپرندویې ټولنې ته مبارکي وایم. دغه راز له حبیبزي څخه هیله من یم چې د نورو دا ډول مهمو اثارو ژباړې ته هم ملا وتړي. که چېرې دا اثر د هېواد راتلونکي سیاستوال ولولي او له ګڼو سیاسي ستونزو څخه د یوې په حل کې هم ورسره مرستندوی شي او ستونزه په عادلانه ډول حل کړي نو حبیبزی صاحب به یې په ثواب کې شریک وي. د همداسې هیلې د برې په هیله.

په درناوي
اسمٰعیل یون
کابل پوهنتون
د ۱۳۸۵ل کال د لړم ۱۰مه

ددې کتاب منځپانګه د لوېديځې سياسي ګروهې اصلي وينا ګڼل کېږي. دنېکولو مکياوېلې دا اثر ((ټولواک)) د يادې شوې ګروهې په اړوند د پلټنې په موخه د نورو هغو تر منځ زيات کاريدونکی بلل کېږي. دا کتاب د ايټاليا د دولتي سيستم د له منځه تللو څخه وروسته د دولتي ادارې د بيارغاونې او د ټوټه شوې ايټاليا د يوالی او د زمکې د نقشې پر مخ يې د يوه هېواد په توګه د رامنځته کولو لپاره وليکل شو. ددې هېواد دولتي سيستم ځکه له يوې پېړۍ څخه د زيات وخت لپاره پر ملکوالطوايفۍ واوښت او وپاشل شو چې د څو ښارونو ((فلورېنس، وېنېس، ميلان او ناپل د سلطنت)) او د کليسا واکمنو له يو بل څخه ځان وچت ګاڼه. پادريانو د مذهبي ګروهې د لرونکو او پلې کونکو په توګه ځان تر نورو وچت ګاڼه او نورو واکمنو د سياسي او پوځي ځواک د ښو پلي کونکو په توګه ! خو کله کله د کليسا واکمن هم دې ته اړوتي دي چې پوځي ځواک په اغېزمنه توګه وکاروي. دوی به تل په دې هڅو لګيا وو چې د خپلو ولکه ييزو سيمو امنيت ګډوډ او له تاوتريخوالي ډک وساتي او يو له بل څخه سر پورته نه کړي. وېنېسيانو د فرانسې، د اسپانيا او اوتريش ځواکونه راوبلل چې د ايټاليا واک د وېنېس د وګړو لاس ته ورشي. دا رابلل شوي ځواکونه ډېر کمزوره او له جګړېزو ارونو لرې ساتل شوي وو خو ناڅاپه دا سرتېري بريالي وختل او د پنځه ايټالوي دولتونو د ټلوالې ځواک يې مات کړ .دا ځانپالنې او واکپالنې ددې لامل وګرځېدې چې ايټاليا د واکپالو ګاونډيو هېوادونو د پوځي او سياسي لاسوهنو په پايله کې ټوټه شي چې د ايټاليا واکمنو دخپل واک او ځواک د مرکزونو ولکه د لوېدو په حال کې وليده. نو نېکولو مکياوېلې دا کتاب د فلورېنس واکمن لورېنتسو دې مېديچي ته پر 1513 ز کال وليکه. په دې کتاب کې ښاغلي مکياوېلې هڅه وکړه چې د دې مېديچي له واکمنۍ سره دا مرسته وکړي چې نه يوازې په واک کې پاتې شي بلکې ټوله ايټاليا د بهرنيو ځواکونو له منګلو وژغوري.
په دې کتاب کې يوه داسې جمله شته چې وايي ((په ايټاليا کې د وحشيانو د ولکې تريخ خوند ګردو کتلی دی)). په وروستي څپرکي کې د ليکوال له خوا دا هڅه شوې ده چې لورېنتسو ته د وحشيانو له ولکې څخه د ايټاليا د ژغورنې سلا ورکړي.
که له دې کتاب څخه دا مانا واخلو چې د فلورېنس واکمن ((لورېنتسو دې مېديچي)) ته د ايټاليا د کورنيو چارو د سمون سلا او مشوره ورکړل شوې ده کېدی شي ډېره پر ځای خبره وي.
د کتاب په يو ځای کې په دې ټکي ټينګار شوی چې څه وخت ((په څه ډول شرايطو کې)) له وګړو سره په ترخه لهجه خبرې وشي او له فشار څخه کار واخيستل شي او يا څه وخت هغوی تېر ايستل شي لنډه يې دا چې دا کتاب د سياسي ډګر د لوبغاړو لپاره ډېر په زړه پوری دی او سياستوالو ته چلول او ددغې لوبې اصلي هنر ورښيي.
خو د کتاب ځينې نور سرليکونه د مکياوېلې د سياسي تجربو څرګندوی دي.
د مکياوېلې په اند روميان د هېواد په سياسي چارو کې ډېر پوه او هو ښيار خلک وو. ځکه هغوی به نه يوازې د خپل وخت د ګډوډيو د له منځه وړلو يا کرارولو فکر کاوۀ بلکې راتلونکې يې هم ارزاوۀ او غم يې مخکې له مخکې خوړ .
دوی به د ستونزو وړاندوېينه کوله له همدې امله يې اوارى هم ورته ساده کار وو.
همدا دليل به وو چې روميانو چاته پر هېواد د پوځي بريد موقعې نه ورکوله. روميانو ټينګه ګروهه درلوده چې جګړه د مخنيوي نه ده خو ځنډول يې په بشپړ ډول د دوی په زيان دي .
د ښاغلي مکياوېلې بله تجربه داده چې ټول زيانونه بايد له ځان سره وار له مخه وارزول شي او ګرد پر يو وخت ور ورسول شي. دی وايي چې دا ناورين به د ډېر لږ وخت لپاره د خلکو په ذهنونو کې پاتې شي او ډېر کوچنی به بلل کېږي خو که واکمن ژر تر ژره ځيل شويو خلکو ته مرستې وررسوي دا مرستې به تر ډېره د خلکو په ذهن کې پاتې شي او له امله به يې د واکمن نوم په ډېر درنښت ياد ېږي.
د ټولواک د ليکوال ټينګار دا دي چې سخاوت او زړه سوی واکمن د حقارت او د کرکې خوا ته راکاږي او دی وايي چې يو واکمن بايد ددوه ډوله ځناورو خويونه ولري: ((ددې لپاره چې ټولواک په څه ډول د ځناورو له خوی څخه په بشپړ ډول ګټه واخلي بايد د ځناورو له منځه د کيدړې او زمري ځانګړتياوې د لارې مشال وګرځوي. ځکه زمری تل په جال کې نښلي او ګيدړه له ليوانو ځان نشي ساتلی .نو د کيدړې خوی بايد ولري چې جال وپيژني او زمری وي چې ليوان وويروي. هغه څوک چې يوازې د زمري پر ځانګړنو ډډه وهي هوښيار نه دی((. .
د ټولواکو د پټو کړنو لپاره داسې يو مرکز نشته چې هلته سرې ورشي او د هغوی د کړنو او اعمالو په اړوند ځان خبر کړي او يا ترې معلو مات وغواړي، مکياوېلې همدې خبرې ته اشاره کوي او زياتوي چې خلک د ټولواکانو په ښکاره ((ظاهري))

کارونو بسنه کوي او پر پایله یې قضاوت کوي، خلک له دې خبر نه دي چې پاچا په پټه د هېواد د ګټو د خوندیتوب لپاره په ځه ډول کارونو اخته دی په بله وینا که یو واکمن کومه لاسته راوړنه ولري خلک یې ستایي او د سم لاسي ګټو لپاره یې خوښي کوي خو په دې نه پوهېږي چې واکمن پر کومو ماهرانه پریکړو یا وسایلو لاسته راوړې ده .

د ټولواک لیکوال سپارښتنه کوي پر ېردئ چې یو واکمن یې په خاوره کې واکمني ټینګه کړي خو دا خبره هم کوي چې که واکمن یې د خپلې واکمنۍ د ټینګښت او پراختیا لپاره له هر ډول وسایلو ځخه کار اخلي د ستاینې وړ دی.

یوه ډېره مهمه مسئله چې ښاغلي مکیاوېلي په دې اثر کې ځیړلې ده هغه له واکمن ځخه د ویرې او مینې مسئله ده،
مکیاوېلي وایي ښه داده چې له واکمن سره مینه هم وشي او ویره هم ترې وشي او وایي که له دې ځخه یو ونټاکو نو ښه داده چې ویره ترې وشي. ځکه دده په اند ویره سوله بیزه ده .

د مکیاوېلي استدلال دادی چې خلک نا شکره، اوښتونکي او غولېدونکي دي، له ګواښونو او خطر ځخه د ځان د خلاصون لپاره هڅه کوي، د ګټو په ورسولو خوشالېږي او ځوک چې ددوی لپاره ګټور وي هغوی یې ملاتړ کوي، په داسې یو واکمن دوی سر ورکوي، د خپلو زامنو، شتمنۍ او ان د خپلې وینې د ورکړې لپاره تیږ وهي خو چې خطر لرې وي. که خطر رانژدې شي او د جګړې د رامنځته کېدو شونتیاوې زیاتې شي او داسې وانګېرل شي چې ستا واک له ګواښ سره مخامخېدونکی دی نو دغه خلک بېرته پر تا راتاوېږي، مانا دا چې د ویرې حالت د ټولواک واک او ځواک ((عظمت او جلال ) ) ته په پام سره د خلکو تر منځ رامنځته کېږي خو مینه خلک په خپله خوښه کوي.

نو د مکیاوېلي په ګومان واکمن باید خپل دریځ داسې برابر کړي چې خلک ترې د ویرې احساس وکړي .

هوښیار ټولواک د مکیاوېلي په اند په خپلې ژمنې ولاړ پاتې کېدی نشي تل اوښتونکی وي.

که د یوې چارې تر سره کول د هغه په زیان وي او یا د ځینو لاملونو له مخې ژمنه ورکړي، د وخت په تېریدو سره که هغه حالت چې واکمن یې د ژمنې ورکولو ته اړویستلی و شتون ونه لري، ښه داده چې ځان غلی کړي او داسې وګڼي چې ده له هیڅا سره ژمنه نه ده کړې. ځکه هغه څه چې نوموړی یې دې کار ته اړ کړی وۀ نور نه دي پاتې او یا د خلکو له ذهنه وتلي دي .

دا خو ښه ده چې سړی زړه سواندی، وفادار، مذهبي، پرهیزګاره او عادل وي خو د مکیاوېلي په باور سړی باید چمتو اووسي چې که یوه ورځ ددې ځانګړتیاو مخالفو کړنو ته اړتیا پیدا شي په اسانۍ وکولی شي چې خپل یې کړي یانې غوره یې کړي.

دی دغه مسئله په دې بېلګه کې روښانه کوي ((نه شم کولی له یوې اوس مهالې ببلګې ځخه تېر شم: شپږم پاپ الکساندر په خپل ټول عمر کې د خلکو له تېرایستلو پرته د بل څه نیت نه درلود او له دې امله هغه سادګان چې تېروتلو ته چمتو ؤ، په چاپېریال کې یې ډېر پیدا کېدل. هېڅا د هغه هومره پر قسم پیاوړې شوې ژمنې نه ورکولې او نه ځوک د هغه په څېر د ژمنو د ساتلو مینه وال ښکارېدل. خو څرنګه چې هغه د بشر فطرت په ښه ډول پېژندلی و، ټولې تېرایستنې او له ژمنو ځخه سرغړونې د هغه له هیلو سره سمې بریالۍ کېدې.

له دې کبله، یوه واکمن لپاره د ښو ځانګړنو لرل چندان مهم نه دي. اړینه دا ده چې د دې ځانګړنو د تش په نامه ښودلو فن یې په ښه توګه زده وي. په جرئت ویلی شم که هغه په رښتینې توګه د ښو ځانګړنو خاوند وي او پر هغو عمل وکړي په زیان یې تمامېږي، خو د دې ځانګړنو تش په نامه ښودل یا نه لرل یې ورته ګټور دي. د ببلګې په توګه: ډېره ښه ده چې سړی زړه سواندی، وفادار، خواخوږی، عادل، پر مذهب ولاړ ځان وښیي او په باطن کې هم همداسې وي، خو د سړي فکر باید داسې عیار وي چې که چېرې یوه ورځ د دې ځانګړنو متضادې لارې خپلولو ته اړتیا پیدا شي نو په اسانۍ وکولی شي چې له سړیتوب ځخه د ځناور خوی ته واوړي(( .

یو ټولواک څه وخت او په کومو شرایطو کې د ولس له کرکې سره مخامخ کېږي .دا مسئله په دې توګه ښاغلي مکیاوېلي راخیستې ده.

))لکه چې وویل شول یو ټولواک پر هر څه سربېره په دې له کرکې او نفرت سره مخ کېږي چې لوټ ماري کوي او د خپل ولس شتمنۍ او ناموس ته لاس غځوي. تر نورو ټولو لارو له دې لارې په ځانګړې ډول ډېر له کرکې سره مخامخ کېږي، چې باید له دواړو ځخه ځان وساتي.

خلک داسې دي چې کله یې ځوک شتمنۍ او ناموس ته لاس نه وراوږدوي، ځانونه خوښ او سوکاله ګڼي او ټولواک اړ دی چې یوازې د ځو کسانو له ځانپالنې سره سیالي وکړي، چې د هغوی مخنیوی به هم بېلابېلې لارې ور اسانه کړي.

یو ټولواک هغه وخت حقیر او د کرکې وړ شمېرل کېږي چې بې ثباته، سپک، ښځنئ، تنګ نظری، بې تکله او په جدیت نه ولاړ وګڼل شي ((.

ډېر ځلې د هېواد د پرمختګ، ساتنې او هوساینې لپاره دې ته اړتیا شته چې ټولواک ځینې شیان وزغمي او ترې تېر شي، یو ټولواک هغه وخت ښه نوم ګټي چې رښتنی ملګری وګڼل شي او یا یو هوښیار دښمن ځان وښیي یانې که دوه ګاونډي هېوادونه یې په جګړه اخته وي، دی باید بې پرې ((بې طرفه)) پاتې نه شي، د جګړې له یوې لوري سره باید ودرېږي، ځکه که ستا دوه غښتلي ګاونډیان په خپلو کې پر جګړه اخته وي، یا به له ګټونکي څخه ویره لرې یا به یې نه لرې خو په دواړو حالاتو کې تا ته دا ښه ده چې له یوه سره ودرېږې او له بلې خوا سره عملا پر جګړه لاس پورې کړې.
مکیاوېلي په خپل کتاب ((ټولواک)) کې دا هر څه رانغښتي دي او دا هم وایي چې که یو واکمن په پوره زړه ورتیا د جګړې له یو لوري سره ودرېږي که هغه یو غښتلی او ځواکمن هېواد وي او په جګړه کې یې بری په برخه شي نو تل به دغه واکمن د هغه د نږدې ملګري په توګه پاتې وي او له مهربانۍ او مرستې څخه به یې برخمن وي. ځکه هغه هېواد یې ځان د احسان پوروړی ګڼي، په همدې ترڅ کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ملګرتیا اړیکې ټینګېږي که دغه هېواد جګړه هم بایلي خو تل به د مرسته کونکي واکمن هرکلی کوي او خپله وس به د هغه په مرسته کې کاروي.
که دواړه ګاونډیان د وېرې وړ هم نه وي، ښه داده چې ته بې طرفه پاتې نه شې ځکه ته له یوه سره د بل په له منځه وړلو کې مرسته کوې که هغه هېواد چې ته یې په جګړه کې مرسته کوې ستا په مټ بری ترلاسه کړي، هغه هېواد په یو ډول نه یو ډول ستا په اختیار کې لوېږي.
پر یو هېواد د برید لپاره اړینه ده چې واکمن باید له غښتلي او ځواکمن هېواد سره د ټلوالې له رامنځته کولو ډډه وکړي. ځکه د مکیاوېلي په ګومان مرسته غوښتونکی هېواد بیا د ځواکمن هېواد په لومه کې لوېږي .
مکیاوېلي دا خبره په ډاګه کوي چې د یو هېواد واکمن باید د کمزورو هېوادونو خواخوږی وي او ځواکمن هېوادونه باید وټکوي او په وړاندې یې پرېکنده دریځ ولري، یو واکمن هغه وخت حقیر ګڼل کېږي چې غوڅ دریځ ونه لري او ګړی په ګړی یې بدلوي رابدلوي.
واکمن ((ولسمشر، ټولواک)) چې یوه پرېکړه کوي دا یې باید ارو مرو اټکل کړې وي چې پرېکړه یې څومره په زیان ده په دې لړ کې باید هغه تګلاره غوره کړي چې زیان یې ډېر لږ وي.
په دې کتاب کې ډېره مهمه مسئله چې ښاغلي مکیاوېلي څېړلې ده د چاپلوسانو موضوع ده چې څه ډول د هېواد واکمن له کورنیو مسایلو څخه نا خبره ساتي.
د واکمن زیات سلاکاران د دې پر ځای چې د هېواد مشر ته په اړوندو مسایلو کې ښې مشورې ورکړي په دندو کې د پاتې کېدو لپاره هغه ته چاپلوسي کوي او د حقیقت پر ځای هغه څه ورته یادوي چې فکر کوي واکمن پرې خوشالېږي.
مکیاوېلي سپارښتنه کوي چې د سلاکارانو په ټاکنه کې باید له ډېر دقت څخه کار واخیستل شي.
دوی فکر کوي چې واکمن ته که رښتیا ووایي د هغه غوصه به راوپارېږي او دا کار به دده دندې ته زیان واړوي. دا ډول سلاکاران چې مکیاوېلي ترې یادونه کړې د یو نوي دولت د اداري سیستم د ټینګښت پر ځای د هغه ریښې پرې کوي او ولس د هېواد له مشر څخه نهیلی او خپه کوي .
زما په ګومان د دغه ډول اثارو ژباړه په ځانګړې توګه په اوسني افغانستان کې مهمه ده. افغانان اوس یو ځل بیا د اداري او حکومت جوړولو هڅه کوي. کیدای شي د ((ټولواک)) ځینې برخې په اوسنۍ نړۍ کې کټ مټ عملي نه وي خو د پښتو ببلګې یې په نوې بڼه اوس هم لیدل کېږي د هغو په وړاندې د مناسب غبرګون لپاره د مکیاوېلي اثر ښایي ګټور وي.
خو یوه بله خبر هم چې ډېره زیاته مهمه ده هغه داده چې افغاني ټولنې ته ددې اثر ژباړې دا ځواک ورکړې چې سیاستوال، د سیاست مینه وال او سیاسي څېړونکي یې په خپلو پلټنو او څېړنو کې ترګردو نوماند او زیات کاربدونکي سیاسي اثر په توګه ولري او لږ تر لږه په دې پوهه شي چې سیاست یانې څه؟

حنان حبیبزی
د مزار شریف ښار

۱۱،۰۱،۰۲

## د ليکوال پېژندنه

نېکولو مکياوېلي د 1469ز کال د مې د مياشتې پر دريېمه نېټه په فلورېنس کې زېږېدلی دی. هغه د برنارډو دي نېکولو مکياوېلي Bernardo di Nicolo Machiavelli دويم زوی دی. پلار يې يو وتلی او منلی قانونپوه او د قضاوت په دنده بوخت و. مور يې بارتولوميا دي ستېيفانو نيلي Bartolommea di Steafano Nelli نومېده او هغوی دواړه د پخواني فلورېنس له اشرافيانو څخه وو.

اصلاً د نوموړي ژوند په درې دورو وېشل شوی چې هره دوره يې په يو ازې سر د فلورېنس په تاريخ کې يوه څرګنده او ارزښتناکه دوره شمېرل کېږي.

د هغه د ځوانی دوره د اعليحضرت لورينتسو تر واکمنۍ او مشرۍ لاندې د فلورېنس له سترتوب سره يوځای تېره شوې ده چې په ايټاليا کې يې د يو ستر زبرځواک حيثيت درلود.

په فلورېنس کې د مېديچيانو واکمني په 1494ز کال راوپرځېده او مکياوېلي په همدې کال کې په سياسي خدمت بوخت شو. د ماموريت پر مهال يې فلورېنس تر يو جمهوري حکومت لاندې خپلواک و، چې دغې اداري تر 1512ز کاله پورې دوام وکړ او په 1512ز کال کې مېديچيان بيا واک ته ورسېدل او مکياوېلي خپله دنده له لاسه ورکړه. مېديچيانو په دويم پېر کې له 1512ز کال څخه تر 1527ز پورې حکومت وکړ او يو ځل بيا راوپرځول شول، چې دا وخت د مکياوېلي د ادبي فعاليت او زيات نفوذ پېر شمېرل کېږي. خو هغه د مېديچيانو تر دويم ځل ايستلو وروسته د 1527ز کال د جون پر 22مه نېټه، د 58 کلونو په عمر، پرته له دې چې خپله دنده بېرته ترلاسه کړي، له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

د زلميتوب دوره 94-1469-25-1:

که څه هم د مکياوېلي د زلميتوب په اړه دومره څه نه دي ويل شوي، خو فلورېنس په دغو ورځو کې دومره مشهور و چې کولی شو د دې نوميالي او وتلي ښاري مخکنی چاپېريال په اسانۍ نظر ته راولو.

فلورېنس يو داسې ښار بلل شوی چې دوه ډوله تولواکيو پرې واکمني کړې ده؛ يو ډول يې د يوه توندخويه واکمن ساوونارولا Savonarola تر مشرۍ لاندې او بل ډول يې د ښکلا او برم مينه وال لورينتسو Lorenzo تر مشرۍ لاندې تېره شوې ده. که څه هم ساوونارولا يو ځل د فلورېنس پر خاوره ډېره اوږده واکمني درلوده، خو پر مکياوېلي يې اغېز ډېر لږ و او په دې کتاب کې يوازې د يوې بېلګې په توګه ورته پکار شوی دی. خو د لورينتسو د واکمنۍ پر مهال د مېديچيانو شان او شوکت مکياوېلي په کلکه اغېزمن کړی و. ځکه هغه په خپلو ليکنو کې د دې واکمن زياته يادونه کړې او دا هم د لورينتسو لمسی و چې مکياوېلي خپل کتاب تولواک ورته ډالۍ کړی دی.

مکياوېلي په خپل اثر ((د فلورېنس تاريخ ((the History of Florence کې د يو شمېر زلميانو ژوند انځور کړی، چې د زلميتوب دوره يې ورسره تېره کړې ده. هغه ليکي چې هغوی د جامو په اغوستلو او د ژوند په تېرولو کې تر خپلو نيکونو ډېر خپلواک و. خپل وخت يې په لوبو او پيسې يې بېځايه پر ښځو لګولې، د هغوی بنسټيز هدف دا و چې وښيي تر ټولو ښې جامې يې پر ځان دي. هغوی به په ډېر هنر غږېدل او پر يو- بل يې ټوکې ټکالې کولې. د هغوی په منځ کې چې به چا پر نورو مسخرې وکړې او هغه به يې سپک کړ، تر ټولو هوښيار به بلل کېده.

مکياوېلي خپل زوی ګيډو Guido ته په يو ليک کې څرګندوي چې ولې بايد زلميان د خپل ليک- لوست له لرلي فرصت څخه پوره ګټه پورته کړي او موږ دې پايلې ته رسوي چې مکياوېلي پخپل زلميتوب کې ډېر بوخت و.

هغه کاږي چې ما ستا ليک ترلاسه کړ، ډېر خوښ يم، په تېره بيا چې ته روغ-رمټ يې او زما لپاره تر دې بل ښه زېری نه شته. که پاک خدای موږ دواړو ته ژوند راکړی و، زه به له تا يو ډېر اوچت شخصيت جوړ کړم، خو په دې شرط چې ته دې خپله ونډه ترسره کړې.

بيا يې په يوې نوې خبرې تشويقوي او کاږي چې دا به ستا لپاره ښه وي، خو اړينه دا ده چې لوست وکړې او د دې لپاره چې له ناروغۍ د تل لپاره خلاص شې، د ليک- لوست او موسيقۍ د زده کړې دردونه او ستونزې پر ځان تېرې کړه. ځکه که ته ماته وګورې، د يو ډېر بې ارزښته مهارت په لرلو زما څومره درناوی کېږي.

زويه! که غواړې چې ما له ځانه خوښ وساتې، ځانته برياوې او وياړ وګټې، تل رښتينی اوسه او زده کړه وکړه. ځکه نور خلک به هغه وخت ستا مرستې ته تيار وي چې ته د خپل ځان مرسته وکړې.

د سياسي ژوند دوره 1512-1494-43-25:

د مکياوېلي د ژوند دويم پړ د فلورېنس د خپلواک جمهوريت په چوپړ کې تېر شوی، چې په 1494ز کال کې د مېډيچيانو له راپرځېدو څخه تر 1512ز کاله پورې، چې د هغوی د بيا راتګ کال دی، دوام وکړ.

مکياوېلي په يوه دولتي اداره کې تر څلور کاله خدمت وروسته د فلورېنس د جمهوري دولت د خپلواکۍ او سولې د لس کسيزې شورا د دارالانشا مشر وټاکل شو او هغه په دې وخت کې د جمهوريت د چارو په پر مخ بېولو کې ډېره ونډه درلوده او په دې اړه موږ د هغه ګڼ شمېر فرمانونه، لاسوندونه، صادره او وارده سياسي مکتوبونه او د هغه خپلې ليکنې لرو، هغه زيات شمېر مهم سياسي ماموريتونه ترسره کړي او د فلورېنس د ملي لښکرو په جوړولو کې يې زياتې هلې ځلې کړي دي. د هغه لومړی ماموريت په 1499ز کال کې د کاترينا سفورتسا Catherina Sforza دربار ته و، چې په ټولواک کې يې د My lady of Forli په نامه ياده کړې او د هغې له چلند څخه يې زده کړل چې پر کلاګانو له ډېر و هلو څخه ښه دا ده چې سړی د ملت اعتبار ترلاسه کړي، چې دا د مکياوېلي يو له مهمو اصولو څخه و او په مختلفو لارو يې پر دې ټکي ټينګار کړی دی، او ښوولې يې ده چې دا موضوع د ټولواکو لپاره حياتي ارزښت لري.

په 1500ز کال کې د پيزا پر ښار د جګړې د دوام په اړه د خبرو اترو لپاره د فرانسې د پاچا دوولسم لوېي دربار ته لاړ او دا هغه پاچا دی چې په ايټاليا کې يې پنځه سترې تېروتنې کړې وې او په پای کې له ايټاليا څخه بهر وشړل شو، چې په ټولواک کې يې په لنډه توګه يادونه شوې ده.

د مکياوېلي د سياسي ژوند ډېره برخه پر هغو پېښو بوخته وه چې د شپږم پاپ الکساندر او د هغه د زوی سيزار بورجيا Cesar Borgia (( ډيوک ولنتينو )) له ځانپالنې او واکپالنې څخه رامنځته کېدې او د همدې دواړو اعمال د ټولواک زياته برخه جوړوي.

مکياوېلي يو نيواکګر ته چې غواړي يو هېواد تر نيولو وروسته پخپله ولکه کې وساتي د ډيوک اعمال د تقليد لپاره وړاندې کوي. بې له شکه هغه د ډيوک د اعمالو له ښېګڼې څخه پرته د تقليد لپاره بله ښه بېلګه نه شوه پيدا کولی. له دې کبله د ځينو ګوت نيوونکو له خوا سيزار بورجيا د ټولواک اتل بلل شوی دی. خو ډيوک په ټولواک کې د يوې داسې څېرې په توګه ښودل شوی چې د نورو د بخت په راختلو ټولواکۍ ته رسېږي او د هغوی د بخت په پرېوتو راپرځېږي. يوه داسې څېره چې ټول هغه تدابير يې ونيول چې له يو هوښيار واکمن څخه يې تمه کېده، پرته له هغه يوه څخه چې هغه يې بايد ژرغولی وی. چا چې د هرې کېدونې ناوړه پېښې لپاره تياری نيولی و، پرته له هغې يوې چې پېښه شوه. داسې څېره چې کله يې ټول توان له کاره لوېږي، په جګ غږ وايي چې دا د هغه ګناه نه وه بلکې له وسه پورته او داسې ويرناکه پېښه وه چې هغه يې وړاندوينه نه وه کړې.

په 1503ز کال کې د دريم پيوس Pius III يا پاپ الکساندر د مړينې پر مهال مکياوېلي روم ته واستول شو، چې د هغه د ځايناستي ټاکنه وګوري او هلته د سيزار بورجيا په تېروتنه پوه شو چې د کارډينالانو ډلې ته يې د دې اجازه ورکړې وه چې دويم جوليوس د پاپ په توګه وټاکي.

پاپ جوليوس د هغو کارډينالانو له ډلې څخه و چې سيزار بورجيا ته يې د وېرې اسباب برابرولی شول. مکياوېلي په داسې حال کې چې پر دې ټاکنه تبصره کوي، وايي: �څوک چې په دې عقيده دي، چې نوې ښېګڼې او مرستې به له سترو او نامتو شخصيتونو څخه پخواني زيانونه هېر کړي، ځان تېرباسي�. او دا هم پاپ جوليوس و چې په 1506ز کال کې يې دربار ته مکياوېلي واستول شو، کله چې پاپ پر بولونا خپل جګړه ييز عمليات پيل کول، او ددې عملياتو پايله يې هم هماغسې برياليۍ وخته. لکه د هغه نورې کارنامې چې د هغه د چټکۍ او بې پروايۍ له امله برياليۍ ختلې. مکياوېلي د همدې پاپ جوليوس په حواله بخت له ښځې سره تشبيه کړی او زياته کړې يې ده چې يوازې زړور او توند سړی کولی شي پر دواړو برلاسی شي .

که څه هم ممکنه نه ده چې د ايټالوي دولتونو مختلف برخليکونه دلته وڅېړو، چې په پايله کې يې په کال 1507ز کې د فرانسې، اسپانيا او جرمني تر لاس لاندې راغلي ول. خو موږ غواړو دلته يوازې د هغو پېښو او دريو سترو لوبغاړو په اړه خبرې وکړو، چې د مکياوېلي پر شخصيت يې اغېزه لرلې ده. هغه د فرانسې له پاچا دوولسم لوېي سره بې شمېره کتنې کړې، چې مخکې مو ورته نغوته وکړه.

مکياوېلي د اراګون فرديناند د يو داسې شخصيت په بڼه انځوروي چې د مذهب تر نقاب لاندې يې سترې کارنامې ترسره کړې، خو په حقيقت کې يې رحم، وفا، خواخوږي، انسانيت، سپېڅلتوب او ايمانداري نه درلوده او که د دې ځانګړنو تر اغېز لاندې راغلی وی، نو راپرځېدلی به وی.

امپراتور ماکسیمیلیان Maximilian چې د خپل پېر له په زړه پورې څېرو څخه یو و ، شخصیت او مقام یې ډېرو لاسونو انځور کړی دی، خو مکیاوېلي چې په کال8-1507ز کې د هغه دربار ته د سفیر یا ځانګړي سیاسي استازي په توګه تللی و ، د هغه ډېرې نیمګړتیاوې او عیبونه په ډاګه کوي او د یو ضعیف الاراده شخصیت په توګه یې معرفي کوي. یو داسې شخصیت، چې د نورو په وکالت د خپلو طرحو عملي کول، له نظره غورځوي او د خپلو هیلو په ترسره کولو کې دومره ټینګار نه کوي.
د مکیاوېلي د ماموریت پاتې کلونه په هغو پېښو بشپړېږي، چې د کامبرې له تړون څخه راپورته شوي دي. دا تړون په کال 1508ز کې د پاپ او درېیو اروپایي زبرځواکونو تر منځ، چې پورته یې یادونه شوې، لاسلیک شو ، چې موخه یې د وېنېسانو د جمهوریت راپرځول و او د ویلا Vaila په جګړه کې دې موخې ته ورسېدل. هغه وخت چې وېنېسانو ټولې هغه سیمې په یوه ورځ له لاسه ورکړې، چې په اتو سوو کلونو کې یې ترلاسه کړې وې. په دې وخت کې فلورېنسیانو ته یو سخت رول ورپه غاړه و. کله چې یې د داسې تربګنۍ او دښمنۍ پر غاړه شتون درلود چې د پاپ او فرانسې تر منځ راپورته شوه .ځکه فرانسې په دې ملګرتیا کې د فلورېنس د جمهوریت د ټولو تګلارو پلي کول پر غاړه اخیستي و.
کله چې په 1511ز کال کې دویم پاپ جولیوس د فرانسې په وړاندې سپېڅلی تړون جوړ کړ او د سویسیانو په مرسته یې فرانسویان له ایټالیا څخه بهر کړل، فلورېنس د پاپ په واک کې ولوېد او اړ و چې د پاپ شرایط ومني، چې له دې شرایطو څخه یو د مېډیچیانو بیا واک ته رسېدل و.
د 1512ز کال د سپټمبر پر درېیمه د مېډیچیانو بیاراتګ او د جمهوریت راپرځېدنه، له دندو څخه د مکیاوېلي او د هغه د ملګرو د ګوښه کېدو یوه نښه وه او په دې توګه د هغه سیاسي ژوند پای ته ورسېد. ځکه لکه څنګه چې څرګنده ده، هغه پرته له دې چې خپله دنده بېرته ترلاسه کړي ومړ.
لیکنې او مړینه:43-58-1512-27
مکیاوېلي د مېډیچیانو له راتګ سره سم د یو څو اوونیو لپاره په دې تمه پاتې شو ، چې د نوي واکمن په اداره کې به خپله څوکۍ بېرته ترلاسه کړي. خو دا هیله یې ترسره نه شوه او د 1512ز کال د نومبر پر اوومه د یو فرمان په ترڅ کې له دندې ګوښه شو. لنډ مهال وروسته د مېډیچیانو په وړاندې په یوه دسیسه کې د لاس لرلو په تور بندي شو ، چې د شکنجو په ورکولو یې تر پوښتنو لاندې ونیو.
نوي مېډیچي پاپ لسم لیو Leo x هغه له بند څخه خلاص کړ او خپلې کوچنۍ شتمنۍ ته چې فلورېنس ته نژدې په سان کاسیانو San Casciano کې پرته وه لاړ او هلته یې خپل ژوند لیکوالۍ ته ورکړ.
فرانسیسکو ویټوري Francessco Vettori ته په یوه لیک کې چې د 1513ز کال د ډسمبر پر دیارلسمه نېټه یې لیکلی، په دې پېر کې یې د خپل ژوند په اړه ډېرې په زړه پورې څرګندونې کړې، چې موږ ته د ټولواک د لیکلو په اړه د هغه مېتود او انګېرنې بیانوي.
وروسته تر دې چې له کورنۍ او ګاونډیانو سره خپلې بوختیاوې بیانوي، کاږي چې: کله چې شپه خپل تور ځادر راغوړوي، زه کور ته راګرځم او د خپلې مطالعې خونې ته ځم، په ننوتځي کې د کروندګر جامې، چې ګرد او چټلۍ پوښلې وي، له ځانه لیرې کوم، د درباري اشرافیانو جامې اغوندم او چې کله بیا په جامو کې پټ شم، د پخوانیو څېرو لرغوني دربار ته ورتېرېږم او هلته د هغوی له خوا په مینه منل کېږم، هلته هغه خواړه خورم چې زما لپاره ځانګړي شوي. په دې ځای کې زه له هغوی سره د خبرو په کولو کې زړه نه وهم چې د هغوی د اعمالو لاملونه تري وپوښتم. هغوی ما ته په ورین تندي او لورېینه د دې پوښتنو ځوابونه راکوي، چې زه د څلورو ساعتونو لپاره د هېڅ ډول ستومانۍ احساس نه کوم، ټول دردونه هېروم، فقر ما نه مایوسه کوي، له مړینې څخه نه وېرېږم. ځکه زه په بشپړه توګه د دغو سترو څېرو په واک کې یم.
ما ټول هغه څه لیکلي چې د هغوی له خبرو مې اخیستي او د سلطنتونو په اړه مې یو کوچنی کتاب برابر کړی دی. د دې موضوع په اړه هومره پراخ غږېدلی یم، څومره چې زما فکر رسېږي او څېړلي مې دي چې سلطنت څه دی، څو ډوله دی، په څه ډول رامنځته کېږي، په څه ډول ساتل کېږي او ولې له لاسه ځي؟؟...
که زما کوم تخیل تاسو خوشالوي، باید دا یو مو هم زړه دربد نه کړي او یو ټولواک، په تېره بیا نوی هغه یې باید تل هرکلی وکړي. له همدې امله یې د سترتوب او جلال خاوند ګلیانو Guiliano ته ډالۍ کوم. فلیپو کاساویکیو Flippo Casavichio دا کتاب له وړاندې کتلی، هغه کولی شي تاسو ته ووایي چې په دې کتاب کې څه دي او په دې اړه مې له هغه سره بحثونه درلودل، خو غواړم لړ نور یې هم پر ادبیاتو برابر او ښه ای کړم.
مخکې تر دې چې دا کوچنی کتاب هغه ښه غوره کړي، چې زموږ په لاس کې دی، ډېر بدلونونه په کې راغلل او ګڼ شمېر

فکري متنفذين د دې کتاب د جوړښت او ترتيب لپاره په کار بوخت ول.
د دې کتاب سرليک او هغه چاته چې بايد ډالۍ شوی وی، بدل شول او په پای کې د ناڅرګند لامل له مخې لورينتسو دي مېډيچي Lorenzo de Medici ته ډالۍ شو. په ځينو کتابونو کې راغلي چې ګلياتو دي مېډيچي په 1516ز کال کې د يوې د سيسې په ترځ کې ووژل شو ، له همدې امله لورينتسو ته ډالۍ شو. که څه هم مکياوېلي له کاساويکيو سره په دې اړه خبرې کړې وې، چې دا کتاب بايد ورولېږي او يا يې په خپله هغه چاته ورکړي چې ورته ډالۍ کوي يې. خو تر اوسه لا داسې شواهد نه دي موندل شوي چې لورينتسو به کله دا کتاب ترلاسه کړی او يا به يې لوستی وي. خو هغه مکياوېلي ته خپله ځوکۍ بېرته ورنه کړه. که څه هم د هغه د ژوندون پر مهال د دې کتاب نظريې او ليکنې نورو په خپل نامه تېرې کړې وې، خو ټولواک د مکياوېلي په وسيله نه و چاپ شوی، ځکه يې متن تر مناقشې لاندې و. مکياوېلي ويټوري ته په خپل ليک کې زياتوي چې که دا کوچنی کتاب څوک ولولي، نو ورته جوته به شي چې په دې تېرو پنځلسو کلونو کې، چې ما د سياست په مطالعه کې تېر کړي، نه مې خوب کړی او نه مې وخت بېځايه تېر کړی دی، چې يو ځل خلکو ته بيا د يو داسې شخصيت په توګه خدمت وکړم، چې د نورو په لګښت يې تجربه ترلاسه کړې او زما په وفا کې هېڅ شک نه شته. ځکه څرنګه چې مې تل وفا کړې او پر ژمنه درېدلی يم، زده مې نه دي چې څنګه يې مات کړم. ځکه څوک چې زما په څېر رښتينی او وفادار وي، خپل طبيعت ته بدلون نه شي ورکولی او زما ننۍ بېوزلي زما پر رښتنولۍ شاهدي ورکوي.
مخکې تر دې چې ټولواک پای ته ورسوي، مکياوېلي د يو بل کتاب ((د ټيټوس ليويس د تاريخ د لسو لومړيو ټوکونو په اړه بحثونه ((Discourses on the first decade of Titus Livius))په ليکلو پيل وکړ، چې ټولواک هم د دې کتاب د موضوع يوه برخه ده. دې او بې شمېره نورو کوچنيو کتابونو هغه تر 1518ز کاله پورې بوخت وساته، چې تر دې وروسته يې د يو کوچني کميسيون مشري پر غاړه واخيسته ترڅو په جنوا Genoa کې د فلورېنسي سوداګرو چارې تر څارنې لاندې ونيسي.
په 1519ز کال کې مېډيچي چارواکو د فلورېنس اوسېدونکو ته يو څه سياسي امتيازات ورکړل چې له مکياوېلي او يو شمېر نورو څخه يې د يوه نوي اساسي قانون د جوړولو لپاره سلا- مشورې واخيستلې، چې تر دې قانون لاندې يوه لويه جرګه Great Councilرامنځته کړې، خو په دې او هغې پلمې يې رسمي بڼه ورنه کړه. په 1520ز کال کې فلورېنسي سوداګر يو ځل بيا مکياوېلي ته راوګرځېدل چې له لوکا Lucca سره د هغوی ستونزې اوارې کړي. 1520 د فلورېنس ادبي ټولنې ته د مکياوېلي د بيا ورداخلېدو له کبله د يادونې وړ کال دی او په دې وخت کې ټولو د هغه شتون حس کاوه. همدارنګه د هغه بل کتاب �د جګړې هنر� Art of war لپاره يې هم اړتيا ورته درلوده. همداراز هغه په دې کال کې د کارډينال دي مېډيچي په غوښتنه د يو بل کميسيون مشري پر غاړه واخيسته چې �د فلورېنس تاريخ� the History of Florence وليکي او دې کار هغه تر 1525ز کاله پورې بوخت وساته. کېدی شي د مکياوېلي په وړاندې د خلکو مينې او علاقې مېډيچيان دې ته چمتو کړي وي چې هغه په دې دنده بوخت کړي، ځکه يو لرغونی ليکوال په دې نظر دی چې يو وړ سياستپوه له دندې پرته د يو ستر کب مثال لري، چې که يې په يوې تشې جالۍ پسې په ټوپ وهلو بوخت ونه ساتئ، نو هڅه به وکړي چې بېړۍ واړوي.
کله چې �د فلورېنس تاريخ�بشپړ شو ، مکياوېلي دغه کتاب روم ته له ځان سره يووړ، چې ګلياتو دي مېډيچي ته، چې په دې ورځو کې د دويم کلمينټ Clement II تر لقب لاندې پاپ وټاکل شو ، ډالۍ کړي. د تعجب وړ ده چې مکياوېلي په 1513ز کال کې ټولواک د مېډيچيانو د لاربښوونې لپاره هغوی ته په داسې حال کې ډالۍ کړ، چې هغوی په فلورېنس کې نوي واک ته رسېدلي ول او په 1525ز کال کې يې د فلورېنس تاريخ د دې کورنۍ مشر ته په داسې حال کې ډالۍ کړ ، چې را پرځېدل يې نږدې شوي وو او په همدې کال کې د پيويا Pavia جګړې په ايټاليا کې د فرانسې واکمنې له منځه يووړه او لومړی فرانسيس يې د بنديوان په توګه د خپل ستر سيال پنځم شارل په لاس کې پرېښود ، چې دا کار د روم د لوټ او تالان سبب شو او د دې خبرې په اورېدو د فلورېنس ولسي ګوند مېډيچيان راوپرځول او بيا يې له هېواده وشړل.
مکياوېلي چې په دې وخت کې له فلورېنس څخه بهر و ، په چټکۍ بېرته راوګرځېد ، چې خپله پخوانۍ څوکۍ، چې هماغه د خپلواکۍ او سولې د لس کسيزې شورا د دارالانشا مشري وه، ترلاسه کړي. خو له بده مرغه فلورېنس ته تر رارسېدو لنډ مهال وروسته ناروغ شو ، چې بيا وروسته د 1527ز کال د جون پر 22مه نېټه يې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې. که څه هم څوک نه پوهېږي چې د مکياوېلي هډونه به چېرته پراته وي، خو فلورېنس هغه ته د سانتاکروس Santa Croce په کليسا کې يو ستر او مجلل منار جوړ کړی او د خپل دې نامتو زوی په څنګ کې يې د دې اعتراف کړی چې: �نورو "ولسونو " که هرڅه ترې زده کړي وي، خو ايټاليا د هغه په اثارو کې د يووالي نظر او په اروپايي هېوادونو کې د رېنېسانس پيل موندلی دی .�

## د نیکولو مکیاویلي ډالۍ

اعلیحضرت لورینتسو دي پیرو دي مېدیچي ته د نېکولو مکیاوېلي ډالۍ

څوک چې غواړي د یوه ټولواک د پېرزوینې او ملاتړ وړ وګرځي، د دود له مخې ټولواک ته داسې شیان ډالۍ کوي، چې تر ګردو قیمتي او ارزښتناکه وي او یا یې په اند د ټولواک د خوشاله کېدو لامل ګرځي. د بېلګې په توګه: هغوی زیاتره نومیالي اسونه، اعلی وسلې، د سرو جامې، قیمتي کاڼي، د سینګار او زینت داسې نور وسایل، چې د ټولواک له برم او جلال سره برابر وي، هغه ته وړاندې کوي.
ستا درانه حضور ته ! د دې لپاره چې د خپلې مینې او فدویت کره ننښې وښیم، اړ شوم چې خپله شتمني وپلټم او یوه داسې ډالۍ، چې د پاچایانو حضور ته د وړاندې کولو ارزښت ولري، پیدا کړم.
تر ژورو فکرونو وروسته د سترو او نوماندو مېړنو د اعمالو له پوهې پورته مې بل قیمتي څه پیدا نه کړل، چې په اوسنیو چارو کې د یوې اوږدې تجربې او د لرغوني تاریخ د یوې پرله پسې مطالعې پایله ده، چې د دې مطالعې لنډیز مې په پوره دقت او تر اوږد زیار وروسته په دې کتاب کې راغونډ کړی او دا دی د سترتوب او برم د خاوند حضور ته یې وړاندې کوم.
که څه هم زه دا کوچنی اثر ستاسو لوړ مقام او حیثیت ته د ډالۍ وړ نه بولم، خو بیا هم د ستاسو پر ترحم او زړه سوي باور لرم، چې که زما دې حال ته پام وکړئ چې پرته له دې چې په ډېر لږ وخت کې د هغو حقایقو او رازونو د زده کړې وخت درکړم، چې په زده کړه کې یې ما د کلونو اوږد وخت لګولی او بې شمېره ګواښونه او ستونزې مې ګاللې دي، د بلې ډالۍ وس نه لرم، ستاسو په درانه حضور کې به د منلو وړ وګرځي. دا کتاب مې په ډېرو تشریفاتي او پېچلو الفاظو نه دی کښلی او نه مې د تاریخي دورو په شمېرو ډک کړی دی. یا هم د نورو لیکوالو په څېر نه یم توانېدلی چې د کتاب باندنۍ برخه په نقش او نګار داسې ښکلې کړم چې په خپل سر د پام وړ وګرځي. ځکه زما اصلي نیت دا دی چې یا هېڅ ارزښت ورنه کړل شي، یا دا چې د موضوع حقیقت او یا یې د مطالبو ارزښت د منلو وړ وګرځي... او نه له هغو سره همغاړی یم، چې یو ډول غرور او ځان ښودنه یې بولي، که یو بې ارزښته او د ټیټ پوړ وګړی، دا زړه وکړي چې د ټولواکو سلطنتي او سیاسي مسئلې وڅېړي، او د حل لارې- چارې یې اړوند ټولواک ته په لیکلې بڼه وړاندې کړي. ځکه څوک چې نقشې انځوروي، د دې لپاره چې د غرونو د هسکو څوکو او لوړو ځایونو څرنګوالی په سمه توګه اټکل کړي، ځان لاندې په دښتو او ډاګونو کې ځای پر ځای کوي او د دې لپاره چې د اوارې او دښتې سمه اندازه واخلي، د غرونو په څوکو او لوړو ځایونو کې ځای نیسي. په همدې توګه ویلی شم د دې لپاره چې د ولس د طبیعت سم اټکل وکړو، باید د ټولواک په مقام کې ځای ولرو او د دې لپاره چې د ټولواک سم اټکل وکړو، نو باید د ولس یوه برخه شو.
نو ای د سترتوب او جلال خاونده!
زما دا کوچنۍ ډالۍ په هغه احساس او جذبه ومنه، چې ما ستاسو درانه حضور ته وړاندې کړې ده، چې که یې په بشپړ دقت ولولئ او په پام کې یې ونیسئ، نو زما اصلي غوښتنه به احساس کړئ. موخه مې هغه لوړوالي او سترتوب ته د ستاسو رسېدل دي، چې د ستاسو بخت او نورې نېکې ځانګړنې یې ژمنه کوي. او که د ښکلا او برم خاوند د خپل سترتوب او عظمت له لوړې څوکې څخه خپلې سترګې دې ټیټې سیمې ته راواړوي، وبه ویني چې څنګه بې برخې او پرته له کوم ارزښته د بخت او تقدیر له تلپاتې کینې او بې غورۍ څخه ځورېږم.

## لومړی څپرکی

سلطنتونه په څو ډوله او په کومو لارو رامنځته شوي دي؟

پر بشریت د ژوند په ټول پېر کې جمهوري او سلطنتي واکمنۍ تېرې شوي او اوس هم پرې واکمن دي. هېوادونه میراثي وي او تر ډېره وخته په کې یوه کورنۍ واکمنه وي. مانا په پرله پسې توګه د یوې کورنۍ اولادې ته دغه واک پاتې کېږي او یا نوي په سلطنت اوښتي وي .نوي سلطنتونه بیا په خپل وار په بشپړه توګه نوي جوړ شوي وي، لکه د میلان Milan هېواد چې د

فرانسېسکو سفورتسا Francesco Sforza تر ټولواکۍ لاندې جوړ شوی و او یا هغه هېوادونه دي چې ټولواک یې تر لاسته راوړلو وروسته خپلې میراثي واکمنۍ ته ورګډوي. د بېلګې په توګه د ناپل Naples هېواد چې د اسپانیا د پاچا د واک سیمې)) قلمرو ) ) پورې وتړل شو.
هغه هېوادونه چې په دې ډول تر ولکې لاندې راوستل شوي، یا د یو بل ټولواک تر ولکې لاندې ول او یا دا چې یوه خپلواکه خاوره وه، ځانګړې خپلواکي او سلطنت یې درلود. هغه چا چې هغوی تر ولکې لاندې راوستلي، یا یې د خپلو لښکرو پر مټ او یا یې د پردیو لښکرو په مرسته نیولي دي. او یا هم د ټولواک د ښه بخت او یا وړتیاوو له لارې ولکه شوي دي .

## دویم څپرکی

### د میراثي سلطنتونو په اړه

پر ولسمشریزې واکمنۍ به ټول بحثونه پر ځای پرېږدم. ځکه نورو ځایونو کې مو په تفصیل سره خبرې پرې کړې دي. زه به دلته یوازې د سلطنتونو پر لور مخه کړم. د دغه کار ترسره کول به زه له پورتنۍ وینا سره سم وڅېړم، چې داسې سلطنتونه څه ډول اداره او ساتل کېږي؟
نو دلته ویلی شم: د هغو میراثي سلطنتونو په پرتله چې اوسېدونکي یې د خپل ټولواک د کورنۍ پر خدمت روږدي دي، د نوي جوړ شوي سلطنت ساتل ستونزمن دي. ځکه میراثي ټولواکي کولی شي د خپلو نیکونو پر پله پښه کېږدي، دود یې مات نه کړي او په ناوړه حالاتو کې د وخت له اړتیا سره سم ګامونه واخلي او له اړتیا سره سمه هوښیاري او ښه چلند وکړي. په دې توګه یو ټولواک چې په میراثي توګه یې سلطنت ترلاسه کړی وي، د یوه منځني ځواک په لرلو پرته له ستونزو کولی شي خپله واکمني ټینګه وساتي. که بیا د زښت ډېر ځواک له امله، چې مخنیوی یې د هغه له وس څخه پورته وي، له سلطنت څخه لیرې هم شي، نو که د خپل ولس ملاتړ او محبوبیت له ځانه سره ولري، کولی شي خپل سلطنت بیا ترلاسه کړي. خو په دې شرط چې د دغه هېواد نیواکګر چې د ده سلطنت یې له منځه وړی، له یوې زیان رسوونکې او بدمرغه پېښې سره مخامخ شي. د بېلګې په توګه موږ په ایټالیا کې د فرارا ډیوک the duke of ferrara لرو. که د هغه واک او نفوذ د وخت په تېرېدو سره په خپله خاوره کې نه وی ټینګ شوی، نو هېڅکله به په دې نه وی بریالی شوی چې په ۱۴۸۴ز کال کې د وېنېسیانو Venetians په وړاندې ودرېږي او همدا راز یې نه شو کولی په ۱۵۱۰ز کال کې د پاپ جولیوس د یرغلونو په وړاندې ودریږي او هغوی ته ماتې ورکړي. دا ځکه چې میراثي ټولواک ته ډېر لږ پېښېږي چې پر ولسونو باندې تېریو ته لاره اواره کړي او یا یې لامل شي، چې له همدې امله ورسره زیاته مینه کېږي مانا پر ولس ګران وي. که له هغه څخه لویې تېروتنې ونه شي او ولس ترې کرکه ونه کړي، بې له شکه به په خپل ولس کې محبوبیت پیدا کوي او پر دې سربېره د هغه د واکمنۍ لرغونتیا او اوږدوالی کولی شي ټول هغه یادښتونه او انګېزې، چې ممکن څه بدلون رامنځته کړي، له منځه یوسي. ځکه یو بدلون له بل یوه سره کوشېرېږي .

## درېیم څپرکی

### د هغو سلطنتونو په اړه چې څو هېوادونه یې تر ولکې لاندې وي یا څو هېوادونه په کې ډېبیل شوي وي

په داسې هېوادونو کې ستونزې ډېرې راولاړېږي. که هېواد نوی نه وي او په یوه ټولواک پورې اړه ولري او میراثي سلطنتي هېواد ته د یوې نوې برخې په توګه وډېبیل شي، چې په ټولیز ډول یو هېواد جوړ کړي، دې ډول دولت ته مرکب وايي.
په داسې هېوادونو کې بدلونونه د ځینو لاملونو له کبله چې په ټولو دا ډول نویو هېوادونو کې طبیعي دي، رامنځته کېږي. خلک د دې لپاره چې خپل حالت ښه او د پرمختګ پر لور کړي تل دا هڅه کوي چې واکمن بدل کړي او په همدې هیله د خپل ټولواک په وړاندې وسلې ته لاس اچوي. خو د هغوی دا هیلې سمې نه راوځي او خپل ځان تېرباسي. وروسته بیا تجربې ورته په زباتوي چې د هغوی غوښتنې او له وسلې څخه یې هیلې ناسمې وې او په هېواد کې یې حالت کړکېچن شوی دی.

چې دا هم د یوې بلې ناخوالې لامل ګرځي؛ هغه چې تل یو ټولواک دې ته اړ باسي چې د هغو پېټې پر اوږه واخلي چې د ((نوي هېواد)) د لاس ته راوړلو لپاره یې په پوځ کې دنده اخیستې او نورو بې پولو سختیو ته یې غاړه ایښې. دا په دې مانا چې د ((نوي)) ټولواک له وسه پورته ده چې د نوو وګړو یا اتباعو له کړېدنې او رټنې مخنیوی وکړي. ځکه ټولواک د نوي هېواد په لاسته راوړلو کې د خپلو خلکو پوروړی دی. هغوی چې د نوي هېواد له وګړو سره هر ډول ناوړه چلند کوي، ټولواک اړ دی چې وېې زغمي او په دې حالت کې ټولواک د هغو وګړو له دښمنیو سره مخامخ کېږي چې سرتېري د هغوی پر شتمنیو ځای پر ځای کوي او د نیواک پر مهال زیانمن کېږي. دغه راز ټولواک نه شي کولی له هغو وګړو سره ښه اړیکي وساتي چې د نوي هېواد د نیولو پر مهال یې له ټولواک سره مرسته کړې؛ ځکه ټولواک به و نه شي کړی چې د هغوی غوښتنې د هغوی له هیلو سره سمې بشپړې کړي.

څرنګه چې ټولواک د هغوی د مرستو پوروړی دی، نه شي کولی په وړاندې یې پرېکنده ګامونه اوچت کړي. سره له دې چې ټولواک به غښتلي ځواکونه لري، خو بیا هم تر هر څه وړاندې هغه د نوي هېواد د وګړو ښې پېرزوينې او ښه نیت ته اړتیا لري. له همدې کبله د فرانسې پاچا، چې دوولسم لوېي Louis XII یې باله، په ډېرې چټکۍ وکولی شول د میلان هېواد ونیسي او په هماغومره اسانۍ یې له لاسه ورکړ.

په لومړي ځل چې یې د میلان هېواد تر ولکې لاندې راوست، د دې هېواد پخواني ټولواک لوډوویکو سفورتسا Lodovico Sforza په ډېرې اسانۍ وکولی شول چې د خپلو ځواکونو په مټ خپل هېواد د فرانسې د پاچا له ولکې وباسي او بیا یې ترلاسه کړي. ځکه هغو خلکو چې د فرانسې د پاچا پر مخ د میلان دروازې پرانیستې وې، وروسته بیا پوه شول چې تېر ایستل شوي دي. د فرانسې پاچا د هغوی ځانګړې ګټې ترسره نه کړی شوې او نور یې د هغه ناوړه چلند هم نه شو زغملی. همدا و چې د میلان ښار یې بیا پخواني ټولواک ته وسپاره.

ښکاره ده چې کله یو هېواد تر پاڅون وروسته بیا کرار شي، د ټولواک له ولکې په داسې اسانۍ نه وځي. دا په دې چې ټولواک له وخت څخه ګټه پورته کوي او هغه کسان چې د هغه د واکمنۍ په وړاندې یې په پاڅون کې لاس لرلی او یا تورن وي، نیسي، محکمې ته یې سپاري او له هغو امکاناتو څخه د ګټې په اخیستلو چې په لاس کې یې لري، خپل واک په ټولو هغو ځایونو کې چې کمزوري بریښي، پیاوړی کوي. د بېلګې په توګه: د دې لپاره چې د میلان پخوانی ټولواک لوډوویکو سفورتسا خپل هېواد له فرانسې څخه بیا ونیسي، یوازې یې پر دې بسنه وکړه چې د دې هېواد په پولو کې اړودوړ رامنځته کړي او)) خپل هېواد)) بېرته ترلاسه کړي. خود دې لپاره چې د فرانسې پاچا په دویم ځل له هېواده وباسي، د میلان ټولواک دې ته اړ وت چې ټوله نړۍ د هغه په وړاندې راوپاروي، ځواکونو ته یې ماتې ورکړي او له ایټالیا څخه یې وشړي.

دغو نیمګړتیاوو ته په پام سره د فرانسې پاچا د میلان هېواد تر دویم نیواک وروسته بیا هم دې ته اړ وت چې لاسته ورغلی نوی هېواد له لاسه ورکړي. د میلان هېواد په لومړي او دویم پېر د فرانسې له ولکې ازاد کړل شو، خو د لومړۍ ماتې اصلي لاملونه روښانه شول، او د دویمې ماتې هغه یې لا پاتې دي، نو پکار ده چې وڅېړو: د فرانسې پاچا باید څه تدابیر نیولي وی؟ او یا نورو ټولواکو به په ورته ناوړه حالاتو کې د خپلې ولکې د ټینګولو لپاره له کومو ځانګړو لارو چارو څخه کار اخیستی وي، چې خپلې لاس ته راوړنې یې د فرانسې د پاچا په پرتله په بریالیتوب خوندي کړې دي.

نو پکار ده وو وایم چې: د هغو ایالتونو وګړي چې یو ټولواک یې له نیواک وروسته خپلې ځواک سیمې ته ور ګډوي، یا له یوې سیمې وي او د ټولواک په واک سیمې کې د مېشتو وګړو په ژبه ګړېږي او یا نه وي. که وي د هغوی ساتل ډېر اسانه او ساده دي په تېره بیا هغه وخت چې خپلواک ژوند او خپلواکۍ ته روږدي شوي نه وي. د دې لپاره چې له هغوی څخه ښه ډاډمن شو دا بسنه کوي چې د هغه ټولواک کورنۍ له بنسټه له منځه یوسو چې پر هغوی یې واکمني کوله. ځکه که دوه ډوله ولسونه چې د ژوند ټول اړخونه یې په پورتنیو شرایطو برابر وي خو په دوه دونو کې یې څه توپیر رامنځته نه شي، په بشپړه کرارۍ به په خپلو کې سره ګډ ژوند کوي، لکه چې موږ په بریټانې Brittany، ګاسکونې Gascony، بورګنډې Borgandy او نورمانډې Normandy کې ولیدل چې تر ډېره فرانسې ته پېیل شوي پاتې شول. که څه هم هغوی ژبنی توپیر درلوده خو څرنګه چې دودونه یې سره ورته ول، په اسانۍ یې وکولی شول چې په خپلو کې سره ژوند وکړي. نو هغه څوک چې د پورتنیو ځانګړتیاوو لرونکي هېوادونه خپلې خاورې پورې پېیي او غواړي چې د تل لپاره یې خپل کړي، دوه ټکي دې په پام کې ونیسي: لومړی دا چې د هغوی د لومړني واکمن ټبر یا کورنۍ له منځه یوسي او دویم دا چې د هغوی په قانون او مالیاتو کې هېڅ ډول بدلون را منځته نه کړي. په دې توګه به لاسته ورغلی نوی هېواد په خورا چټکۍ له پخواني هېواد سره په بشپړه توګه یو ځای او یو ه نقشه شي.

خو چې دغه ډول نیول شوي هېوادونه د نیواکگر ټولواک د خاورې له دود، ژبې او قانون سره توپیر ولري په هغه کې ستونزې لس واري زیاتې وي. نو په داسې حالاتو کې زښت ډېر ځواک او ښه بخت ته اړتیا لري چې پر هغوی لاس بری شي او یوه تر ګردو اغېزمنه او له ګټې ډکه لار یې چې له ټولواک سره په ربښتینې مانا مرسته کوي داده چې نوموړی ((نیواکګر)) هلته د هستوګنې لپاره ورشي او د هغوی تر منځ ژوند وکړي. دا کار به د هغه لپاره د نوموړي هېواد تلپاتېوالی کره کړي او هغه هېواد به د تل لپاره خپل کړي، لکه چې ترکانو په یونان کې همدا لار وکاروله؛ که ترک ټولواک له نورو تدابیرو سره سره چې د هغه هېواد د خوندي ساتنې لپاره یې نیولي ول خپله هم هلته نه وی اوسیدلی، د یونان په ساتنه به بریالی شوی نه وی.
دا یو جوت حقیقت دی چې کله یو څوک په سیمه کې وي پر ګډوډیو له راپورته کېدو سره سم پوهېږي او کولی شي په چټکتیا او اسانۍ سره یې مخه ونیسي، پرته له دې چې حالت یې له وسه بهر شي چاره یې کوي، او که ټولواک یې له مرکز څخه لرې وي له ګډوډیو او اړودوړه هغه وخت خبرېږي چې پاڅون یې په وړاندې ډېر ستر شوی وي او مخنیوی یې د هغه له وسې بهر وي مانا د مخنیوي وخت یې زیاتې تېر وي. سربېره پر دې، د ټولواک له مېشتېدو سره په هغه هېواد کې، د هغه منصب داران او ملاتړي لوټماری او شوکې ته زړه نه ښه کوي او په دې توګه به ددې ایالتونو یا هېوادونو وګړي له ټولواک سره نږدې اړیکې ساتي، او که داسې هم و نه شي، تر یوې کچې به د ټولواک د شتون له امله چې هغه ځای کې اوسي په وېره کې وي. که ښه چلند ورسره وشي او کراره وي، هغوی به په ټوله مانا له ټولواک سره مینه کوي، خو که ټولواک ترې لرې وي ډېر ژر به د وېرې اسباب وربرابر کړي. همدارنګه که کوم بهرني دښمن دې ((نوي)) هېواد ته سترګې پټې کړې وي، د ټولواک د شتون له امله په دې هېواد کې به دغه یرغلګر ددې کار په ترسره کولو کې ډېر ځانساتی (محتاط) وي. لنډه یې دا چې په کومه سیمه کې چې خپله ټولواک مېشت وي له هغه ځایه به یې وېستل له ستونزو ډک کار وي.
بله او ښه لار یې داده چې یوه ډله کډوال Colonies چې خپل اریز ((اصلي)) تابعیت یې هم ساتلی وي ددې هېواد څو سیمو ته د هستوګنې لپاره واستول شي، دا کډوال به په ربښتینې مانا د هغه هېواد د کیلي ((چابي)) په څېر وي چې هر وخت به پکار راځي.
خو په هر حال، یا باید دا کار وکړي او یا یو شمېر پلي او سپاره سرتېري ولېږي چې هلته د چاونیو په ښه واړوي، خو د کډوالو لېږل پر ټولواک هېڅ لګښت نه راولي او کولی شي چې هغوی په ډېرو لږو مصارفو هلته وساتي او یا کېدی شي هېڅ لګښت پرې را نه شي. په دې کار کې کېدی شي ډېر لږ خلک زیانمن شي او دا به هغه خلک وي چې کورونه او شتمنۍ یې دغو کډوالو ته ورکړل شوي دي. دا ډول ځپل شوي خلک چې شمتنۍ او کورونه یې له لاسه وتلي دي په ټولنه کې د بې وزلو یوه کوچنۍ ډله جوړوي او په ټول هېواد کې خواره واره تیت او پرک وي. نو ددې وړتیا به و نه لري چې ټولواک ته ګواښ پېښ کړي. او پاتې وګړي چې تېری پرې نه دی شوی د وخت په تېرېدو سره کرارېږي. ځکه دوی به په وېره کې وي چې کومه تېروتنه ترې و نه شي او په هغه بلا و نه وړي چې نور ورسره مخامخ شول او له خپلو شتمنیو او ځایونو بې برخې شول.
نو لنډه دا چې کډوال د سرتېرو په پرتله پر ژمنه ولاړ ((وفادار)) وي، د هغوی لګښت لږ وي او ډېر لږ او سېدونکي د هغوی له کبله ځپل کېږي او لکه چې مخکې ورته نغوته وشوه، هغوی چې ځپل کېږي بېوزلي خلک دي او یو له بله بېل په هېواد کې تیت او پرک دي. له دې کبله هومره د ګواښ لامل نه ګرځي.
پر دې سربېره دا هم باید ووایم چې له خلکو سره باید په خواخوږۍ او مهربانۍ ((مینه ناک)) چلند وشي او یا په بشپړه توګه له منځه یوړل شي. ځکه خلک کولی شي چې د کوچنیو زیانونو کسات ((انتقام)) واخلي، خو د لویو زیانونو کسات نه شي اخیستلی، له دې کبله کوم زیان یا ژوبله چې ټولواک یې خلکو ته اړوي، باید داسې درنه وي چې بیا یې د سترګو په وړاندې د کسات وېره نه وي ولاړه.
که د کډوالو پر ځای وسله وال سرتېري ځای پر ځای شي، د هغوی د ساتنې لګښت به ډېر زیات وي او ټولواک دې ته اړ دی چې د هغوی د ساتنې لپاره د خپل هېواد ټولې اقتصادي لاسته راوړنې)) عایدات)) ولګوي، چې د ټولواک ګټې په زیان بدلوي او د وګړو وتیزو ((اقتصادي)) او نورو زیانونو ته لاره اواروي او همدارنګه د لښکر ځایونو د بدلون پر مهال له لا زیاتو اقتصادي زیانمنیو سره مخامخ کېږي. نو څرنګه چې ورته زیانونه ټولو ته رسېږي نو له کبله به یې د وګړو تر منځ د ټولواک مخالف احساسات راوپارېږي، دا ډول دښمنان چې په خپلو ځایونو کې مېشت دي، که څه هم په خپل ډګر کې یې ماتې خوړلې ده خو بیا هم نوي ټولواک ته زیان رسولی شي. نو له دې امله د هېواد ساتل د وسله والو سرتېرو په مټ هومره بې ګټې ((مضره)) دي څومره چې د کډوالو ځای پر ځای کول ګټور دي.
هغه ټولواک چې د خپل سلطنت مرکز د هېواد په یو داسې ښار کې ځای پر ځای کوي چې د اوسېدونکو ژبه او قوانین یې د

خپل ولس له قوانینو او ژبې سره توپیر ولري نو په داسې حالت کې ټولواک باید ځان ددې هېواد د بېوزلو ګاونډیو هېوادونو ګټندوی وښيي او پر ځای یې هڅه وکړي چې ((ددې هېواد ) ) غښتلي ګاونډي هېوادونه وځپي او له بې وزلۍ سره یې مخ کړي، دې ټکي ته باید ځیر وي چې هر هغه هېواد چې د هغه ((نیواکګر ) ) د هېواد په انډول غښتلی او ځواکمن وي، دټولواک په نوي نیول شوي هېواد کې ځان ته د پښو ځای پیدا نه کړي. ځکه تل داسې پېښېږي چې ناخوښه وګړي د زیاتې رخې ((بخیلۍ ) ) یا د ځان پالنې او یا هم د وېرې له کبله له دې ډول هېوادونو سره یو ځای کېږي او د هغوی ځواک ته د راتګ لار ورښيي. لکه ایټولیانو Aetolians چې یونان ته رومیان راوستل .

رومیانو چې په هر هېواد کې لاس وهنه کړې، لومړی د هغه هېواد مات شوي ولس هغوی خپل هېواد ته رابللي او لار یې ورته پرانستې ده.

او چارې هم په دودیز ډول همداسې وي. کله چې یو غښتلی بهرنی ځواک یوه هېواد ته ننوزي ټول بېوزلي او ناخوښه هېوادونه چې د خپلو واکمنو په وړاندې د کرکې احساس کوي د هغه په چاپېریال کې راټولېږي، له دې کبله ددغو وړو او بېوزلو هېوادونو رانږدې کول او راماتول څه زحمت نه غواړي؛ ځکه هغوی په ډېره مینه او خوښۍ خپل برخلیک له هغه نوي او بېوزلي دولت سره شریکوي چې ځواکمن ټولواک)) نیواکګر ) ) هلته تر ولکې لاندې راوستی دی.

نوی ټولواک باید یوائې د دوی کړه وړه وڅاري او ددې مجال ورنه کړي چې هغوی ډېر ځواک او واک تر لاسه کړي په بله مانا ډېر غښتلي او ځواکمن شي. په دې توګه د خپلو لښکرو او د اوسېدونکو د پېرزونې او ښه نیت په مرسته کولی شي تر ټولو ځواکمن سیال مات کړي، پرې لاس بری شي او خپله واکمني په هغه هېواد کې پراخه او کلکه کړي. که هغه دا چارې په هوښیارۍ او سمه توګه پر مخ بولی ونه شي، په ډېره چټکتیا به خپلې لاس ته راوړنې له لاسه ورکړي او که وې ساتلی هم شي په چارو کې به له ډېرو ستونزو او ربړو سره مخ شي.

د رومیانو چلند له هغو هېوادونو سره چې د ولکې لاندې یې ول ډېر په هوښیارۍ و او ټول پورتني تدابیر یې په خورا دقت تر سره کول. رومیان چې به یو هېواد ته ننوتل نو لومړی به یې خپل کډوال هلته مېشتول، او بیا پرته له دې چې د هغوی ځواک پیاوړی کړي، له بې وزلو ګاونډیو هېوادونو سره یې ښه اړیکي ټینګول او د نوي هېواد ځواکمن ګاونډي هېوادونه یې ځپل او بې ځواکه کول او د هېڅ یوه غښتلي بهرني هېواد ځواک او نفوذ ته یې په هغه هېواد کې د راننوتلو اجازه نه ورکوله.

په یونان کې د هغوی د سیاست یوه بېلګه زموږ د موخې روښانه کولو لپاره بسنه کوي: رومیانو په یونان کې له اکیانیانو Achaiansاو ایټولیانو سره ښه اړیکي وساتل او له هغوی سره یې مالي مرستې وکړې او د مقدونیې د سلطنت په وړاندې یې بې اعتینایي وکړه او هغه یې بې ځواکه کړ او ان انتیو کوس Antiochus یې هم له هېواده بهر وشاړه.

که څه هم اکیانیان او ایټولیان د رومیانو په چوپړ کې ول، ډېر خدمت یې وکړ او هغوی ته یې د راتګ لاره اواره کړه، خو هېڅ یوه ته یې د واک په زیاتوالي کې ګټه ونه کړه او هغه ټولې هڅې چې د فلیپ له خوا ترسره شوې، رومیان یې دې ته چمتو نه شو کړی چې د هغه د ځواک د له منځه وړلو مخنیوی وکړي او رومیان د هغه خواخوږي کړي. تر دې چې انتیوکوس ته یې د دې اجازه ورنه کړه چې پر هغه هېواد خپله واکمني وچلوي.

په دې کې رومیانو د سیاستواله او ځیرکو ټولواکو په څېر نه یوازې د خپلو اوسنیو ستونزو د اوارې لپاره له بشپړ دقت څخه کار واخیست بلکې د راتلونکو ستونزو د اوارې لپاره یې هم ژورې اند ښښنې درلودې او په پوره هوښیارۍ سره یې د دواړو اوسنیو او راتلونکو ستونزو د اوارې لپاره هڅه کوله او چاره یې مخکې له مخکې سنجوله؛ ځکه هغه ستونزې چې لا پېښې شوې نه وي او یوازې وړاندوینه یې شوې وي، په اسانۍ یې چاره او مخنیوی کېدی شي. خو چې رانژدې شي بیا یې چاره ناوخته وي. ځکه رنځ هغه ځای ته ننوتلی وي چې نه رغېدونکی وي او ورځ په ورځ خپلې منګولې په وجود کې خښوي. لکه درملګر چې د تودې تبې په باب وایي چې که په پیل کې یې څرګندونه ((تشخیص ((او درملنه وشي، نو په اسانۍ سره یې چاره کېدی شي. خو د رنځ په پیل کې چې یې نه درملنه او نه هم د رنځ څرګندونه شونې وه، د وخت په تېرېدو یې څرګندونه اسانه کېږي خو درملنه یې له ستونزو ډکه وي.

د یوه هېواد چارې هم همداسې درواخلئ. د هېواد د چارو بدمرغي باید په پیل کې څرګنده او مخنیوی یې وشي؛ ځکه د یو هوښیار ټولواک په لاس د هغې مخنیوی ډېر ژر کېدی شي. خو کله چې د غفلت له کبله تاوتریخوالی په هېواد کې داسې پراختیا ومومي چې د هر چا پام ورواوړي نو بیا یې چاره ناشونی کار وي. له همدې کبله، کله چې به رومیانو ته د کېدونې ((احتمالي ) ) تاوتریخوالي په اړه لږ څرک ولګېد، نو د هغه چاره به یې مخکې له مخکې کوله او چمتووالی به یې هم ورته درلود. په بله وینا: رومیانو به ګوابنونه له لیرې څارلي ول، وړاندوینې به یې کولې، د هغوی لپاره به یې مخکې له مخکې

تدابير نيولي ول او د دې لپاره چې د جګړې مخنيوی وکړي، هېڅکله يې د دغو ګواښونو د زغملو توان په ځان کې نه ليده؛ ځکه هغوی پوهېدل چې د جګړې مخه نشي نيول کېدی، خو وروسته والی يې ښايي د نورو په ګټه پای ته ورسېږي. نو له دې امله مخکې تر دې چې فلېپ او انتيوکوس ته په روم کې د جګړې د پيل کولو وخت ورکړي، په يونان کې يې پر هغوی د جګړې د پيل هوډ وکړ. که څه هم شونې وه چې دواړو خواوو جګړه نه وی پيل کړې او تر يوه مهاله ځنډول شوې وی، خو هغوی په دې خوښ نه ول او هغه متل ته يې هم پام ونه کړ چې د هر پېر د پوهانو پر ژبه وي، هغه دا چې� :پرېږدئ وخت د دې پرېکړه وکړي�، بلکې پر خپل زور او ځواک متکي ول، يوازې له خپل نوښت او وړاندوينو څخه خوښ او په دې باور ول چې وخت هر څه له ځان سره مخته راوړي او کېدی شي چې د ښو په شان بدي هم له ځانه سره ولري.

اوس راځئ چې فرانسې ته سر ورښکاره کړو او وګورو چې ايا د فرانسې پاچا ياد شوي دودونه پلي کړي دي که نه؟ زه به يوازې د لويي په اړه وغږېږم، نه د شارل Charles په اړه؛ ځکه لويي پر ايټاليا تر ټولو اوږده واکمني درلوده او کړه وړه يې د شارل په پرتله ښه روښانه دي او دا دی وبه يې وينئ چې ايا د هغه چلند د هغو رښتينو الواکونو ((نظرياتو)) پر خلاف دی که څنګه؟ چې د يو داسې هېواد د ټينګولو او خوندي کولو لپاره، چې له څو نورو هېوادونو څخه جوړ شوی وي، په پام کې ونيول شي.

لويي ايټاليا ته د ځانپالو او واکپالو وېنېسيانو له خوا راوبلل شو او له پورتنۍ بلنې د هغوی موخه دا وه چې د لمباردې Lombardy ايالت يوه برخه راخپله کړي.

زه پاچا په دغه کړنلاره نه پړ کومه. ځکه فرانسه يو داسې هېواد و چې غوښتل يې په ايټاليا کې ځانته د پښو ځای پيدا کړي او هلته يې هېڅ يو نژدې ملګری نه درلود، ان تر دې چې د شارل ناوړه چلند د ايټاليا ټولې دروازې د هغه پر مخ تړلې وې نو اړ و چې دا بلنې ومني. د لويي ټولې طرحې به په ډېره چټکتيا بريالۍ شوې وی خو که هغه له نورو مسايلو سره په کړون کې تېروتنې نه وی کړې.

لويي د لمباردې ايالت تر نيولو وروسته هغه اعتبار او واک، چې شارل له لاسه ورکړی و بيا ترلاسه کړ او بيا جنوا Genoa ورته تسليم شوه، له فلورېنسيان slorentineF سره يې هم اړيکې ښه شول او نور لکه د مانتوا مارکس The Marques of Mantua، د فرارا ډيوک The Duke of Ferrara ، بنتي وګلي The Bentivogli، د فورلي ملکهMy lady of Forli ، د فاينزاFaenza ، پزاروPesaro ، ريميني Rimini، کامرينو Camerino او پيوم بينو ombinoPiواکمنانو او د سينا The Sienese، پيزا The Pisans او د لوکا Lucchese اوسيدونکو هر يوه د خپلې ملګرتيا ټينګ وواهه.

له دې وروسته بيا وېنېسيانو ته خپله تېروتنه جوته شوه، چې هغوی په دې هڅه کې چې يوازې لمباردې تر ولکې لاندې راولي، د ايټاليا دوه پر درې خاوره د فرانسې په واک کې ورکړې ده.

اوس يې وارزوئ چې پاچا په څومره اسانۍ خپله تګلاره له هغو ارونو او اندونو سره سمه برابره کړه، چې وړاندې مو نغوته ورته وکړه او هغو ټولو بېوزلو دوستانو ته يې چې ډارن ول، د کراری ډاډ ورکړ او وېې ژغورل .ځکه سره له دې چې د هغوی شمېر زيات و، خو ډېر کمزوري ول او ځينې يې د کليسا د واکمنو او ځينې نور يې د وېنېسيانو له وېرې دې ته اړ ول چې د پاچا د هر اړخيز ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره دهغه مرسته وکړي او پاچا په ډېره اسانۍ کولی شول چې خپلې لاسته راوړنې د دغو خلکو په مرسته د هر پاتې ځواکمن په وړاندې وساتي او په ايټاليا کې خپل واک داسې ټينګ کړي چې هر ډول ځواک يې د له منځه وړلو جوګه نه وي.

خو دا يې ونه کړل؛ له سمې لارې وګرځېد؛ ميلان ته له رسېدو سره سم يې له پاپ الکساندر Pope Alexander سره مرسته وکړه چې رومانيا Romagna ونيسي. خو لويي دا فکر نهٔ کړی چې په دې کړون سره به کمزوری کېږي؛ ځکه د لويي هغو ملګرو چې د هغه غېږې ته يې ځانونه وراچولي ول، له پاپ سره د ملګرتيا له امله يې له هغه څخه مخ وګرځاوه او له بلې خوا يې دې کړون د کليسا روحاني ځواک ته د دنياوي ځواک Temporal power په ورزياتولو نوره هم پياوړتيا او وده ورکړه.

له هغه چې يو ځل دا تېروتنه وشوه، نو نه يې شو کولی ځان ترې وژغوري او اړ و چې په همدې لاره پرمخ ولاړ شي تر هغې چې د پاپ الکساندر د واکپالنې د ماتولو پرېکړه يې وکړه. په دې مانا چې هغه پرې نه ږدي چې د ټوسکانې Toscanyايالت خپل کړي او له کبله يې اړ شو چې خپله ايټاليا ته ولاړ شي .

داسې ښکارېدل چې د کليسا د واکمنۍ پراختيا او د ملګرو خپګان هغه ته بسنه نه کوله، چې ويې غوښتل د ناپل هېواد هم ونيسي او بيا يې له اسپانيې سره ووېشي چې په دې کار يې يو بل ځواکمن ټولواک د ايټاليا خاورې ته دننه کړ، ترڅو د دې ايالت ناراضيانو ته يوه بله پناه ګاه پيدا کړي. په داسې حال کې چې د فرانسې ټولواک د ايټاليا د هېواد يوازېنی متنفذ ګڼل

کېده او د دې پر ځای چې د ناپل په هېواد کې خپل يو لاسپوڅی وټاکي، هغه يو غښتلی ټولواک ايټاليا ته راوست، چې ان کولی يې شول خپله لوبې د ايټاليا له خاورې وباسي.
واک ته د رسېدو هيله په رښتيا هم انسانانو کې يو طبيعي او ګډ حس دی؛ هغه وخت چې يو څوک يې د څواک په کچه يو کار ته لاس اچوي تل د ستاينې وړ دی نه د ملامتۍ او سزا، خو کله چې له وسې پورته کار ته لاس اچوي نو د سزا او ملامتۍ وړ ګرځي. که لوبې د خپلو لښکرو په کارولو د ناپل پر هېواد يرغل کړی وی نيول يې هغه لپاره څه ستونزمن کار نه و او که دا کار يې له وسه پورته ګڼله نو له اسپانيې سره يې بايد نه وی وېشلی. که څه هم له وېنېسيانو سره د لمبارډي وېش يوه موخه درلوده چې په ايټاليا کې ځان ته د پښو ځای پيدا کړي خو په دې وېشنه کې هېڅ موخه نه وه نغښتې؛ ځکه دلته د دې پلمې اړتيا نه ليدل کېده نو لوبې پړ دی.
لوبې دغه پنځه تېروتنې وکړې:
١ .خوار او بېوزلي هېوادونه يې له منځه يوړل.
٢ .په ايټاليا کې يې يو ستر څواک لا پسې پياوړی او په يوه زبرځواک بدل کړ.
٣ .يو بهرنی غښتلی ځواک يې ايټاليا ته دننه کړ.
۴ .خپله په هغه هېواد کې پاتې نه شو.
۵ .هغه بايد ايټاليا ته کډوال استولي وی.
خو له دې سره سره به نوموړي ته دغه تېروتنې زيان اړوونکې نه وی پرېوتي، که هغه شپږمه تېروتنه نه وی کړې؛ مانا وېنېسيان يې له خپلو لاسته راوړنو نه وی بې برخې کړي. له اره که هغه د کليسا واکمنۍ ته پراختيا نه وی ورکړې او پياوړې کړې يې نه وی او د اسپانيې پر مخ يې ايټاليا ته د ننوتلو لار نه وی پرانستې نو اړينه او معقوله وه چې وېنېسيان وځپي او کمزوري يې کړي، خو يو ځل چې له هغه دا تېروتنه و شوه هغه بايد نور د وېنېسيانو له منځه وړلو ته زړه نه وی ښه کړی؛ ځکه که وېنېسيان همداسې پاتې وی کولی يې شول د هر بل هېواد په وړاندې، چې پر لمبارډي يې د يرغل هوډ درلود ، په بشپړه زړورتيا دفاع وکړي. او هېڅکله به يې دې ته زړه نه و ښه کړی چې له هغو پرته دې بل څوک د لمبارډي واکمن شي او دا هم شونې نه وه چې بل څوک دې راشي او د لمبارډي هغه برخه چې د فرانسې په لاس کې وه تر ولکې لاندې راولي او بيا يې وېنېسيانو ته ورکړي او نه هم شونې وه چې يو دريم ځواک دې د فرانسې او وېنېسيانو په وړاندې ګام واخلي او لمبارډي دې تر ولکې لاندې راولي .
نو سړی ويلی شي چې دوولسم لوبې، رومانيا په لوی لاس پاپ الکساندر ته وسپارله او ناپل يې په دې اسپانيا ته پرېښود چې د جګړو مخنيوی وکړي.
زه پورتنيو دلايلو ته په پام سره وايم: هغه ته په کار نه و چې له جګړې د مخنيوي په پلمه يې دې ته زړه ښه کړی وی چې نور څوک دې د هغه نقشې او پلانونه له منځه يوسي. ځکه جګړه د مخنيوي نه ده پرته له دې چې وځنډول شي او ځنډول يې هم د ټولواک په زيان دي.
که بل څوک هغې ژمنې ته اشاره وکړي چې پاچا پاپ ته ورکړې وه او هغه دا وه چې: �که پاپ د فرانسې د پاچا په مرسته لښکر وباسي، نو په بدل کې به يې پاپ د پاچا د لومړۍ مېرمنې د طلاق خبره او د)) کارډينال )) په توګه د روئين Rouen ((D�amboise))د ټاکلو ژمنه سرته ورسوي�، نو ځکه هغه دې ته اړ و چې دا کار وکړي. داسې خلکو ته په ځواب کې، زه د هغوی پام، د دې کتاب هغې برخې ته چې لږ څه وروسته به يې د ټولواک د ژمنې د ساتلو په اړه راولم، ورواړوم چې دغه ژمنې څنګه بايد وساتل شي؟
د فرانسې پاچا دوولسم لوبې، لمبارډي ځکه له لاسه ورکړه چې هغه پورتني ارونه، چې نورو ((ټولواکو )) د نيول شويو هېوادونو د ساتلو لپاره پکار وړي ول، ونه کارول او هغه څه چې پېښ شول د اريانتيا وړ نه دي. ځکه د دې کارونو پايلې حتمي او طبيعي وې او ټولو ترې همدا تمه کوله.
زه پدې اړه په نانټ Nantes کې له روئېن سره وغږېدم، او دا هغه وخت و چې سېزار بورجيا Cesar Borgia د رومانيا په نيولو بوخت و. کارډينال روئېن په ځواب کې راته وويل چې د ايټاليا خلک)) په سياست )) نه پوهېږي. که هغوی پوهيدی هېڅکله به خوښ نه وی چې د کليسا واکمني دومره غښتلې او ستره شي.
وروستنيو پېښو بيا وښودله چې د کليسا د واکمنۍ د پراختيا او په ايټاليا کې د اسپانيې د لاس وهنې لامل هماغه فرانسه وه. او د فرانسې د بربادۍ لامل هم همدا دواړه، کليسا او اسپانيا شول.

او له همدې ځایه دې رښتیني حقیقت ته رسېږو چې هېڅکله ناسم نه خیژي: هغه څوک چې د بل چا د سترتوب او پیاوړتیا لامل ګرځي خپله له منځه ځي.
څرنګه چې دا ډول سترتوب او غښتلتیا د پلمې او یا د ځواک په پایله کې رامنځته کېږي، نو دا دواړه په هغه چا کې چې سترتوب ته رسېدلی دی د بې باورۍ حس را پورته کوي .

## څلورم څپرکی

د داریوس هېواد چې د مقدونیې د سکندر تر ولکې لاندې راغی، ولې د دې هېواد وګړو د سکندر تر مړینې وروسته د هغه ځایناستو په وړاندې پاڅون ونه کړ؟

لوی سکندر اسیایي هېوادونه د څو کلونو په ترڅ کې ونیول او مخکې له دې چې ټوله اسیا ولکه کړي، ومړ. هغو ستونزو ته په پام سره چې په یوه نوي نیول شوي هېواد کې رامنځته کېږي، شونې وه داسې اټکل وشي چې د هغه تر مرګ وروسته به دا ټول هېوادونه راوپارېږي، د هغه د دولت په وړاندې به پاڅون او سرغړونه وکړي. خو له دې اټکلونو سره سره د سکندر ځایناستي د دې جوګه ول چې دغه پراخ هېوادونه وساتي او یوازېنۍ ستونزه یې هماغه واکپالنه ((جاه طلبي)) او خپلمنځي کینې وې، چې د یوه او بل په وړاندې یې درلودې.
که څوک د دې لامل له ما وپوښتي، داسې ځواب به ورکړم:
ټولې هغه واکمنۍ چې په تاریخ کې ثبت دي له دوو حالاتو خالي نه دي. یا یوازې یو مطلق ټولواک پر هغوی واکمني کوي او نور ټول یې ځانګړي نوکران دي، چې د هغه د واکمنۍ په وړاندې بېولو کې د وزیرانو په بڼه چارې پر مخ بیایي، مرسته ورسره کوي او دا هغه ډله ده چې ده ته نژدې کسان دي یا دا چې یو ټولواک هلته له یو شمېر اشرافیانو سره سلطنت کوي چې هر یو یې ځانګړي نومونه ((لقبونه))، مقام او لاس لاندې خاورې ((قلمرو)) لري. خو دا نومونه او مقامونه هغو ته ټولواک نه وي ورکړي بلکې له پخوانیو زمانو څخه هغوی ته په میراثي ډول وررسېدلي او د هغوی د شتمنۍ یوه برخه ده. په دوی کې هر یو ځان ته بېل ایالتونه او ځانګړي وګړي لري او خپله یې اداره کوي، چې وګړي هغوی د واکمنانو په توګه پېژني، ورسره پاکه مینه کوي او د هغوی په وړاندې ځانګړې علاقه ښیي.
په هغه هېواد کې چې یو مطلق ټولواک حکومت کوي، واک او ځواک خپله د ټولواک په لاس کې دی، نو په ټول هېواد کې خپله له ټولواک پرته بل څوک د نفوذ څښتن نه دی او که وګړي له ټولواک پرته د بل چا اطاعت او پیروي کوي، یوازې وزیران او د منصب څښتنان دي، چې د ټولواک له خوا ټاکل شوي، خو د هغوی په وړاندې د ولس له خوا څه مینه نه ښودل کېږي.
موږ په خپل وخت کې د پورتنیو دواړو واکمنیو بېلګې لرو، چې یو یې عثماني ټولواک او بل یې د فرانسې پاچا دی. ټول عثماني هېواد ((خلافت)) یوازې یو مطلق ټولواک اداره کوي، چې نور ټول یې نوکران دي. ټول عثماني خلافت یې پر ولایتونو وېشلی، هر ولایت ته حاکم استوي او له خپلې خوښې سره سم، هر وخت چې وغواړي، هغوی ټاکلی او بېرته لیرې کولی شي. خو د فرانسې سلطنت دا ډول نه دی؛ ټولواک د ګڼ شمېر اشرافیانو تر منځ ځانګړی ځای لري، چې هر یو یې د خپلو رعیتونو یا وګړو له خوا د درناوي وړ ګڼل کېږي او عام وګړي په بشپړه توګه هغوی ته غاړه ږدي. د هغوی ارثي لقب او مقام ټاکل شوی، چې ټولواک نه شي کولی له هغوی دغه لقب او ځای ځایګی واخلي، پرته له دې چې ټولواک ته د ځاني ګواښ لامل شي.
له همدې امله که څوک د دې دوو واکمنیو د ډول تو پیر وارزوي، نو ورته جوته به شي، چې د عثماني هېواد نیول څومره ستونزمن کار دی. خو همدا چې تر ولکې لاندې راغی، بیا یې ساتل ډېر اسانه هم دي. په نیولو کې یې ستونزې له دې امله رامنځته کېږي چې هلته اشرافیان نه شته، چې یرغلګر ټولواک خپل هېواد ته رادننه کړي او داسې هیله هم ترې نه شي کېدی چې د یرغلګر ټولواک له لښکرو سره به د اوسني ټولواک ناراضیان مرستې ته زړه ښه کړي او د خپل ټولواک په وړاندې به پاڅون وکړي. ځکه لکه څنګه چې مو پورته وویل، هغوی ټول د ټولواک نوکران دي، چې خپل مقام او اعتبار یوازې د ټولواک پېرزونه ګڼي. له همدې امله له ټولواکه په اسانۍ مخ نه ګرځوي یا ژر نه بېلاري کېږي او که بیا بېلاري هم شي، نو دومره نفوذ

نه لري او نه شي کولی چې ځایي خلک له ځانه سره واړوي.
له همدې کبله هغه څوک چې غواړي پر ترکې يرغل وکړي بايد په فکر کې راغبرګه کړي چې د يولاس ((متحدو)) خلکو له يو شمېر سره مخامخ کېږي او دې کار لپاره دې يواځې په خپل ځواک ډډه ووهي نه په دې هيله چې د هغوی کورنی تاوتريخوالی به ورته لاره اواره کړي.
خو که د عثماني ټولواک لښکرو)) ځواکونو)) يو ځل ((د جګړې)) په ډګر کې ماتې وخوړه، د لښکرو بيا سمبالول او راټولول يې شوني نه دي. او له دې وروسته به ((نيواکګر)) په خپله مخه کې د خواشينۍ کوم بل لامل ونه لري، پرته د پخواني ټولواک له کورنۍ څخه چې که د هغې ټغر هم ور ټول کړي، نوره هېڅ اندېښنه به ور پاتې نه شي. له ولس څخه بايد هېڅ وېره ونه لري، لکه چې د نوي هېواد له نيواک څخه مخکې يې هغوی ته هېڅ تمه نه کوله له فتحې وروسته هم بايد کومه وېره ترې ونه لري. خو د فرانسې په شان سلطنتونو کې د عثماني خلافت برعکس د نا خوښو اشرافيانو په مرسته چې په داسې سلطنتونو کې يې شتون حتمي دی، او تل د يو اوښتون ((تحول)) او د هېواد د فعلي اوضاع د تغير په هڅه کې وي، او هېواد ته د ننوتلو لار د فاتح پر مخ خلاصوي، يرغلګر ټولواک په ډېره اسانۍ د هېواد په نيولو بريالی کېږي.
خو که اوس تاسې وغواړئ چې دا هېواد له دې وروسته د ولکې لاندې وساتئ له بې شمېره ستونزو سره مخ کېږئ. ستونزې د دواړو هغو ((خلکو)) له خوا چې تاسې سره يې هېواد ته په ننوتلو کې مرسته کړې او د هغو له خوا چې تاسې راپرځولي دي راپورته کېږي. د هېواد د ټولواکو د لړۍ ((د ټولواک کورنۍ)) له منځه وړل به هم تاسې ته بسنه ونه کړي .ځکه هغه با نفوذه اشرافيان او اعيان چې لا پاتې دي هر وخت کولی شي چې د نويو غورځنګونو مشري پر غاړه واخلي او تاسې به ددې جوګه نه ياست چې له هغوی سره جګړه وکړئ او يا يې له منځه يوسئ. او چې څنګه وار ترلاسه کړي هېواد به د ستاسې له ولکې وباسي.
اوس که تاسو د داريوس د حکومت ځانګړتياوې وارزوئ، نو جوته به شي چې له عثماني خلافت سره يو شان و. ځکه نو سکندر ته يوازې په کار و چې داريوس ته د جګړې په ډګر کې ماتې ورکړي او وې ځپي، بيا يې لښکرې تيتې او پرکې کړي، خاوره يې ترې ونيسي او هغه تېښتې ته اړ کړي، چې له دې جګړې او فتحې وروسته داريوس هم ووژل شو او دا ټول پراخه هېوادونه د پورتنيو دلايلو له مخې د تل لپاره سکندر ته پاتې شول. که د سکندر سرداران د هغه له مړينې وروسته يو لاس پاتې وی، نو د تل لپاره به کرار وی او هېوادونه به يې په اسانۍ ساتلي وی. ځکه په دغو هېوادونو کې بل هېڅ ډول ناوړه پېښه رامنځته نه شوه، پرته له هغو پېښو چې د سکندر سردارانو په خپل سري توګه په خپل لاس راپېدا کړې. خو د فرانسې په شان تشکيل شويو هېوادونو تر ولکې لاندې ساتل، چې د ټاکلو او ځانګړو ترتيباتو لرونکي دي، په داسې اسانۍ شوني نه دي.
او هغه پاڅونونه چې بيا د روميانو په وړاندې په اسپانيا، فرانسې او يونان کې راوپارېدل د هغوکښو کوچنيو واکمنيو له خوا رامنځته کېدل چې په دې هېوادونو کې يې شتون درلود. تر هغې چې هغوی ته خپله پخوانۍ خپلواکي ورپه زړه وه، د روميانو حکومت پر هغوی ډېر ډاډمن نه و او روميان له ډېرې نا کرارۍ سره مخامخ وه. خو وروسته له دې چې دا يادونه ((خاطرې ((د روميانو د اوږدې واکمنۍ له امله او د وخت په تېريدو د دې هېوادونو د اوسېدونکو له مغزونو څخه ووتل، بيا د روميانو واکمني هلته په کراره شوه او د هغوی له اداري ډاډمن شول. کله چې ددې هېوادونو د اوسېدونکو تر منځ د پولو د ټاکلو پر سر تاؤتريخوالی راپورته شو، هر يوه د هېواد له خاورې، يوه برخه خپل ځان پورې وتړله او د پخوانيو ټولواکو لړۍ په همدې ځای کې غوڅه شوه او توکم يې له منځه لاړه. څرنګه چې د هغوی تر منځ د نفوذ کوم بل څښتن نه وه پاتې، نو ځکه يې د روم هېواد ته واکمني وسپارله او سر يې ورته کېښود.
کله چې دا ټول مسئلې په پام کې ونيسي هېڅ څوک به تعجب ونه کړي چې سکندر څنګه وکړی شول په دومره اسانۍ د ټولې اسيا څښتن شي او د اسيا امپراتوري ولکه کړي. پداسې حال کې چې پيرهوس Pyrrhus او زيات شمېر نورو د خپلو ولکه کړو هېوادونو په ساتلو کې ډېرې ستونزې درلودې او وې نشو کولی هغه هېوادونه اداره کړي. او دا ټول د فاتحينو د لږ يا زيات لياقت او استعداد له مخې نه و بلکې د دې هېوادونو د حکومت د ځانګړتياؤو او د حکومت د ډول له مخې و چې د دغو اتلانو ورسره سرو کار درلود، نو ځکه يې ځان ته رعيت کړي ول .

د خپلواکو يا هغو هېوادونو او ښارونو په اړه چې له ولکې وړاندې د خپل دود او قانون لاندې اوسېدل، هغوی څه ډول او څنګه تر ولکې لاندې وساتل شي؟

هرکله چې د نوي نيول شوي هېواد اوسېدونکي لکه پورته چې وويل شول، د خپل ځانګړي قانون او خپلواکۍ لاندې په استوګنه روږدي شوي وي، ساتلو لپاره يې درې ارونه يا لارې- چارې شته دي:
لومړی دا چې هغوی وران او تباه کړي، دويم دا چې ټولواک خپله لاړ شي او هلته د هغوی تر منځ ميشت شي، دريېم دا چې اجازه ورکړي د هغه هېواد اوسېدونکي د خپل قانون او دود لاندې ژوند وکړي او يوازې پر يوه قلنګ بسنه وکړي او د هېواد واکمني د هغه هېواد يو شمېر داسې اوسېدونکو ته وبښي، چې د ټولواک نږدې او وفادار خواخوږي دي. د نوي ټولواک يو داسې لاسپوڅی حکومت به په زړه کې تل داسې تېروي، چې د ټولواک له مرستې او ملګرتيا پرته د ځان د ټينګولو نه دی، نو ځکه به هڅه کوي چې ((نوي ټولواک)) د سلطنت ملاتړ خپل کړي.
له دې امله د هغه ښار ((هېواد ((او سېدونکو، چې سياسي ژوند يې د خپل قانون لاندې تېر کړی او تر خپل دود لاندې په اوسېدلو روږدي دي، د اداره کولو ښه لار يې دا ده چې د هماغه ښار يا ايالت په اوسېدونکو يې وساتي .
د دې حکومتونو د بېلګې په توګه موږ دلته سپارتيان Spartans او روميان Romans لرو. سپارتيانو د اتن Athens او تېبس Thebes ښارونه د اوليګارشۍ Oligarchy په مرسته د خپلې ولکې لاندې وساتل، خو وروسته يې له لاسه ورکړل.
له بلې خوا روميانو د کاپوا Capua ، کارتاژ Carthage او نومانسيا Numantia درې واړه ښارونه وران او ړنګ کړل، تر پايه يې وساتل، او له لاسه يې ورنه کړل خو کله چې يې وغوښتل يونان هسې وساتي، لکه د سپارتيانو په ولکه کې چې و، په دې مانا چې د هغه ښار اوسېدونکو ته يې پخوانۍ خپلواکي بيا ورکړه، چې د هغه ځای وګړي خپل حکومت تر خپلو ټاکلو قوانينو لاندې خپله اداره کړي. خو داسې ونه شول او له همدې کبله ((روميان ((دې ته اړ شول چې د دې هېواد زيات شمېر ښارونه ړنګ او ويجاړ کړي، چې اوسېدونکي يې هغوی ته غاړه کېږدي او تر ولکې لاندې يې راولي. ځکه جوته ده چې د يوه ډاډمن دولت د رامنځته کولو او له راتلونکو ګواښونو د مخنيوي لپاره بله ډاډمنه او خوندي لار نه شته، پرته له دې چې هغوی وران او ړنګ کړئ. که دا کار ونه شي نو خپله به ټولواک د هماغه ښار له خوا له ورانۍ او تباهۍ سره مخ کېږي او هر څه به بايلي. ځکه که هماغه ښار پاڅون وکړي او ياغي شي، تل کولی شي ځان د خپل پخواني دود ، قانون او خپلواکۍ تر شعار لاندې وساتي، هېڅکله به د وخت تېرېدل او د ګټو او مرستو رسول د هغه دود او قانون اغېزې د اوسېدونکو له ذهنه ونه باسي. که هر ډول تدابير يې په وړاندې ونيسئ او هر څه وکړئ، په ياد ولرئ چې تر څو د دې هېواد اوسېدونکي تيت او پرک نه کړئ شونې نه ده هغه دودونه او قوانين چې دغه وګړي ورسره روږدي دي، ((د هغوی)) له يادښته وباسئ او هرکله چې موقع په لاس ورغله، يا تاسو له کومې بدمرغه پېښې سره مخ شوئ، د ستاسو په وړاندې به پاڅون کوي. لکه د پيزا Pisa هېواد چې تر سلو کلونو مرييتوب وروسته د فلورېنسيان په وړاندې پاڅون وکړ.
خو کله چې د هغو هېوادونو او ښارونو اوسېدونکي، چې نوي تر ولکې لاندې راغلي، د يو ټولواک تر واکمنۍ لاندې پر ژوند روږدي وي او د هغوی د ټولواک لړۍ يا کورنۍ هم له منځه وړل شوې وي، له ستونزو ډک کار به وي، چې دا وګړي په خپلو کې د يو ټولواک يا مشر پر ټاکنه جوړ جاړی وکړي او څرنګه چې له يوې خوا د خپلواکو خلکو په څېر ژوند ته روږدي نه دي بلکې تر اطاعت لاندې راوستل شوي، او له بلې خوا يې د پخواني ټولواک نسل هم له منځه تللی دی، ممکنه نه ده چې په خپلو کې يو بل څوک پر دې څوکۍ وټاکي او حکومت په خپل لاس کې واخلي. نو له همدې امله به د وسلو په راپورته کولو او د پاڅون په راپارولو کې ډېر پڅ وي. په دې صورت کې يو بهرنی ټولواک کولی شي په اسانۍ هغوی ځانته راواړوي او د سولې په چاپېريال کې حکومت پرې وکړي.
خو د جمهوري دولتونو ولس په زړونو کې يو غښتلی روح، يوه ډېره تېره رخه او د غچ اخيستلو کلک حس لري او هېڅکله به د هغې خپلواکۍ يادښتونه چې وړاندې يې درلوده، هغوی په کراره پرې نږدي. نو له دې کبله د هغوی له پاڅون او بغاوت د کرارۍ تر ټولو ډاډمنه لار دا ده چې دغه ښارونه يا ايالتونه په بشپړه توګه ړنګ کړي او يا دا چې ټولواک خپله هلته لاړ شي او د هغوی په منځ کې ميشت شي .

## شپږم څپرکی

د هغو نويو هېوادونو په اړه چې يو چا د خپلې وړتيا يا خپلو لښکرو په مرسته تر ولکې لاندې راوستلي وي

ښه ده چې هېڅ تعجب ونه کړئ، که زه د بشپړو نويو هېوادونو په اړه خپلو خبرو کې د هغو هېوادونو تر ټولو مهمې بېلګې وڅېړم، چې هم خپله نوي تر ولکې لاندې راغلي او هم يې ټولواکي نوي او تازه واک ته رسېدلي وي. که څه هم هغه وګړي چې د نورو پر پله پښه ږدي او غواړي چې د هغوی د ښو کړنو تقليد وکړي، نه شي کولی خپل منزل ته ورسېږي، د هغوی لارې په سمه توګه ووهي او د تقليد کړی شويو وړتيا او استعداد ته ورسېږي. خو يو هوښيار بايد تل پر هغو لارو تګ وکړي چې اوچتو او نوميالیو څېرو په برياليتوب وهلې دي او د هغو خلکو تقليد وکړي چې په نړۍ کې ((د فکر او عمل له نظره)) نوميالي او مشهور ول. که د هغوی په اندول وړتيا ونه لري، نو د هغوی له ممتازو کړنو خو به څه ګټه پورته کړي.

پر برېدګ چې هغه خپلې کړنې د يو ماهر غشي وېشتونکي په څېر ترسره کړي چې د نښې واټن له ليرې ځايه ارزوي، د خپلې لينديی د وېشتونکي ځواک کچه هم ښه ورته ځرګنده وي او د نښې د وېشتلو پر مهال خپله نښه له هدف څخه ډېره پورته نيسي، خو له دې يې موخه دا نه وي چې خپل غشی دومره جګ لوړوالي ته ورسوي بلکې غواړي چې د جګې نښې په نيولو خپل غشی هغه هدف ته ورسوي چې د وېشتلو هيله يې لري.

نو وايم، د يو هېواد په ساتلو کې چې ټولواک يې هم نوی واک ته رسېدلی وي، د ستونزو لږوالی او ډېروالی د هغه هېواد د نوي ټولواک په لړې- ډېرې وړتيا پورې اړه لري.

اصلاً، څوک چې مخکې ټولواک نه و او همدا اوس له يو عادي سړي يا له شخصي مقامه پر ګدۍ ناست وي، بايد له ذاتي وړتيا او يا ښه بخت او تقدير څخه برخمن وي. له دې دواړو د يوه شتون به هغه ته د برياليتوب لاره اواره کړي او موخې ته د رسېدو لپاره به د هغه ستونزې حل کړي. خو هغه چا چې په بخت پورې لږ زړه تړلی، زياتره ډېر بريالي شوي او ځواکمن دولتونه يې رامنځته کړي دي. که داسې ټولواک بل ايالت يا هېواد ونه لري، نو ورته په کار ده چې په خپله په دې هېواد کې، چې نوی يې تر ولکې لاندې راوستلی دی، مېشت شي، چې دا به د هېواد په ساتنه کې د هغه کار نور هم اسانه کړي.

اوس که هغه چاته راشم، چې د بخت او تقدير له لارې نه بلکې د وړتيا او استعداد له مخې د ټولواکۍ مقام ته رسېدلي دي او په اړه يې خبرې وکړم، نو په کار ده ووايم چې حضرت موسی عليه السلامMoses ، لوی کوروسCyrus ، رومولوس Romulus، تيسيوسTheseus او د هغوی په څېر نور يې تر ټولو ښې او اوچتې بېلګې دي. که څه هم کېدی شي حضرت موسی عليه السلام په دې بحث کې وانه خلو. ځکه هغه د پاک خدای استازی و، خو بيا هم په هغه غوره والي يا برترۍ د ستاينې وړ دی، چې له خدای جل جلاله سره يې د مخامخ خبرو مستحق وګرځاوه. خو که لوی کوروس او نور په پام کې ونيسو، چې پراخه هېوادونه يې تر ولکې لاندې راوستلي او لوی سلطنتونه يې رامنځته کړي دي، وبه وينو چې هغوی ټول د ستاينې وړ دي، د هغوی کړنې او په تېره بيا که د هغوی لوی دولتونه، چې رامنځته کړي يې ول، په غور وارزول شي، جوته به شي چې هېڅ يو د دولت په اداره کې له حضرت موسی عليه السلام څخه کم نه و، سره له دې چې حضرت موسی عليه السلام د لوی خدای جل جلاله په شان يو بې ساري لارښود درلود.

پر دې سربېره که د هغوی ژوند او کړه وړه په ځير سره وارزوو، وبه وينو چې هغوی له بخت او تقديره هم پوروړي نه ول، پرته له هغو فرصتونو، چې هغوی ته يې داسې خام توکي راوړل، چې وکولی شي له خپلې خوښې سره سم يې هغه ډول قالب کړي، چې ورته ښه برېښېدل. په بله وينا :پرته له هغو مناسبو مهالويشونو څخه چې په مرسته يې وکولی شول د خپلو عصرونو تر ټولو ستونزمنې مسئلې له خپلې خوښې سره سمې اوارې کړي. ښايي له دې مناسبو فرصتونو پرته د هغوی دماغي ځواک بېځايه لګېدلی وی او له بلې خوا د هغوی د فطري او ذاتي وړتيا په نشتوالي کې به هغه مساعد فرصتونه بې ګټې شوي وی.

ځکه نو په کار وه چې حضرت موسی عليه السلام بني اسرائيل د مصريانو تر تعقيب او غلامۍ لاندې پيدا کړي او بني اسرائيل د مصريانو د راز راز تېريو له کبله پوزې ته راشي چې د پاک خدای د پيغمبر اطاعت ته غاړه کېږدي او په دې توګه د مصريانو له غلامۍ خپلواک شي.

همدارنګه ددې لپاره چې د روم د تاريخي ښار بنسټ کېږدي، اړينه وه چې رومولوس په البا کې هېڅ استوګنځی ونه لري او بايد د زوکړې پر مهال د بې کوره ماشومانو په څېر چېرته يوازې پرېښودل شي.

لوی کوروس ته پکار وه چې د فارسیانو ناخوښي د مادیانو Medes د حکومت په وړاندې څرګنده کړي او همدا راز پوه شي چې مادیانو د سولې پر مهال د اوږد راحت له امله د اتلولۍ هغه ځانګړې روحیه له لاسه ورکړې او ښځني شوي دي. تیسیوس هم که د اتن وګړي بې اتفاقه او پراګنده نه وی پیدا کړي، هېڅکله یې نه شو کولی خپله پرېکنده او ځانګړې وړتیا ښکاره کړي. که څه هم دغه فرصتونه چې د هغوی لاسته ورغلي، هغوی یې نېکمرغه کړي ول، خو دا د هغوی فطري وړتیا وه چې دوی یې د دې وړ وګرځول چې دغه مساعد فرصتونه وپېژني او د خپلو هېوادونو د ویاړ، لوړتیا او مشهورتیا لپاره یې وکاروي. څوک چې د دې ډول خلکو په څېر په مېړانه او زړورتیا سلطنت ته رسېږي، په پیل کې له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي او په سختۍ یې ترلاسه کوي، خو وروسته د هغه هېواد ساتنه خورا اسانه وي.
له کومو ستونزو سره چې هغوی بیا د ولکې پر مهال مخ کېږي، له هغو قوانینو او تشکیلاتو څخه رامنځته کېږي چې یو ټولواک یې د خپلې واکمنۍ د بنسټ کلکوالي او تلپاتېوالي لپاره له ناچارۍ پلي کوي.
په کار ده یادونه وکړم چې یوه مسئله هم په پلي کولو کې داسې ستونزمنه، په اداره کولو کې داسې له ګواښه ډکه او په بري کې داسې شکمنه نه ده، لکه د نویو قوانینو او اصلاحاتو مشري چې یو څوک پر غاړه واخلي. ځکه هغه څوک چې د دې بدلونونو او اصلاحاتو نوښت یا مشري پر غاړه لري، په ټولنه کې د هغو شمېر خلکو دښمني پر غاړه اخلي چې په تېرو شرایطو کې یې سوکاله ژوند درلود، او دغه اصلاحات به یوازې یو څو بې پرې ملاتړي ولري او دا به هغه څوک وي چې له دې بدلونونو او اصلاحاتو سره یې ژوند ښه شوی دی.
د هغو دغه بې پرېوالی هم تر یو ځایه له هغو مخالفینو د وېرې له کبله دی، چې قانون یې ملاتړ کوي او تر یوې کچې د وګړو د بې اعتباره روح له کبله دی چې هېڅکله چمتو نه دي یو نوی شی ومني، تر هغو چې اوږده تجربه یې ونه لري او وروستۍ پېښې یې ریښتینولي او ګټې ورته په زبات نه کړي .هرکله چې د نویو اصلاحاتو او بدلونونو مخالفین پر تاسو د یرغل او پاڅون موقع پیدا کړي، د هغوی یرغل یا پاڅون به له یوې پرېکندې روحیې سره ملګری، له تعصبه ډک او یو لاس وي. د نوي ټولواک پلویان به په ډېرې ضعیفۍ او بېوسۍ د هغوی دفاع ته وردانګي، چې له کبله به یې هم خپل ځان او هم ټولواک له ګواښ سره مخ کوي.
د دې لپاره چې دغه برخه په بشپړه توګه روښانه کړو، په کار ده چې وګورو ایا د نویو اصلاحاتو نوښتګر کولی شي په یوازې سر دغه اصلاحات پلي کړي که په دې برخه کې د نورو مرستې ته اړتیا لري؟ په بله وینا: ایا هغه د خپل پلان د عملي کولو لپاره له سوله ییزو منډو- ترړو څخه کار اخلي، که له ځواک څخه؟...
که لومړۍ لار غوره کړي، هېڅکله په دې ازموینه کې نه بریالی کېږي او له دې لارې څوک خپلې موخې ته نه رسېږي بلکې پایله یې هم زیان رسوونکې او ناوړه ده. خو که هغه پر خپلې وړتیا ډډه لګوي او د ځواک په کارولو خپلې موخې ته ځان رسوي، په دې صورت کې ډېر لږ له ګواښ سره مخ کېږي.
نو دلته دې پایلې ته رسېږو: ټول هغه پیغمبران، چې وسله وال ول، بریالي شوي او بری یې ترلاسه کړی دی، خو هغوی چې وسله وال نه ول، ((د فتحو په لاسته راوړلو کې له ستونزو سره مخ شوي او ((وژل شوي دي.
سربېره پر دې دا هم د یادونې وړ ده چې د خلکو طبیعتونه په ډېره اسانۍ اوښتونکي دي، لکه څنګه چې یې یو کار ته راماتول اسانه دي په هماغه کار کې یې درول، ستونزمن هم دي. له دې امله باید چارې داسې ترتیب کړو چې که خلک په خپله خوښه او مینه پر هغوی باور پیدا نه کړي، نو د ځواک په کارولو یې باید دې ته اړ کړو چې باور او اعتماد پیدا کړي.
که د تاریخ دغه سترې څېرې، لکه: حضرت موسی علیه السلام، لوی کوروس، رومولوس او تیسیوس وسله وال نه وی، هېڅکله به نه وی بریالي شوي چې خپل اصول او مقررات تر ډېره او په هرې موقع کې پلي کړي، لکه زموږ په پېر کې چې فراګیرولامو ساوونارولا Fragirolamo Savonarola ته ورپېښې شول، د هغه ټول نوښتونه، نوي اصول، قوانین او مقررات بې ګټې شول او د هغه په رنګېدو پای ته ورسېدل، زیات شمېر خلک له هغه څخه واوښتل او پرې بې باوره شول. په دې وخت کې هغه نه داسې وسایل درلودل چې ملاتړي یې هماغسې د پخوا په څېر وفاداره وساتي او نه یې کولی شول چې بې اعتماده کسان دې ته اړ کړي، چې پر ده باور وکړي او له ځان سره یې ملګري کړي.
نو له دې کبله اوچتې څېرې، چې پورته یې یادونه وشوه، یوازې د نویو اصلاحاتو په پلي کولو او په اداري اصلاحاتو کې ستونزې لري او له ګواښونو سره مخ کېږي. هغه څه چې د هغوی لپاره اړین دي زړورتیا ده، چې کولی شي هغوی پر ستونزو برلاسي کړي. کله چې پر ستونزو برلاسي شول، د پاملرنې او درناوي وړ وګرځېدل، له هغو څخه چې د دوی له واک او ځواک سره یې رخه درلوده، بې غمه شول، نو بیا به ځواکمن، د درناوي وړ، سرلوړي، کرار او نېکمرغه پاتې شي.

غواړم پورتنیو لاسوندونو ته دا یو هم ورزیات کړم. که څه هم زیات مهم نه دی خو له هغو سره یو څه ورته والی لري او موضوعګانې یې سره نژدې دي .هیله لرم چې د یادو شویو خبرو لپاره به بسنه وکړي. هغه د سیراکوس اتل Hero the Syracusanدی چې له عادي مقام څخه ټولواکۍ ته ورسېد او له بخت څخه پوروړی نه و .یوازې مناسبې موقع دا وخت ورکړ چې ګټه ترې پورته کړي او خپلې موخې ته ورسېږي.

د سیراکوس اوسېدونکي چې د تېریو له کبله له زیاتو فشارونو او ستونزو سره مخامخ شول، دغه سړی یې د خپل مشر په توګه وټاکه او هغه بیا دغه چارې په داسې ښه توګه ترسره کړې چې وروسته د دې وړ وګرځېده چې د هغوی ټولواک شي.

کله چې هغه یو عادي وګړی و او سلطنت ته لا نه و رسېدلی زیاته وړتیا یې درلوده چې یو لیکوال یې په اړه داسې لیکي ":د عادي وګړي په توګه مخکې تر دې چې پاچایۍ ته ورسېږي، له یوه ټولواک څخه یې له تخت پرته بل څه نه و کم".

دا سړی چې ټولواکۍ ته ورسېد پخوانۍ لښکرې یې له منځه یوړې او پر ځای یې نوی پوځ رامنځته کړ. ټول پخواني متحدین یې پرېښودل او پر ځای یې له خپل سیاست سره سم نوي متحدین ونیول. له نوي ملي پوځ او نویو متحدینو سره هغه په دې وتوانېد چې پر همدې بنسټونو خپله واکمني په هر ډول چې یې خوښه وه ټینګه کړي. که هغه د واک او دې څوکۍ د ګټلو لپاره ډېرې ستونزې وګاللې، ساتل یې ورته ډېر اسانه و .

## اووم څپرکی

د هغو نویو هېوادونو په اړه، چې یو چا د ښه بخت او یا د نورو په مرسته ترلاسه کړي وي

څوک چې د ښه بخت په ملګرتیا له یوې عادي څوکۍ تر ټولواکۍ رسېږي، کولی شي دا مقام په ډېره اسانۍ ترلاسه کړي او په خپل پرمختګ کې له ډېرو لږو ستونزو سره مخامخ کېږي. خو په دې مقام کې د ځان ټینګول ورته ستونزمن وي .داسې خلک د موخې پر لور په خپله لار کې هېڅ ستونزې نه لري. ځکه هغوی داسې مثال لري لکه مخ پورته چې روان وي. خو کله چې لوړې څوکې ((اوج)) ته ورسېږي، ځان نه شي ټینګولی او لاندې رالوېږي. دا ډله هغه څوک دي چې یا د نقدي لاملونو ((شتمنۍ)) په بدل کې او یا د یو ټولواک د مرستې او پېرزونې په ترڅ کې ځینې ایالتونه ورښېنل شوي وي، لکه یو شمېر چې د یونان په ایونیا Ionia او هلیسپانټ Hellespont ښارونو کې د داریوس د پېرزونې په پایله کې واکمن وټاکل شول. داریوس دغه ښارونه هغوی ته د ښه امنیت په ټینګولو او د هغوی وفادارۍ ته په پام سره د خپل ځانګړې واک د تلپاتېوالي لپاره ورښېنلي ول.

همدارنګه د هغو امپراتورانو مثال هم دی، چې د یو هېواد د لښکرو د بېلارۍ او فساد له کبله له یو عادي وګړي تر امپراتورۍ ورسېږي. دا ډول ټولواک په بشپړه توګه د هغه چا پر پېرزونه او بخت ډډه لګوي، چې دی یې نوموړې څوکۍ ته رسولی دی. خو دا (پېرزونه او بخت) دوه بې ثباته او اوښتونکي څیزونه دي چې هېڅکله باور پرې نه شي کېدی. دغه ډول ټولواکي نه اړینه پوهه لري او نه هم هغه مهارت، چې دغه څوکۍ ورته اړتیا لري. نو له کبله یې نه شي کولی دغه څوکۍ وساتي. ځکه تر هغې چې دغه کسان د یوې سترې وړتیا څښتنان نه وي، په داسې حال کې چې ټول ژوند یې د یو عادي شخص په توګه تېر کړی دی، د دې څوکۍ د پر مخ بیولو هیله ترې نه شي کېدی. دا خلک د ځواک په کارولو هم ځان نه شي ساتلی. ځکه هغوی داسې ځواکونه نه لري چې په وفادارۍ او مرستې یې زړه وتړي.

هغه هېوادونه چې په چټکۍ تر ولکې لاندې راځي د ټولو طبیعي شیانو په څېر چې په چټکۍ وده کوي، ربښې او له نورو هېوادونو سره اړیکې یې دومره ټینګې نه وي چې د ناوړه پېښو لومړی توپان یې له بېخه ونه باسي.

لکه څنګه چې وویل شول، تر هغې چې ټولواک د دې وړتیا ونه لري چې په چټکۍ زده کړي، له هغه هېواده به څنګه ساتنه کوي چې ښه بخت پرې پېرزولی دی، همدا راز تر ولکې وروسته د خپلې واکمنۍ بنسټ داسې کلک کړي لکه نورو چې د خپل امنیت او واکمنۍ د تلپاتېوالي لپاره کلک کړی دی، نه شي کولی خپلې لاسته راوړنې خوندي کړي.

د دې دوو لارو ، یانې وړتیا او بخت په اړه به زه دوه بېلګې راوړم چې تر اوسه هم زموږ په یادښتونو کې پاتې دي. هغه فرانسېسکو سفورتسا او سیزار بورجیا دي. فرانسېسکو سفورتسا چې یو عادي وګړی و ، پرمختګ یې وکړ د میلان

ټولواک شو او په ډېره اسانۍ او لږو ستونزو يې وکولی شول دا هېواد وساتي. په داسې حال کې چې د هېواد د ترلاسه کولو په لار کې يې ډېرې ربړې او ستونزې وګاللې.

له بلې خوا سيزار بورجياCesar Borgia ، چې د خلکو په منځ کې د ډيوک ولنټينو Duke Valentino په نامه مشهور و ، د خپل پلار په واکپېر کې يې دولت ترلاسه کړ او د هغه د واک او نفوذ په پربوتنه يې له لاسه ورکړ. که څه هم هغه له خپلې وړتيا سره سم ټول ترتيبات ونيول او ټولې هڅې يې وکړې چې د دې څوکۍ د ساتنې لپاره اړينې وې او يو وړ او هوښيار ټولواک يې د هغې واکمنۍ د بنسټ د ټينګولو لپاره کوي چې د نورو بخت پرې لوروله وي، خو هېڅ نتيجه يې ورنه کړه او هېواد يې له منګولو ووت.

لکه څنګه چې مو مخکې يادونه وکړه، هغه چا چې له پيله د خپلې واکمنۍ د ټينګښت لپاره بنسټ نه وي کلک کړی، که د ښه ځواک او فطري وړتيا څښتن وي، ښايي وروسته يې د ټينګولو هڅه وکړي، خو دا وروسته والی بنسټ ايښودونکی له ډېرو ستونزو سره مخ کوي او کېدای شي ودانۍ پرې ړنګه شي.

که د ډيوک ولنټينو ټول تدابير وارزول شي، نو وبه ليدل شي چې هغه د خپلې واکمنۍ د راتلونکي لپاره ډېر پياوړی بنسټ ايښی و او زه يې په اړه دا څېړنه بې ګټې نه بولم. ځکه د هغه ټولواک لپاره چې نوی واک ته رسېدلی وي، د ډيوګ ولنټينو له کړون څخه پرته بله ښه بېلګه زما نظر ته نه راځي. خو که د هغه ټول کړون او په واک کې د پاتې کېدو لپاره وچت شوي ګامونه بې نتيجې شول دا د هغه ګناه نه وه بلکې د هغه د بخت له پوره شومتيا څخه يې بايد وګڼو.

شپږم پاپ الکساندر د خپل زوی په سترتوب او واک ته په رسولو کې له ډېرو بېړنيو او ځنډنيو ستونزو سره مخامخ شو. لومړی هغه ونه شو کولی خپل زوی د يوه داسې ايالت واکمن کړي چې د کليسا په واکمنۍ پورې يې اړه نه درلوده او که يې غوښتي وی په کليسا پورې اړوند ايالت هغه ته ورکړي، نو د ميلان ډيوک او ونېسيانو به د دې کار مخالفت کړی وی. ځکه د فاينزا Feanza او ريميني Rimini ايالتونه په هغه وخت کې د ونېسيانو په واک کې ول او د پاپ د واک او نفوذ له پراختيا څخه يې وېره درلوده. د دې ترڅنګ هغه ايټالوي ځواکونه چې ممکن هغه د خپل ملاتړ لپاره کارولي وی د داسې خلکو په واک کې ول چې د کليسا له سترتوب او پراختيا څخه يې وېره درلوده لکه اورسينيOrsini ، کولونيسي Colonesi او نور. نو له همدې کبله يې پرېکړه وکړه چې د هغوی په اوسني حالت کې بدلون راولي او په يوې ګډوډۍ يې بدل کړي چې وکولی شي پرته له کوم ګواښ څخه ځان د دې هېوادونو د څو ايالتونو څښتن کړي او دا کار د هغه لپاره سخت نه و. ځکه هغه د ونېسيانو په يون پوه شوی و چې د خپلو ځانګړو ګټو لپاره په نويو دسيسو بوخت دي او غواړي چې د فرانسې پاچا يو ځل بيا د ايټاليا خاورې ته راوبولي.

پاپ نه يوازې دا چې د دې کار مخالفت ونه کړ بلکې د لوېي د پخوانۍ نکاح له لغوه کولو سره يې نوره هم لار ورته اواره کړه. له دې کبله د فرانسې پاچا د ونېسيانو په مرسته او د پاپ الکساندر په رضايت د ايټاليا خاورې ته ننوت.

ميلان ته د پاچا له رسېدو سره سم پاپ له نوموړي څخه د لښکرو مرسته واخيسته او د رومانيا Romagna پر لور يې لښکر وايست. دغه ايالت چې د فرانسې د ځواکونو له نوم او غښتلتيا څخه خبر شو ، نو سمدلاسه يې پاپ ته ځان وسپاره.

د رومانيا د نيولو او د کولونيسي تر ټکولو وروسته د پاپ زوی ډيوک ولنټينو هوډ وکړ چې خپل بری پراخ او نيول شوې سيمې هم ټينګې کړي. خو دوه لامله ول چې هغه يې له کبله ونه شو کولی دغه کار ترسره کړي:

لومړی دا چې هغه ته خپلې لښکرې وفاداره نه ښکارېدې او دويم دا چې د فرانسې د پاچا پر مرستو يې باور نه درلود.

هغه چې د اورسيني له اوسېدونکو څخه د لښکرو په توګه کار اخيست، په دې وېره کې شو ، چې نه يوازې به دغه ځواکونه تر پايه د هغه ملاتړ نه کوي بلکې د هغه په وړاندې به يو لاس شي او هغه خاوره چې ده تر ولکې لاندې راوستې، له لاسه به يې ورکړي، چې د فرانسې له پاچا هم د همدې کار تمه کېده. د اورسيني پر لښکرو يې هغه وخت د بې باورۍ ګومان وکړ، چې د فاينزا د ايالت تر ولکې وروسته يې هغوی د بولونا ايالت د نيولو لپاره ولېږل، خو ويې ليدل چې دغه لښکرې په دې کار کې زړه نا زړه دي او فرانسې د پاچا په هوډ هم ښه پوهېدلی و ؛ کله چې يې د اوربينو هېواد ولکه کړ غوښتل يې پر ټوسکانې يرغل وکړي، خو د فرانسې پاچا هغه له دې کاره ستون کړ او د کړنلارې خنډ يې وګرځېد. همدلته ډيوک نور له پرديو لښکرو او پردي بخت څخه نهيلی شو ، پر هغوی يې د بې وفايۍ شک راغی او د ده په وړاندې يې اعتماد له لاسه ورکړ. نو لومړی کار چې هغه وکړ دا و چې په روم کې يې د اورسيني او کولونيسي ډلګۍ ((دواړه)) کمزورې کړې او هغه داسې چې د هغوی ملاتړي يې چې اشرافيان او مخور ول، ځانته راواړول او د خپلو اشرافيانو او مخورو يوه برخه يې وګڼل... هغوی ته يې ښې تنخواوې وټاکلې، هر يو يې له رتبې او شان سره سم په لويو لويو څوکيو او دندو ونازاوه او په دې کار يې د څو مياشتو په

ترڅ کې ټول هغه کسان چې د هغه مخالف ول، ځانته راواړول او د هغوی ټول تړاوونه یې له خپلو ډلو ټپلو سره وشلول چې تر دې وروسته یې خپلې هیلې یوازې په ډیوک ولنټینو پورې وتړلې. له دې وروسته ډیوک د یوې بلې مناسبې موقع په انتظار کېناست، چې د اورسیني اشرافیان او نور مخور له ښې وباسي او ټوټه یې کړي. ځکه هغه د کولونیسي د ملاتړو په وېشلو بریالی شوی و، چې په پای کې د اورسیني وار هم راورسېد او له دې مناسبې موقع څخه یې هم ښه او پر ځای ګټه پورته کړه. همدلته بیا د اورسیني وګړو پام شو چې د ډیوک سترتوب او د کلیسا د واکمنۍ پراختیا د هغوی د تباهۍ لاملونه دي. همدا و چې د پرورجیا Prurgia د ماجیون Magione په ښار کې یې یوه غونډه راوبلله، چې د همدې ناستې په پای کې پاڅونونه وشول، رومانیا د اړودوړ شاهده وه او ډیوک له سترو ګواښونو سره مخ و، چې بیا د فرانسې په مرسته پر دې ټولو ګواښونو برلاسی او د پخواني اعتبار څښتن شو. خو دا ځل یې نه شو کولی پر فرانسې یا کوم بل هېواد د باور له امله خپلې دغه لاسته راوړنې بیا له ګواښ سره مخامخ کړي. نو له هغوی سره یې پلمې پیل کړې. ځکه هغه نه شو کولی چې په ښکاره ډول مخالفت ورسره وکړي، نو دې ته اړوت چې خپلې موخې ته د رسېدو لپاره له ځیرکتیا، هوښیارۍ او مهارت څخه کار واخلي نو داسې سیاست یې غوره کړ چې د سینور پاګولو Signor Pagoloله منځګړیتوب څخه کار واخلي. سینور پاګولو له هغو کسانو څخه و چې د راماتولو لپاره یې ډیوک له هېڅ ډول پاملرنې او مرستو څخه دریغ نه و کړی، هغه ته یې ډېر بخشیشونه لکه پیسې، جامې، اسونه او نور اسباب ډالۍ کړي ول. هغه اورسیني پخلا کړل ان تر دې چې د هغوی سادګۍ هغوی سینیګالیا Sinigalia کې د ډیوک لومو ته راوړل او بیا چې کله ډیوک د هغوی مشران ووژل او د هغوی ملاتړي یې ځان ته راواړول د خپلې راتلونکې واکمنۍ د ټینګښت لپاره یې ښه پوخ بنسټ کېښود، چې د اورسینو هېواد او رومانیا ټول هغه ته تسلیم شول، ټول اوسېدونکي یې د هغه پلویان شول او د هغه بریالیتوب یې د خپلې سوکالۍ یوازېنۍ لار وبلله.

څرنګه چې د هغه د کړنو دغه برخه د ځانګړې پاملرنې وړ ده او د دې لپاره چې د نورو له خوا تقلید شي، نه غواړم همداسې یې پرېږدم. نو اړ یم چې په لنډه توګه یې وڅېړم.

وروسته تر هغې چې ډیوک رومانیا ونیوله، ویې لیدل چې دغه هېواد تر دې وړاندې د کمزورو او ناوړه واکمنو له خوا اداره کېده. واکمنو د دې هېواد د وګړو او ادارې د سمون پر ځای د هغوی لوټ- تالان ته زړه ښه کړی او د هغوی تر منځ یې یووالی له منځه وړی و. چې له کبله به یې تل د دې هېواد پر وګړو ډول ډول تېري کېدل؛ لوټ ماري، شخړې او نور یې نه دي سپمولي. د دې لپاره چې په هېواد کې کراري او یو عادلانه حکومت وي، خلک قانون ته غاړه کېږدي او د پلي کېدو لپاره یې لار پرانیزي، اړینه یې وبلله چې هلته یو پوه او لایق واکمن وټاکي. ځکه یې نو میسر ریمیرو دارکو Messer Remiro d�arco چې یو پرېکنده او ظالم سړی و، هلته وګوماره او بشپړ واک یې ورکړ. دې سړي په ډېره لنډه موده کې ټول هېواد ته بیا ټیکاؤ او یووالی راستون کړ.

وروسته د ډیوک پام شو چې یو چا ته دومره واک ورکول ښه کار او د سلا وړ نه دی. ځکه هغه وېرېده چې وګړي به یې بیا کرکه ترې کوي. نو له ځان سره یې پرېکړه وکړه چې د میسر ریمیرو واک ته د پای ټکی کېږدي. ځکه یې نو د هېواد په مرکز کې د یو لایق او غوره مشر تر څارنې لاندې یوې محکمې Court of the Judgment ته دنده وسپارله چې اړوند استازي د خپلو ښارونو د ګټو او روانو چارو په اړه ویناوې وکړي. دې استازو ځانونه د خپلو ښارونو د ګټو ساتندویان بلل. همدا و ډیوک ته جوته شوه چې د تېر حکومت ناوړه چلند د وګړو په زړونو کې کرکه پیدا کړې او د هغه په وړاندې ښه احساسات نه لري. نو په دې پلمه چې ځان خلکو ته پاک وښیي او د وګړو تر منځ د ده په وړاندې ناسم احساسات په ښو واړوي او وښیي پخواني حکومت چې په دې هېواد کې هر څه کړي، په ټولو اک پورې تړاو نه لري بلکې خپله د واکمنو له بد چلند څخه رامنځته شوي ول، میسر ریمیرو یې ونیو او یو سهار یې د هغه د وژلو حکم ورکړ، د هغه مړی یې له یوه پنډ لرګي سره چې په وینو لړلې چاړه یې هم تر څنګ پرته وه، د سیسنا Cesena په پیاتسا Piazza نومې لویه لار کې د عامو خلکو تماشې ته کېښود چې یوه وېروونکې او وحشتناکه ننداره رامنځته کړي او خلک بې زړه کړي چې زړونه او رضایت یې ځانته راواړوي.

خو راځئ بېرته هغه ځای ته وګرځو چې پیل مو یې کړی و. وروسته تر هغه چې ډیوک تر یوه ځایه غښتلی شو، تر یوې کچې یې له بېړنیو ګواښونو څخه ځان په امن کړ، د ځان لپاره یې منظمې او خپلې خوښې سره سمې لښکرې تیارې کړې، له هغو مخالفو ځواکونو څخه، چې د هغه په ګاونډ کې پراته ول او کولی یې شول د پرمختګ مخه یې ونیسي، بېغمه شو، ورته پکار و چې خپل پام نور د فرانسې پر لور وګرځوي. ځکه د فرانسې پاچا تر یو ځایه په خپلو پخوانیو تېروتنو پوه شوی او ډیوک هم په دې باور و چې فرانسه به نور د هغه مرسته او ملاتړ نه کوي. نو له همدې ځایه په دې لټه کې شو چې نوي متحدین ونیسي او له فرانسې سره د وخت له غوښتنې سره سم جوړ جاړی وکړي. ځکه نو له فرانسې سره د ناپل هېواد پر لور وخوځېده چې پر

اسپانویانو چې په هغه وخت کې د ګیتا پر کلابندۍ بوخت ول یرغل وکړي. او له دې یې موخه دا وه چې ځان له هغوی څخه په امن کړي. که په دغه وخت کې د هغه پلار، پاپ الکساندر نه وی مړ شوی، نو په دې طرحه کې به هم بریالی شوی وی.
دا د هغه تګلاره وه چې د چارو د ترسره کولو لپاره یې خپله کړې وه. خو دی د راتلونکي لپاره ډېر اندېښمن و او وېرېده چې نوی پاپ، چې د هغه د پلار تر مرګ وروسته ټاکل کېده، ښایي نه یوازې دا چې د هغه ملګرتیا به نه کوي بلکې له هغه څخه به هغه لاسته راوړنې هم بېرته واخلي چې پلار یې، پاپ الکساندر وربښلې وې. نو په وړاندې یې د ممکنه پېښو د مخنیوي لپاره د څلور ډوله چارو د ترسره کولو هوډ وکړ:
۱ .د ټولو هغو ټولواکو د کورنیو له منځه وړل، چې هېوادونه یې ترې ولکه کړي ول، چې پاپ ته په دې هېواد کې د لاسوهنې پلمه برابره نه شي.
۲ .د روم ټول اشرافیان او مخور ځانته راواړوي، چې د نوي پاپ مخه ونیسي او همداسې وشول.
۳ .د کارډینالانو ډلې تر کېدونې برېده ځانته راواړوي.
۴ .د پلار د ژوند پر مهال د خپلې واکمنۍ د بنسټ پر کلکوالي د هغو پېښو پر مخنیوي بریالی شي چې د پلار تر مرګ وروسته یې اټکل کړی وي.
هغه نژدې ټول هغه ټولواکي، چې هېوادونه یې ترې نیولي و، ووژل. یوازې یو څو تنه ترې په تېښته بریالي شول. د روم ټول اشرافیان یې ځانته رامات کړل، د کارډینالانو ډله یې هم خپلې ملګرتیا ته چمتو کړه او د هرې نوې لاسته راوړنې په څېر یې هیله دا وه چې د ټوسکانې ایالت یوازېنی څښتن شي، چې په دې وخت کې نو موړې پروجیا Perugia او پیومبینو خپل کړي او له پیزا د دفاع په حالت کې و، چې دا هم ولکه کړي.
فرانسه نوره هغه ته د پام وړ نه وه؛ ځکه له ناپل څخه د فرانسویانو لاس وار له مخه د اسپانویانو له خوا لنډ شوی و او دواړو د ډیوک پېرزونې ته اړتیا درلوده او له هغه سره د ملګرتیا او ټلوالې د جوړولو غوښتونکي ول.
هغه نابېره پر پیزا یرغل وکړ او لوکا Lucca او سینا Seina سمدلاسه ورته غاړه کېښوده. ښایي یو څه به د فلورېنسیانو له وېرې و او یو څه به هم د سیالۍ او کرکې له امله و چې د ډیوک په خوا کې ودرېدل. فلورېنسیانو به هم د هغه په وړاندې څه چاره نه درلوده، که ډیوک په خپلو طرحو کې هسې بریالی وی لکه د پلار د مړینې په کال چې یې و نو هغه به په رښتیا دومره نفوذ او ځواک درلودی چې وروسته په یوازې سر د هرې ناوړه پېښې په وړاندې ودرېږي، پر خپلو لښکرو ډېره ووهي او ځان به یې داسې پیاوړی کړی وی چې د خپل ځواک او بخت پرته به یې د بل چا پر ځواکونو او بخت زړه نه وی تړلی.
خو پاپ الکساندر تر پنځو کلونو وروسته، چې زوی یې ډیوک ولنټینو د لومړي ځل لپاره خپله توره راویستلې وه، ومړ او خپل زوی یې یوازې له یوه ایالت رومانیا سره، چې ډیوک ته یې وګړي وفادار ول، پرېښود او نور ټول یې دښمنان ول. ډیوک د دوو ډلو دښمنو لښکرو تر منځ راګیر، له ناځرګند راتلونکي سره مخامخ پاتې و او د ناروغۍ پر بستر یې د مړینې انتظار کوو. خو په دې حال کې هم ډیوک د داسې وړتیا او د زړورتیا څښتن و چې ښه پوهېده له خلکو سره څه ډول چلند کول پکار دي، د دې وړتیا یې درلوده چې پوه شي د خلکو زړونه څه ډول راخپل او ښه اړیکې ورسره ټینګ کړي او په دې توګه یې زړونه ځانته راواړوي او یا یې څه ډول مات او له لاسه ورکړي؟
ټول بنسټونه چې ډیوک د خپلې واکمنۍ د راتلونکي لپاره ایښي ول، په ډېر لنډ وخت کې یې داسې ټینګ کړي ول چې که دغه دښمنان د هغه د لارې خنډ نه وی شوي او یا یې روغتیایي حالت ښه وی نو ټولې ستونزې به یې له منځه وړې وی. د واکمنۍ کلک بنسټونه یې له دې ځایه ښه څرګند ېږي چې رومانیا تر یوې میاشتې هغه ته سترګې په لار وه، ان که د باګلیونی Baglioni، ویټیلي Vetelli او اورسیني وګړي یې هم په وړاندې د جګړې لپاره روم ته راغلي وی، د ملاتړو د شتون له امله یې د هغه پر واکمنۍ هېڅ اغېز نه شینده او ناکامه به ګرځېدلي وی.
که ډیوک نه شو کولی هغه څوک چې په زړه یې و پاپ وټاکي، لږ تر لږه یې کولی شول د هغه چا له ټاکنې مخنیوی وکړي چې په زړه یې نه و. که هغه د خپل پلار تر مړینې وروسته ښه روغتیایي حالت درلودی، بیا به هم هر څه ورته اسانه وی، خو د پاپ الکساندر مړینې د هغه لپاره ټول کارونه ستونزمن کړل.
هغه ورځ چې دویم جولیوس Julious II د پاپ په توګه ټاکل کېده، خپله ډیوک راته وویل چې د هغو ټولو پېښو وړاندوینه یې کړې وه چې د پلار تر مړینې وروسته به یې پېښېږي او د مخنیوي لپاره یې هم لار لټولې وه. خو د یوه شي وړاندوینه یې چې د خپل پلار د مړینې پر مهال نه وه کړې دا و چې خپله به هم د مرګ په وره کې د ناروغۍ پر بستر پروت وي.
کله چې د ډیوک ټولې کړنې وارزووم، زه نه پوهېږم چې څه ډول یې پړ کړم؟ ځکه زه د هغه په تګلارو کې هېڅ ډول تېروتنې نه

وينم او زما په نظر خو د هغه ټولې کړنې له هوښيارۍ ډکې او پر ځای وې. ما ته خو داسې بريښي چې د هغه تګلارې د تقليد لپاره ټولو هغو ټولواکو ته د يوې بېلګې په توګه وړاندې کړم چې د نورو پر بخت يا مرسته واک ته رسېږي. ځکه هغه وچته روحيه او پراخه موخې چې د هغه په پام کې وې نه يې شو کولی خپله کړون او تګلاره په بل ډول تر سره کړي. ځکه دا د وخت غوښتنه وه .يوازېنی خنډ چې د هغه په وړاندې رامنځته شو ، د هغه خپله ناروغي وه چې ټولې طرحې يې بې اغېزه کړې او د دې وخت يې ورنه کړ چې هيلې يې بشپړې کړي او په کې بريالی شي.

له دې امله، هغه څوک چې غواړي يوه نوي نيول شوي هېواد ته د ننوتلو پر مهال له دښمنانو په کرار وي او نوي دوستان پيدا کړي، د ټګۍ يا ځواک په مرسته برلاسی شي، وګړي په يوه وخت کې هم ترې وېره او هم مينه ورسره وکړي، لښکرې يې اطاعت او درناوی وکړي، هغه څوک چې ممکن هغه ته زيان ورسوي له منځه يوسي، زاړه ترتيبات او اصول په نويو بدل کړي، په يوه وخت کې بدچلنده او زړه سواندی وي، لوړفکری او ازادخيالی وي، خاينې او ياغي لښکرې منحل او د هغوی پر ځای نوې لښکرې جوړې کړي او له ټولواکو سره داسې دوستانه اړيکې ټينګ کړي چې مرستې ته يې په لېوالتيا تيار وي او خپلې ټولې ګټې په همدې مرسته کې نغښتې ګڼي او پر هغه د تېري په برخه کې محتاط وي، د دې ټولواک له کړنو پرته نورې ښې او ژوندۍ بېلګې نه شو پيدا کولی. هغه يوازې د دويم جوليوس لپاره چې د پاپ په توګه وټاکل شو پړ کېدی شي او دا يوه ډېره ناوړه ټاکنه وه؛ ځکه لکه وړاندې چې مو وويل که هغه نه شو کولی د خپل زړه سړی وټاکي او دې کار ته يې ميلان هم نه درلود ، دا خو يې کولی شول چې د خپلو مخالفينو له ټاکنې مخنيوی وکړي او بايد هېڅکله نه وی خوښ چې له هغو کارډينالانو څوک د پاپ څوکۍ ته وټاکل شي چې د ډيوک له لاسه يې زيان ليدلی و ، او نه يې بايد د هغه چا ټاکنې ته خوښي څرګنده کړې وی، چې د پاپ څوکۍ ته له رسېدو سره سم يې هغه ته د وېرې اسباب برابرول؛ ځکه وېره هم د غضب او قهر په څېر د انسان له ګواښه ډکه دښمنه ده.

ګڼ کارډينالان داسې ول چې ډيوک د خپل سياست د ترسره کولو پر مهال زيان وررسولی و ، چې په هغوی کې سان پيټرو اډوينکولا)) پاپ جوليوسSan Pietro Advincula ((، کولوناColonna ، سان جارجيو San Giargio او اسکانيو Ascanioهم شامل ول. يوازې روين او اسپانوي کارډينالان په دې ډله کې نه راتلل او که له دې دواړو څخه پرته هر څوک د پاپ څوکۍ ته ټاکل کېدل، د ډېرو دلايلو له کبله بايد ډيوک له هغوی وېره کړې وی.

هغه بايد په لومړي ګام کې له اسپانوي کارډينالانو څوک د پاپ په توګه ټاکلی وی او که شونې نه وه نو بايد د روين ټاکنې ته يې خوښي ښکاره کړې وی او د سان پيټرو اډوينکولا له ټاکنې خوښ نه وی. ځکه څوک چې په دې ګروهه دي چې نوې مرستې او نوې ښېګڼې به د سترو او نامتو څېرو له يادښته پخواني زيانونه هېر کړي، ځان يې تېرايستلی دی. له دې کبله ډيوک د پاپ جوليوس په ټاکنه کې تېروت او همدې تېروتنې راوپرځاوه .

## اتم څپرکی

د هغو په اړه چې د جنايت له لارې واک ته رسېږي

که څه هم يو عادي سړی کېدی شي په دوو لارو پرمختګ وکړي او د ټولواکۍ مقام ته ورسېږي، خو هېڅ يوه يې له بخت او وړتيا سره بشپړ تړاو نه لري. سره له دې چې له دې دواړو لارو څخه يوه په ولسمشريزو حکومتونو پورې اړه لري، خو بيا هم غواړم چې وې څېړم.

له دې دواړو لارو يوه دا ده چې يو څوک د جنايت او بېرحمۍ له لارې د ټولواک څوکۍ ته ورسېږي او دويمه لاره يې دا ده چې يو عادي سړی د خپلو هېوادوالو يا همښاريانو په خوښه واکمنۍ ته رسېږي.

که د لومړۍ لار په اړه خبرې وکړو ، مخکې له دې چې د موضوع اصلي برخې ته ننوزم دوه بېلګې به راوړم، چې يوه يې لرغونې او بله يې اوسمهالې ده. او که چېرې لوستونکي د موضوع په اړه زياتې څېړنې اړينې بولي، نو زما په اند دغه دواړه بېلګې به د هغوی لپاره بسنه وکړي چې دا مسئله بيا تر دې وروسته وڅېړي.

١ .د سيسيلي اګاتوکلس Agathocles, the Sicilian چې د سيراکوس ټولواک شو ، نه يوازې دا چې يو عادي سړی و بلکې د

وګړو له یوه سپک او ټیټ پوړ پورې یې اړه درلوده. دا سړی چې د یوه کولال زوی و، د خپل عمر په هر پړاو او د بخت په هر بدلون کې یې یو ډېر رټلی او فاسد ژوند درلود. خو له اخلاقي فساد سره سره هغه د دماغ او بدن پوره وړتیا هم لرله .چې له همدې امله یې خپل ځان پوځي مسلک ته ورکړ او د رتبو په اخیستلو یې ځان د سیراکوس د لښکرو سالار ((سردار)) کړ.
وروسته تر دې چې په دې څوکۍ کې یې ځان ټینګ کړ، هوډ یې وکړ چې ځان د ټولواکۍ مقام ته ورسوي او ویې غوښتل هغه څوکۍ چې باید خلکو په خپل لاس ورسپارلې وی، په زور او پرته له دې چې د نورو حقوق یې رعایت کړي وي تر لاسه کړي.
نو د دې موخې لپاره له امیلکار Amilcar سره چې د کارتاجینان Carthaginian په نامه مشهور او له خپلو لښکرو سره یو ځای په سیسیلې کې په جګړه بوخت و، یوې پرېکړې ته ورسېد.
یو سهار هغه د سیراکوس خلک او سنا په دې پلمه راوبلل چې له هغوی سره د هېواد د یوې مهمې موضوع په اړه خبرې کوي او سلا یې اخلي. له راغونډېدو سره سم هغه خپلو لښکرو ته اشاره وکړه، لښکرو ټول سناتوران او د دې ښار مخور ووژل .تر دې وژنو وروسته پرته له دې چې د دې ښار د خلکو له کوم پاڅون یا مقاومت سره مخ شي، د ښار یوازېنی څښتن شو او سلطنت یې تر لاسه کړ. که څه هم د کارتاژي لښکرو له لاسه یې دوه پلا ماتې وخوړه او په پای کې یې ښار کلابند شوی هم و، خو سره له دې یې خپل نیمایي لښکر د ښار په دفاع وګوماره او د نیمایي په مرسته یې پر افریقا یرغل وکړ، چې په دې ډول یې د سیراکوس ښار په ډېر لږ وخت کې له کلابندۍ خلاص کړ .کارتاژیان چې ډېر تش لاسي شوي ول، اړ ول چې له اګاتوکلس سره سوله وکړي او د هغه شرایط ومني، چې له دې شرایطو سره سم یې د سیسیلې جزیره اګاتوکلس ته پرېښوده او په بدل کې یې یوازې د افریقا پر منلو قناعت وکړ.
که څوک اوس د دې سړي پوهه او کړنې وارزوي، وبه ویني چې دې څوکۍ ته د هغه پرمختګ له بخت سره ډېر لږ او یا هېڅ تړاو نه درلود او نه یې د چا په مرسته ترلاسه کړې وه. یوازې ګام په ګام او په پوځي دنده کې د هغو رتبو په اخیستلو چې د بې شمېره ستونزو او ګواښونو تر ګاللو وروسته یې ګټلې وې له یو عادي سړي سرتېري او بیا له هغه ځایه د ټولواک څوکۍ ته ورسېد، چې وروسته یې هم د دې څوکۍ د ساتلو لپاره ډېرې ربړې او ګواښونه وګالل او په ډېرو ناوړو اعمالو یې هم لاس پورې کړ. که څه هم د هېوادوالو وژل، له ملګرو سره درغلتیا، بې وفایي، د حیثیت او شرافت نه لرلو، بېرحمۍ او بې دینۍ ته ښه لیاقت او وړتیا نه شو ویلی. دا هغه ځانګړنې دي چې کېدی شي په مرسته یې څوک وچتو څوکیو او امپراتورۍ ته ورسېږي، خو هغه ته وقار، حیثیت او د سرلوړۍ ویاړ نه ورپه برخه کوي.
خو که جګړو او ګواښونو ته د ورننوتلو او بیا له هغو څخه د ځان ژغورلو پر مهال د اګاتوکلس زړورتیا، د ګواښونو او ستونزو په زغملو کې د هغه روحي ځواک په نظر کې ونیسو، هېڅ دلیل نه پیدا کېږي چې هغه ته دې د ډېرو نومیالیو مشرانو په پرتله لږ درنښت ورکړل شي. خو له بلې خوا د هغه بې شمېره تېرې، سخت زړیتوب، له وحشته ډکه بېرحمي او غیرانساني اعمال او ګڼ جنایتونه د دې اجازه نه راکوي چې د غوره اشخاصو په کتار کې وشمېرل شي. خو په هر حال، د هغه ټولې بریاوې او هغه څوکۍ چې لاسته یې راوړې وه له بخت او وړتیا، مانا له دواړو سره یې تړاو نه درلود.
۲ .زموږ په خپل پېر کې د شپږم الکساندر د واکمنۍ پر مهال اولیوروټو دا فرمو Oliverotto da Fermo چې ډېر کلونه پخوا یتیم پاتې شوی و، د خپل ماما ګیواني فوګلیاني Giovanni Fogliani له خوا لوی او وروزل شو او د خپلې ځوانۍ په لومړیو کلونو کې چې عمر یې لا دومره ډېر نه و، د پاګولو ویټیلي Pagolo Vetelli تر کوماندې او سرپرستۍ لاندې جګړې ته واستول شو، چې د نوموړي د تربیت لاندې پوځي فنونه زده کړي او وروسته تر دې چې پاګولو ومړ، د هغه د ورور ویټیلوتسو Vitellozzo تر سرپرستۍ لاندې د پوځي فنونو په زده کړه بوخت شو. اولیوروټو په ډېر لنډ وخت کې د ښه ذکاوت او د بدن او دماغ په غښتلتیا سره خپل مسلک کې لومړی شو او د خپل هېواد یو نومیالی سردار وګرځېد.
کله چې دې څوکۍ ته ورسېد، د نورو تر امر لاندې خدمت کول یې د ځان سپکاوی وګڼه. نو له دې کبله یې د خپل استاد ویتلیشي Vitelleschi په خوښه او د فرمو Fermo د یو شمېر ښاریانو په مرسته چې د خپل هېواد تر خپلواکۍ یې مریتوب ته غوره والی ورکوو، د فرمو د ولکې طرحه جوړه کړه. نو له همدې امله یې خپل ماما ته په یو استولي لیک کې وویل چې له خپل اصلي ټاټوبي څخه تر کلونو اوږد بېلتون وروسته غواړي خپل ماما او هېواد له نژدې وګوري، تر یوې کچې به په خپلو پلرنیو کارونو کې هم برخه واخلي او د دې تر څنګ به هېوادوالو ته دا هم وښیي چې خپل وخت یې په لټۍ کې نه دی تېر کړی او د عزت او سرلوړۍ د ترلاسه کولو پرته یې پر بل څه زیار نه دی ایستلی .نو هیله یې وکړه چې له هغو سلو تنو سرتېرو سره چې ملګري یې ول او د بدرګې لپاره ورسره دي، اجازه ورکړي او له خپل ماما ، ګیواني، څخه یې د دې هیله هم وکړه چې داسې ترتیبات ونیسي چې د فرمو د ښار د اوسېدونکو له خوا یې بشپړ هرکلی وشي چې د سرلوړۍ لامل یې وګرځي، او دا

کار به نه یوازې د هغه اعتبار زیات کړي بلکې د ماما لپاره به یې هم ښه وي چې وښیې د خوریې په روزلو کې یې ګاللي زحمتونه بې نتیجې نه ول. له همدې کبله ګیواني فوګلیاني د خپل خوریې د اعتبار لپاره د هیڅ ډول تیاري له نیولو ډډه ونه کړه، هغه یې په ډېر شان او درناوي د فرمو ښار ته راوست او په خپل کور کې یې مېشت کړ.

د څو ورځني ارام او د ناوړه پلان لپاره یې د اړینو توکو له چمتو کولو وروسته په دې لټه کې شو چې هوډ ته یې عملي بڼه ورکړي.

ځکه یې نو یوه پرتمینه مېلمستیا برابره کړه، ګیواني او د فرمو ښار مخور مشران یې راوبلل. کله چې خواړه او ګردې لوبې چې په داسې مېلمستیاؤ کې دود وې، پای ته ورسېدلې، اولیوروټو په ډېره هوښیارۍ د پاپ الکساندر او د هغه زوی په اړه ټاکلې په زړه پورې خبرې پیل کړې. کله چې ګیواني او نورو برخوالو د هغه خبرو ته ځان ورګډ کړ او مجلس تود شو، نو اولیوروټو د مجلس له ګډون کوونکو هیله وکړه چې دا یوه ټولیزه خونه ده او د داسې خبرو لپاره مناسبه نه ده، دا خبرې باید له دې هم په یوه ځانګړې ځای کې وشي چې وکولی شو دغه موضوع په ازادانه ډول وڅېړو او له دې خبرې سره سم یوې خونې ته ننوت، چې ګیواني او نور ښاریان هم ورپسې ورغلل. هغوی لا ناست نه ول چې له پټو ځایونو څخه د هغه سپاره ملګري، چې په کمین کې ناست ول خواره شول، ګیواني او نور یې ووژل. تر دې وژنو وروسته اولیوروټو پر اس سپور او په ښار کې ښکته- پورته وګرځېد ، د ښار د حاکم ماڼۍ یې کلابنده کړه، تر دې چې خلکو له ډاره هغه ته غاړه کېښوده او په دې توګه اولیوروټو د دې ښار واکمن شو.

هغه ټول ناراضیان، د خپلې عقیدې مخالفین او هغه څوک چې ممکن وروسته یې د لارې خنډ ګرځېدلي وی، ووژل او د یو کال په ترڅ کې چې د فرمو د ښار واکمني د هغه په لاس کې وه، نظامي او ملکي ترتیبات یې داسې سم کړي ول چې نه یوازې په واکمنۍ کې یې ځان ټینګ او کرار کړی و بلکې ګاونډیو هېوادونو ته هم یو ګواښ وګرځېد. که د سیزار بورجیا د پلمو په دام کې نه وی بند شوی او له دې ډله ییزو وژنو یو کال وروسته یې مخه نه وی نیول شوې، راپرځول به یې د اګاتوکلس په څېر ستونزمن وی. خو سیزار بورجیا هغه له خپل استاد ویتیلیتسو سره یو ځای، چې په دې جنایت کې یې لاس درلود ، ونیو او دواړه یې زندۍ کړل.

اوس کېدی شي ځینو ته د اریانتیا له مخې دا پوښتنه راپورته شي چې څنګه کېدی شي اګاتوکلس او د هغه په څېر نور له بې شمېره ټګیو او درغلیو وروسته بیا هم په هېواد کې سوله ییز ژوند تېروي او پرته له دې چې د خپلو ښاریانو تر دسیسو لاندې راشي، له سختو بهرنیو یرغلونو ځان ژغوري، په داسې حال کې چې ګڼ بېرحمه او سفاک واکمن مو لیدلي، ان په دې نه دي بریالي شوي چې د سولې پر مهال خپل هېواد وژغوري او بیا د جګړې په شرایطو کې خو یې برۍ له دې هم شکمن بریښي.

زما په ګروهه دا کار دې پورې اړه لري چې وژنې او بېرحمي په ښه نیت ترسره شوې او که په بد نیت .هغه چې په ښه نیت ترسره شوې وي دا ده چې یوازې یو ځل ترسره شي او هغه هم که د خپل مقام او واکمنۍ د ټینګښت او امنیت لپاره وي، چې تر دې وروسته په هیڅ وجه بیا نه تکرارېږي، خو یوازې هغه وخت چې د خپل ولس په ښېګڼه او سمون یې پای ته ورسېږي.

د ناوړه نیت په موخه عملي شوې بېرحمۍ او وژنې هغه دي چې که څه هم په پیل کې لږ او کوچنۍ وي، خو د دې پر ځای چې لا زیات کموالی په کې راشي، د وخت په تېرېدو زیاتېږي .څوک چې د اګاتوکلس په څېر لومړني اصول کاروي، کېدی شي د پاک خدای او یا د خلکو په مرسته یې پایله نهیلي رامنځته نه کړي او لږ سزاوار وګڼل شي. خو د دویمې لارې لارویانو ته ناشونې ده چې د هغې له زیان رسونکو پایلو څخه ځان وژغوري.

نو اوس ممکن له دې ځایه زده کړو چې د یوه نوي هېواد د ولکې پر مهال ((فاتح)) ټولواک ټولې ژوبلې او زیانونه، چې د دې هېواد وګړو ته یې رسوي، باید مخکې له مخکې وارزوي او په یو وار یې وررسوي؛ داسې چې ورځنی تکرار او بیا بیا ارتکاب ته یې اړ نه وي او باید د دې وړتیا هم ولري چې د دې کار په پرېښودلو د خلکو فکرونه ډاډه او کرار کړي. څوک چې د وېرې یا ناوړه سلا له مخې بل ډول کړنې ترسره کوي، ورته په کار ده چې تل خپله توره تیاره په لاس کې ولري؛ ځکه د هغه د پرله پسې او مکررو تېروتنو له امله نه خپله ټولواک پر رعیتونو زړه ترلی شي او نه رعیتونه د هغه ملاتړ کولی شي. نو هر تېری او سختي چې ترسره کوئ، ښه ده چې یوازې یو وار ترسره شي. نو په دې صورت کې د هغه ترخې اغېزې، څرنګه چې یو ځل ترسره شوې دی، دومره دوام نه کوي او که فاتح ټولواک له اوسېدونکو سره په تدریجي ډول لږ لږ مرستې وکړي او ګټې وررسوي، مثبتې اغېزې یې تر ډېره د هغوی په یادښت کې پاتې کېږي او منفي اغېزې له منځه وړي.

پر دې سربېره، یو ټولواک باید له خپل ولس سره داسې چلند وکړي، چې وروسته بیا په هر ډول ښو او ناوړه بدلونو کې دې ته نه وي اړ چې د ولس په وړاندې خپل سیاست ته بدلون ورکړي او یا پرې له سره غور وکړي؛ ځکه که چېرې د ناوړه پېښو ،

دښمنیو او بدبختیو په وخت کې د سیاست او چلند د بدلون اړتیا پیدا شي، په دې وخت کې به د پرېکنده ګامونو پورته کول ډېر بې وخته وي او په دې مهال کې هر ډول سوله ییز ګام او یا د بدې رویې کارول هم بې ګټې دي؛ ځکه ښکاره ده چې دغه نرمښت ستاسو د مجبوریت له امله دی او هغوی به هېڅکله په دې رویه له خپل ټولواک څخه خوښ او خوشاله نشي .

## نهم څپرکی

### د متمدن سلطنت په اړه

خو چې دې بل ټکي ته راشو ، کله چې د ناوړه چلند او نه زغمېدونکي تېري له لارې نه بلکې د هېوادوالو په خوښه او مرسته یو وتلی ښاري د خپل هېواد ټولواک ټاکل کېږي، دې ته متمدن سلطنت وايي.
دې ځوکۍ ته د رسېدو لپاره نه وړتیا او نه هم بخت ته اړتیا شته بلکې یو ډول فطري ذکاوت په کار دی .نو داسې ویلی شم چې دا سلطنت د خلکو یا د اشرافیانو په مرسته رامنځته کېږي؛ ځکه دغه دوه مخالفې ډلې په ټولو هېوادونو کې شته دي او سبب یې دا وي چې خلک نه غواړي اشرافیان دې حکومت او یا تېری پرې وکړي، خو اشرافیان غواړي چې پر خلکو ولکه ولري او تېری پرې وکړي. نو د دې دوو مخالفو هیلو له امله له لاندېنیو پایلو څخه یوه رامنځته کېږي:
سلطنتPrincipality ، خپلواکي Self-government او ځانځاني.Anarchy
یو سلطنت موقع ته په پام سره د خلکو یا اشرافیانو په مرسته رامنځته کېږي. ځکه کله چې اشرافیانو ته څرګنده شي چې د خلکو په وړاندې درېدی نه شي، په خپلو کې یو ټولواک ټاکي، چې د هغه تر سیوري لاندې خپلې واکپالنې ته دوام ورکړي. کله چې خلک وپوهېږي اشرافیانو ته د ټینګېدو نه دي، هغوی هم په خپلو کې یو واک ته رسوي چې د هغه واک یې له اشرافیانو خوندي کړي.
ځوک چې د اشرافیانو په مټ واک ته رسېږي، د هغو)) واکمنو ) ) په پرتله چې د خلکو په مرسته واک ته رسېدلي دي، د واکمنۍ په ټینګښت او د ځوکۍ په ساتلو کې ډېرې ستونزې لري. ځکه نور اشرافیان له هغه سره سربرابري کوي او ځانونه د هغه برابر ګڼي، نو له دې امله ټولواک نه پر اشرافیانو امر چلولی شي او نه یې خپلې خوښې ته را ماتولی او اداره کولی شي.
هغوی چې د خلکو په مرسته واک ته رسېږي، ځان یوازېنی واکمن ګڼي(داکتاب د بېنوا پاڼې څخه کاپي شوی دی ) او په خپل چاپېریال کې هېڅوک یا د ګوتو په شمېر داسې ځوک لري چې هغه ته غاړه نه ږدي. پر دې سربېره د عادلانه چلند او د نورو په نه ځوبلولو اشرافیان نه شو له ځانه خوښولی او که د هغوی غوښتنې و منو ، نو د خلکو او د ټولواک په زیان دي. خو د خلکو غوښتنې پر ځای او د ټولو په ګټه دي، چې تاسو کولی شئ هغوی په زیاته اسانۍ خوښ وساتئ. ځکه اشرافیان تل غواړي پر خلکو تېری وکړي، خو خلک یوازې دا هیله لري چې د هغوی له تېري څخه ځان خلاص کړي.
باید دا هم زیاته کړم چې یو ټولواک نه شي کولی خپله ځوکۍ د نا خوښو خلکو په منځ کې وساتي. ځکه د هغوی شمېر ډېر لوړ دی، خو کېدی شي د اشرافیانو د مخالفت په وړاندې بې اعتنايي وښيي. ځکه د هغوی شمېر ډېر لږ دی.
خو بیا هم ناخوښه خلک به یوازې ستاسو له ملاتړ څخه لاس واخلي، ناخوښه اشرافیان نه یوازې دا چې له تاسې ملاتړ نه کوي بلکې په وړاندې مو درېږي. خلک یوازې د ستاسې د پلوۍ په نه کولو بسنه کوي. په بله وینا: تر ټولو ناوړه توقع چې ټولواک یې له ناخوښو خلکو لري، دا ده چې هغه به یوازې پرېږدي، خو له ناخوښو اشرافیانو څخه به نه یوازې پر نه ملاتړ و برېږي بلکې له دې به هم وېرېږي چې اشرافیان به یې په وړاندې راپورته شي. ځکه هغوی په دې چارو کې ډېر ژور فکري او هوښیار دي. د خپلې ځوکۍ او ځان د خوندیینې او د هغه چا د پېرزونې د ګټلو لپاره، چې د هغوی په اند به واک ته رسېږي، تل پر وخت چمتووالی کوي. پر دې سربېره ټولواک تل کولی شي له ولس سره نژدې اړیکې وساتي او له خلکو سره یو ځای ژوند وکړي، خو دا نه ده ورته په کار چې له ورته اشرافیانو یا د اشرافیانو له یو ځانګړي شمېر سره یو ځای ژوند وکړي. ځکه ټولواک کولی شي چې د هغوی شمېر ډېر یا لږ کړي او هر وخت که وغواړي، کولی شي د هغوی واک کم او یا یې ور ډېر کړي، چې یو ځواکمن ټولواک په دې کار کې له ستونزو سره نه مخامخ کېږي.
د دې لپاره چې دغه ټکی ښه روښانه کړم، وایم چې باید اشرافیان دوه ټکو ته په پام سره وارزول شي. په دې مانا چې ایا هغوی خپل کړون ته داسې بڼه ورکوي چې خپل برخلیک د ټولواک هغه پورې وتړي او کنه .هغوی چې په دې ډول ځانونه ټولواک

پورې وتړي، د ېر ځانپاله او لوټ مار نه وي، ټولواک باید مینه ورسره وکړي او ویې نازوي.
خو ځوک چې دغه ډول نه دي او خپل برخلیک د ټولواک برخلیک پورې نه تړي، نو دوه ډوله چلند یې په وړاندې ممکن دی. کېدی شي هغوی د جرئت د طبیعي نشتوالي او بې زړه توب له امله د ټولواک له ملاتړ څخه لاس وانه خلي او نه هم د هغه په وړاندې راپورته شي. په دې صورت کې ټولواک کولی شي چې ګټه ترې پورته کړي په تېره بیا له هغو څخه چې هوښیار او محتاط دي او ښې سلاوې ورکولی شي.
په دې توګه، کله چې په نېکمرغۍ او خوښۍ کې د ستاسو درنښت کوي نو په بده ورځ مو هم په وړاندې نه درېږي او د هغوی له خوا تاسو ته کومه وېره نه ده متصوره.
خو هغوی چې د اخلاص له مخې نه بلکې د واکپالنې په موخه ځان ټولواک ته نژدې کوي، ښکاره ده چې له هغو سره د ټولواک د ګټو په پرتله د ځاني ګټو اندېښنه ډېره ده. نو په دې صورت کې باید خپله ټولواک له هغوی څخه ځان وژغوري او داسې ترې ووېرېږي لکه هغوی چې یې ښکاره دښمنان وي. ځکه همدغه خلک به په بده ورځ کې د دښمنۍ له مخې ستاسو په له منځه وړلو کې ونډه اخلي.
نو هغه ځوک چې د خلکو په مرسته واک ته رسېږي، ورته په کار ده چې تل له خلکو سره ښه اړیکي وساتي او له ولس سره د ښو اړیکو ټینګول، دومره ستونزمن کار نه دی. ځکه د خلکو هیله تل یوازې دا وي چې پر هغوی دې ځوک ظلم او تېری نه کوي .همداراز هغوی چې د اشرافیانو په مرسته واک ته رسېږي، تر ټولو لومړی دې له خلکو سره ښه اړیکي ټینګ کړي او دا کار هم په ډېره اسانۍ ترسره کولی شي. هغه داسې چې ټولواک د خلکو ملاتړ وکړي او د اشرافیانو له تېري څخه یې وساتي. ځکه هغو خلکو چې له خپل ټولواک څخه د ناوړه چلند او تېري تمه لرله، خو ټولواک یې په وړاندې له ښه چلند څخه کار اخلي او ښېګڼې ورسره کوي، د خلکو ښه احساسات د هغه په وړاندې راپارېږي او نژدې ترې او ورسره ساتي. په دې توګه خلک د هغه ټولواک په پرتله چې د خلکو په مرسته واک ته رسېدلی وي، له هغه سره چې د اشرافیانو په مرسته واک ته رسېدلی دی ډېره مینه کوي او داسې یې ګڼي لکه په خپله خوښه چې یې ټاکلی وي.
ټولواک کولی شي د خلکو پېرزونه او ښې هیلې له بېلابېلو لارو ځانته راماتې کړي، خو څرنګه چې حالاتو ته په پام سره دغه کار توپیر کوي او ځوک یوه سمه پرېکړه نه شي پرې کولی نو زه هم دا بحث په همدې ځای پای ته رسوم.
خو بیا هم وایم چې یو ټولواک باید له خلکو سره ښه اړیکي وساتي، که نه په بده ورځ کې به هېڅ امنځای ونه لري.
د سپارټ ټولواک، نبیس Nabis ، د یونان د ټولو ډلو، توکمونو او د روم د بریالیو لښکرو تر سختو یرغلونو لاندې راغی. دې ټولواک په یوازې سر او د پردیو لښکرو له مرستې پرته له خپلې ځوکۍ، هېواد او واکمنۍ څخه دفاع وکړه. کله چې دا ګواښ نژدې و، د هغه په ولس کې یوازې د ګوتو په شمېر داسې خلک پیدا کېدل چې هغه ترې اندېښنه درلوده او وېره یې ترې کوله. خو پاتې ټول ولس د هغه پلوی و او که چېرې ډېری ولس د هغه پر ضد وی، نو هېڅکله به یې دومره بریاوې نه وی ترلاسه کړې.
ښه به دا وي له هغې عقیدې سره چې زه یې لرم، نور مخالفت ونه کړئ، هغه لرغوني او ډېر استعمال شوي متل ته د اشارې په کولو، چې وایي: �ځوک چې پر خلکو ډډه وهي، پر خام بنسټ ودانۍ جوړوي�، داسې وایم چې کېدی شي دا متل سم وي، خو یوازې د هغه چا په حق کې چې له یو عادي شخص څخه د ټولواک ځوکۍ ته رسېدلی وي، او بیا د خلکو د ملاتړ او پلوۍ تمه کوي. کله چې د غلیم د یرغل او ګواښونو یا قضایي قوې تر فشار لاندې راشي، نو خلک مخ ترې اړوي او یوازې یې پرېږدي چې راو پرځېږي. داسې خلک تل تېروتلي دي. د بېلګې په توګه: په روم کې د ګراکي Gracchi او په فلورېنس کې د میسر ګیورګیو سکالي Messer Giorgio Scali برخلیک همدا و. خو که همدغه ټولواک یو وړ سړی، د نفوذ څښتن د ناوړه پېښو پر مهال زړور او د ټینګې ارادې څښتن وي او هراړخیز احتیاط یې کړی وي، نو د ولس له خوا هېڅ ډول درغلتیا نه ورسره کېږي او په ناوړه حالاتو او پېښو کې به ورته جوته شي چې خپلې واکمنۍ ته یې پیاوړی بنسټ ایښی و.
دا ډول سلطنتونه هغه وخت له ګواښ سره مخ کېږي چې ټولواک وغواړي خپل مدني سلطنت یو مطلق سلطنت ته واړوي. ځکه په دې ډول سلطنتونو کې د هېواد چارې یا خپله ټولواک اداره کوي، یا دا چې د ټولواک فرمانونه قاضیان یا حاکمان پلي کوي. که په دویمه بڼه وي، نو د ټولواک واک لږ او حکومت یې خورا کمزوری، ناکراراو له ستونزو ډک دی. ځکه ټولواک په بشپړه توګه د خلکو د هغې طبقې تر نفوذ لاندې دی او پر پېرزونه یې ډډه لګوي چې د هېواد قضاوت او حکومت ورته سپارل شوی. دا خلک کولی شي په ناوړه حالاتو کې په ډېره اسانۍ له ټولواک څخه واک او اقتدار شنه کړي. په داسې حالاتو کې ټولواک ته ستونزمنه او ان ناممکنه ده چې مطلق واک ترلاسه کړي. ځکه هغه ولس او وګړي چې د حاکمانو له فرمانونو سره روږدي شوي، هېڅکله چمتو نه دي چې په ناوړه حالاتو کې د ټولواک احکام ومني چې په داسې شکمنو، غیرعادي او له

ګواښونه ډکو حالاتو کې به له څو ټاکلو وګړو پرته نور څوک د ټولواک د باور وړ نه وي. نو پکار ده چې ټولواک په هغه حالاتو چې په کرارۍ یا سمو شرایطو کې یې لري او په هغه وخت چې وګړي خپلو اړتیاؤ ته په پام سره د یوه حکومت غوښتونکي وي باور ونه کړي. ځکه کله چې وګړي اړتیاوې ولري په خپلخوښي توګه مخکې کېږي او د سرښندنې ژمنې کوي. کله چې ګواښ لیرې وي د هېواد لپاره د ځان قرباني ته هم تیاروهي. خو کله چې عادي اوضاع بدلون وکړ، اړودوړ رامنځته او داسې حالات رابرسېره شول چې هېواد د ژغورنې لپاره ولس ته اړتیا پیدا کړه، ټول ځنګ ترې کوي او له یو څو کسانو پرته نور په لاس نه ورځي. که څه هم د دې ازموینې ګواښ له اټکله بهر دی، خو بیا هم کولی شو چې یوازې یو ځل یې وازمایو.
نو یو هوښیار ټولواک باید داسې تګلاره غوره کړي چې ولس په هر ډول ښو او ناوړه شرایطو کې هغه او دولت ته یې اړتیا ولري. بیا به تل هغه ته وفادار وي. په بله وینا: که یو هوښیار ټولواک د خپلې واکمنۍ د تلپاتېوالي هیله لري او غواړي چې ولس یې په وړاندې وفادار پاتې شي، نو تل باید داسې شرایط او حالات رامنځته کړي، چې ولس هغه ته محتاجوي.

## لسم څپرکی

ځنګه کولی شو د ټولو سلطنتي هېوادونو ځواک وارزوو؟

اوس پکار ده چې د سلطنتي هېوادونو د ځانګړتیاؤ په ارزولو کې یو بل ټکی هم په پام کې ونیسو، هغه دا چې ایا ټولواک کافي وس لري چې د ګواښ او اړتیا پر مهال د خپلو تدابیرو په کارولو سره د دښمن په وړاندې ځان وساتي او که تل د پردیو مرستې ته اړ وي؟
د دې لپاره چې دا ټکی یو څه روښانه کړو، نو وایم هغه ټولواکي په یوازې سر یا د پردیو له مرستې پرته د مقاومت جوګه دي او ځان ساتلی شي، چې د خپلو ډېرو وګړو یا پانګې په مرسته یو داسې لښکر تیار کړي چې د یرغلګر دښمن په وړاندې د جګړې ډګر ته ودانګي او په پوره زړورتیا د غلیم په وړاندې د خپل هېواد دفاع وکړي. خو برعکس؛ هغه ټولواکي تل د پردیو لښکرو مرستې ته اړتیا لري، چې دښمن ته د جګړې په ډګر کې ځان نه شي ښودلی او تل اړ دي چې د ښار د دېوالونو او سنګرونو ته پناه یوسي او په دفاع بوخت شي.
لومړی حالت یو څه وڅېړل شو، چې په هر ځای کې مناسبه وه، بیا به هم خبرې پرې وکړو.
د دویم حالت په اړه څه ویل لازم نه بولم، پرته له دې چې دغه ډول ټولواکي د امکان تر بریده د ښار په منځ کې د زېرمو، خوراکي توکو د راغونډولو، په ښار کې د برجونو او نظامي کلاګانو جوړولو ته وهڅوم، په تېره بیا هغه ښار، چې ټولواک په کې استوګن دی او د هېواد نورو سیمو ته دومره پاملرنه ونه کړي. ځکه ټولواک چې خپل ښار په لښکرکوټونو، سنګرونو او کلکو برجونو سنبال کړی وي، له خپلو وګړو سره یې چلند او اړیکې ښه وي، هېڅکله به د یرغلګر له خوا د پوره احتیاط او غور پرته تر یرغل او تېري لاندې نه راځي. ځکه بشر تل د هغو ګامونو مخالف دی چې ستونزې او ربړې رامنځته کوي، چې ممکنه نه ده پر یو داسې ښه سنبال شوي ښار تر یرغل کولو وړاندې یرغلګر له ځان سره د ستونزو او ګواښونو وړاندوینه ونه کړي، په تېره بیا هغه وخت چې ټولواک په ولس کې ښه محبوبیت ولري.
د جرمني ښارونه په بشپړه خپلواکۍ کې ژوند کوي او د ښار په چاپېریال کې ډېرې لږې داسې سیمې لري چې په ښار پورې تړلې او کله چې مناسبه ورته برېښي، د خپل امپراتور اطاعت کوي، په داسې حال کې چې نه له امپراتوره وېرېږي او نه په خپل ګاونډ کې له کوم بل غښتلي ځواک څخه وېره لري. ځکه هغوی خپل ښارونه داسې سنبال کړي چې هر غلیم ته ښکاره ده د دې ښارونو نیول څومره ستونزمن او ستومانوونکي دي. هغوی خپل ښارونه په ژورو خندقونو، کلکو دېوالونو، حصارونو او درنو توپخانو سنبال کړې او ټولې ډیپوګانې یې د یو کال لپاره د خوراک، څښاک او سون توکي لري. پر دې سربېره د دې لپاره چې خلک غلي او پرته له کوم زیانه وساتي، ټولنې ته پېټې نه وي، له ټولیزې پانګې څخه یې د ټولنې هغو کارګرو ته، چې د ښار روح او ځواک دی، د کار وسایل او اړین توکي برابر کړي دي، چې له امله یې خلک په کارونو بوختېږي او د دې تر څنګ هغوی د پوځي فنونو ډېر درناوی کوي، تل په تمرین کې وي او د دې مشقونو لپاره ځانګړي اصول او مقررات لري، چې په کلکه یې پلي کوي.

نو داسې پرېکړه کولی شو هغه ټولواکي چې ښارونه په حصارونو او سنګرونو پیاوړي کړي او په خپلو وګړو کې هم کرغېړن نه وي، یرغل پرې شونی نه دی. خو که بیا داسې دښمن پیدا هم شي چې یرغل پرې وکړي، یرغلګر به په خورا مختوری. پر شا شي او ښه پایله به ترلاسه نه کړي. خو بیا هم څرنګه چې د دې نړۍ چارې تل د بدلون په حالت کې دي، ممکنه نه ده چې یوازې دې یو کس لښکر د یو کال لپاره په ډګر کې تر کلابندۍ لاندې وساتي او هېڅ ډول ګډوډي په کې رامنځته نه شي.

کېدای شي پوښتنه راپورته شي چې د کلابند شوي ښار وګړي ممکن له ښار څخه په بهر سیمه کې کښت او شتمني ولري. کله چې ووینې د غلیم لښکرې د هغوی ټوله شتمني سوځي، زغم به یې پای ته ورسېږي، له یوې خوا د ځاني ګټو لپاره او له بلې خوا د ښار د اوږدې کلابندۍ له امله به تر ډېرو ستونزو او ربړو وروسته باالاخره ستړي شي او خپل ټولواک به هېر کړي.

زه ځواب ورکوم چې یو غښتلی او زړور ټولواک به دغه ټولې ستونزې خپل رعیت ته د دې هیلې او ډاډ په ورکولو چې دا ستونزې به تر ډېره همداسې نه وي، په ډېرې اسانۍ اوارې کړي او په بل وار بیا د دښمن د تېرې یادونه ورته وکړي چې ځان تېنګ او خپلې مبارزې ته دوام ورکړي. او بیا په ډېر مهارت له هغو وګړو څخه ځان خوندي وساتي چې ډېر زړور دي او یا زیات ناخوښه ښکاري او په خورا مهارت یې کرار کړي.

پر دې سربېره دښمن له لومړي یرغل سره ښار او د ښار شا و خوا سیمه سوزي او ړنګوي، څرنګه چې دا کار د جګړې په پیل کې رامنځته کېږي نو د ښار د اوسېدونکو روحیه په دې وخت کې لوړه وي نو هم هڅول کېږي او له خپل هېواد یا ښار څخه په ښه ډول دفاع کوي. خو که اوس یې روحیې سړې هم شي، هر ورانی چې د ښار په چاپېره سیمه کې کېدونکی و، دمخه پېښ شوی دی، هر زیان چې باید رسېدلی وی ورسېد، شوی کار بېرته نه راګرځي، نو خلک بله لار نه لري، پرته له دې چې له خپل ټولواک سره یو لاس شي او خپل برخلیک د ټولواک هغه پورې وتړي. لکه څنګه چې د هغوی کورونه او شتمنۍ د هېواد او د ټولواک له خوګی څخه د دفاع په لار کې سوځول شوي او له لاسه یې تللي دي، نو پوهېږي چې ټولواک له هغوی څخه ډېر خوښ او د هغوی پوروړی دی. ټولواک هم اړ دی چې تر دې وروسته د هغوی په وړاندې خپله مینه وښیي، ځکه بشر یو داسې طبیعت لري چې تل د کړې خدمت بدل کې د یو څه تمه کوي، نو ټولواک باید هغوی ته د ګټو په وررسولو یا د هغوی د ملاتړ په کولو هغوی ته بدله ورکړي. نو که په دې موضوع کې ښه دقت وکړو، یوه هوښیار ټولواک ته به ستونزمنه نه وي چې له پیله تر پایه پورې د خپل ولس روحیه پیاوړې او اراده یې ټینګه وساتي، خو په دې شرط چې خوراکي توکي او د دفاع نور وسایل یې زیات او منظم وي .

## یوولسم څپرکی

### د هغو سلطنتونو په اړه چې د کلیسا تر واکمنۍ لاندې دي

اوس راپاتې ده چې یوازې د هغو سلطنتونو په اړه خبرې وکړم چې د کلیسا تر واکمنۍ لاندې اداره کېږي او هغه ستونزې وڅېړم چې د دې ډول سلطنتونو د ولکې په پیل کې رامنځته کېږي. ځکه د هغوی نیول، د ښه بخت او یا د وړتیا له مخې شوني دي، خو ساتل یې له دې دواړو په یوه پورې هم اړه نه لري بلکې د لرغونو او سپېڅلو مذهبي احکامو په مرسته پر مخ بېول کېږي، چې د درناوي وړ دي. سلطنت یې له داسې ځانګړتیاوو څخه برخمن دی چې که ټولواک هر ډول ژوند، چلند او کړه وړه خپل هم کړي، په بشپړ امن او هوساینې کې وي. داسې ټولواکي هېوادونه لري خو له هغوی څخه هېڅکله دفاع نه کوي، بې شمېره رعیتونه لري خو حکومت پرې نه کوي، سره له دې ټولو بیا هم دا هېوادونه له هغوی څخه چا نه دي نیولي، د دفاع وسایل نه لري نو د رعیتونو په اړه یې هم کومه اندېښنه نه شته. څرنګه چې حکومت پرې نه کوي، رعیت هم پاڅون نه کوي، داسې واک او وړتیا هم نه لري چې یاغیان شي. له دې امله دغه هېوادونه په بشپړه سوله او هوساینه کې ژوند کوي .ځکه د هغوی اداره د داسې قدرت په لاس کې ده چې سړی یې په اړه څه نه شي ویلی او د بشر له تصور څخه پورته ده چې زه باید د هغوی په اړه نورې خبرې ونه کړم. ځکه هغوی د پاک خدای په مرسته ساتل کېږي او په دې صورت کې به یوه سرغړونه ((ګناه)) وي چې زه دا بحث روان وساتم.

خو که بیا هم څوک له ما وپوښتي چې ولې د کلیسا دنیاوي واک Temporal Power تر شپږم پاپ الکساندر وړاندې ډېر بې ارزښته و او په ایټالیا کې د نفوذ ټولو څښتنانو ((ټولواکو)) هغې ته په سپکه سترګه کتل، ان کوچنیو بارونانو او نورو چې

که څه هم څوکۍ يې دومره لوړې نه وې، څه اعتنا يې ورته نه لرله. خو څنګه کليسا د ځمکني واک له پلوه دومره پراخه او ستره شوه، او داسې مقام ته رسېدلې ده چې د فرانسې ټولواک يې هم له ډاره رېږدي، د فرانسې لښکرې يې له ايټاليا څخه شړلي او وېنېسيان يې هم له ماتې سره مخ کړي دي. که څه هم اسباب او لاملونه يې ښکاره دي، خو بيا هم پکار ده چې ويې څېړم.
مخکې تر دې چې د فرانسې ټولواک، شارل، د ايټاليا خاورې ته ننوځي، دا هېواد د پاپ، وېنېسيانو، د ناپل د ټولواک، د ميلان ډيوک او وېنېسيانو تر ولکې لاندې و. دغو هېوادونو تل دوه موضوعګانې په نظر کې درلودې:
لومړی دا چې د هېڅ بهرني هېواد وسله وال ځواکونه دې د ايټاليا خاورې ته نه ننوځي. دويم دا چې له دغو هېوادونو څخه به يو هم د خپلې سيمې يا خاورې د پراختيا په موخه ګام نه پورته کوي.
هغوی چې په کار ول په داخل کې يې په اړه اند ښنمن وي، پاپ او وېنېسيان ول. د دې لپاره چې د وېنېسيانو څارنه وکړي او مخه يې ونيسي، د نورو ټولو يووالي يا ټلوالې ته اړتيا وه، چې پرې نږدې د هغوی له خوا د نورو پر خاوره تېری وشي، لکه د فرارا د دفاع په مسئله کې چې يې هم داسې ټلواله جوړه کړې وه او د دې لپاره چې د پاپ څارنه او مخنيوی وکړي، په کار وه چې د روم له اشرافيانو څخه کار واخلي. دې اشرافيانو په روم کې د اورسيني او کولونيسي دوه مخالفې ډلګۍ جوړې کړې وې، چې تل به يې له يو بل سره د دښمنۍ او د ګډوډۍ د رامنځته کولو منلې پلمې له ځانه سره درلودې، تل به د پاپ د سترګو په وړاندې وسله په لاس درېدل، او د پاپ د قلمرو د ضعف او بې ثباتۍ اسباب به يې برابرول.
که څه هم کله کله به د سيکسټوس Sixtus په څېر يو زړور پاپ هلته واکمن و، خو سره له دې به بيا هم نه ښه بخت، نه وړتيا او نه هوښياری هغه له دې ربړو څخه ژغورلی شو. د کمزورۍ بل بنسټيز لامل د پاپ د دندې لنډ عمر و، په لسو کلونو کې چې د يو پاپ د دندې وروستی عمر دی، په سختۍ کولی شي له دغو ډلګيو څخه يوه کمزورې او د ځان تابع کړي. د بېلګې په توګه: تر څو چې به يوه پاپ د کولونيسي ډلګۍ له منځه وړله، د هغه د دندې وخت پای ته رسېده او په دې وخت کې به نوي پاپ د هغه ځای ونيو. څرنګه چې به نوی پاپ د اورسيني د ډلګۍ دښمن و، فرصت يې نه درلود چې د کولونيسي ډلګۍ په بشپړه توګه له منځه يوسي، نو په دې صورت کې به د کولونيسي ډلګۍ له سره بيا وده وکړه، نوي پاپ به د اورسيني د ډلګۍ د له منځه وړلو لپاره پوره وخت نه درلود او پر ځای به يې بل پاپ وټاکل شو، چې له همدې امله به د ايټاليا په خاوره کې د پاپ د دنياوي واک ډېر لږ درناوی کېده.
له هغوی وروسته شپږم پاپ الکساندر د پاپ دنده په لاس کې واخيسته، هغه د ټولو پاپانو برعکس چې مخکې تېر شوي ول، وښودله چې يو پاپ څنګه کولی شي د پانګې او وسلې په مرسته ستري کارنامې ترسره کړي. دې پاپ ډيوک ولنټينو د لاس آله وګرځوله، او د ايټاليا خاورې ته د فرانسې له راتګ څخه يې ګټه پورته کړه او ټولې هغه برياوې يې ترلاسه کړې، چې وړاندې د ډيوک ولنټينو په کړنو کې وڅېړل شوې. که څه هم د هغه موخه د کليسا د واکمنۍ پراختيا نه وه بلکې د ځوی هغه يې وه، خو سره له دې د هغه ټولو کارونو د کليسا د واکمنۍ په پراختيا او سترتوب کې مرسته وکړه، او د کليسا په ګټه پای ته ورسېدل.
وروسته تر دې چې پاپ الکساندر ومړ او زوی يې ډيوک له منځه لاړ، هر څه يې ځايناستو ته د ميراث په توګه پاتې شول. تر دوی وروسته پاپ جوليوس Pope Julious د پاپ په توګه وټاکل شو، چې په دې وخت کې کليسا ډېر زيات واک درلود او ټوله رومانيا يې په لاس کې وه. د روم اشرافيان نور ستړي او کمزوري شوي ول، د هغوی ډلې د الکساندر د ګوزارونو په پايله کې له صحنې وتلې وې او پاپ الکساندر کليسا ته ډېره زياته پانګه غونډه کړې وه چې تر الکساندر وړاندې د هېڅ يوه پاپ په پېر کې يې ساری نه و ليدل شوی. پاپ جوليوس نه يوازې دا چې د الکساندر پر پله لاړ او دا پانګه يې ونه لګوله بلکې نور يې هم زيات والی په کې راوست، او د بولونا د ولکې، وېنېسيانو د له منځه وړلو او د ايټاليا له خاورې څخه د فرانسويانو د شړلو تکل يې وکړ، چې دغه ټول پورته شوي ګامونه له هغه سره برياليي شول .بايد د هغه په وياړ دا هم ووايو چې هغه دغه هر څه يوازې د کليسا د واکمنۍ د پراختيا لپاره وکړل او هېڅکله يې د اشخاصو د سترتوب لپاره ګام نه پورته کاوه. سربېره پر دې هغه د اورسيني او کولونيسي ډلګۍ په هماغو حدودو کې چې موندلې يې وې وساتلې، که څه هم د هغوی تر منځ د اطاعت نه کولو ځينې نظريې پيدا شوې وې، خو سره له دې هغه دوه چارې په نظر کې ونيولې:
لومړی د کليسا د واکمنۍ پراختيا، چې هغوی يې پرې له وېرې سره مخ کړل. دويم هغوی ته د خپلو کارډينالانو د درلودلو اجازه نه ورکول و، چې د ټولو ګډوډيو بنسټيز لامل يې جوړاوه. ځکه که دې ډلګيو خپل کارډينالان درلودی، هېڅکله به په کرار نه وی ناست. په دې چې کارډينالانو له يوې خوا د دې ډلګيو په منځ کې اور ته لمن وهله او له بلې خوا يې له روم څخه دباندې ډلګۍ روزلې، چې د تاوتريخوالي لامل ګرځېدل. اشرافيان اړ ول چې په دې اختلافاتو کې د يوې خوا ملاتړ وکړي او

په دې توګه د مذهبي مشرانو د ځانپالنې په پايله کې د اشرافيانو په منځ کې ګډوډي او تاوتريخوالی رامنځته کېده. اوس عالي جناب پاپ ليو Pope Leo کليسا د واک او برم په لوړه څوکه کې ويني او داسې هيله کېږي چې که مخکښنيو ، د وسلې او توري په زور کليسا ته سترتوب وروبانښه. پاپ ليو به کليسا په خپلو ښو اعمالو او بې شمېره نورو فضيلتونو نوره هم ستره او درنه کړي، چې زموږ هم همدا تمه ترې کېږي .

## دولسم څپرکی

د لښکرو د بېلابېلو ډولونو او د اجيرو لښکرو په اړه

څرنګه چې د سلطنتي هېوادونو د ډولونو او ځانګړتياؤ په اړه، چې د دې کتاب له پيله مو راخيستي دي، پر هغوی د حکومت لارې چارې، د ځواک او بې وزلی لاملونه، او د هر يوه د نيولو او ساتلو پر وسايلو په ځانګړې ډول خبرې وشوې، اوس غواړم د دغو هېوادونو د يرغل او دفاع د وسايلو په اړه خبرې وکړم.
مخکې مو يادونه وکړه چې څومره اړينه ده يو ټولواک د خپلې واکمنۍ بنسټ کلک جوړ کړي او که نه د ټولواکۍ له منځه تلل يې حتمي دي.
ټول سلطنتونه، که نوي، زاړه او يا مرکب سلطنتونه وي، بنسټ يې ښه قانون او ښې لښکرې دي. څرنګه چې يو هېواد د لښکرو په نشتوالي کې ښه قانون نه شي لرلی او که ښې لښکرې ولري، حتمي ده چې ښه قانون به هم لري. نو زه قوانين پر ځای پرېږدم او دلته يوازې د لښکرو په اړه خبرې کوم.
هغه لښکرې چې يو ټولواک يې د خپلې ځواک سيمې د ساتنې لپاره ګماري، يا د ټولواک له خپلو وګړو ((ملي لښکرې)) جوړې، يا مرستندويه لښکرې Auxiliaries او يا هم اجيرې لښکرې Mercenaries وي، او يا داچې د اجيرو او مرستندويه لښکرو له يو ګډ نظام Mixed Soldiery څخه جوړې شوې وي.
اجيرې او مرستندويه لښکرې، دواړه، بې ګټې او له ګواښه ډکې دي. هغه ټولواک چې خپل هېواد په اجيرو او مرستندويه لښکرو ساتي، هېڅکله يې واکمني نشي ټينګېدی او نه هم د دولت چارې په يوه سوله ييز چاپېريال کې پر مخ بيولی شي. ځکه دغه ډول لښکرې يو موټی نه وي او يووالی نه لري. ځانپاله، ګډې وډې، سر غړونکې او درغلګرې دي. ملګرو ته زړورې او دښمنانو ته بې زړه دي او همدا چې ستاسو سلطنت تر يرغل لاندې راغی، يوازې مو پرېږدي .له دې امله په سوله کې ستاسو شتمني او زېرمې لوټوي او د جګړې پر مهال دښمن ته وار ورکوي، چې تاسو لوټ کړي. دا ځکه چې هغوی يوازې د يوې تنخا لپاره له تاسو سره وخت تېروي، د سيمې او ستاسو د ساتلو هدف يا له تاسو سره کومه بله ځانګړې مينه نه لري او په حقيقت کې د دې اجورې په بدل کې له هغوی د کومې سرښندنې تمه هم نه شي کېدی، د هغوی په نظر دا کمې تنخاوې د ځان د سرښندنې هومره ارزښت نه لري. هغوی دې ته تيار دي چې يوازې په سوله کې له تاسو سره پاتې شي په بله وينا: هغوی چمتو دي چې ستاسو سرتېري وي، خو په دې شرط چې تاسو جګړه پيل نه کړئ، د جګړې له پيل سره سم ځانونه ليرې کوي، له دښمن څخه تېښته کوي او ځانونه له ستړګو پناه کوي. که څه هم پر دې ټکي پوهول او ثبوت به يې زما لپاره لږ څه ستونزمن وي، خو بايد ووايم چې د ايټاليا د تباهۍ يوازينۍ علت له دې پرته بل نه دی. ځکه دې هېواد له کلونو کلونو راهيسې پر اجيرو لښکرو باور کړی دی. که څه هم هغوی د خپلو ځاني ګټو لپاره خدمت او مرسته کړې او کله کله يې د ځانښودنې په موخه له يو بل سره مبارزې هم کړې او ځانونه يې مېړني ښودلي دي، خو بيا يې هم له بهرني دښمن سره د مخامخ کېدو پر مهال خپل اصلي رنګ ښودلی دی. نو له همدې امله دی چې وايي: د فرانسې پاچا ، شارل، ايټاليا يوازې له يوه تباشير �سره ونيوله. څوک چې وايي((د دې تباهۍ)) اصلي لامل زموږ تېروتنې دي، خبره يې پر ځای ده، خو په دې شرط چې �زموږ له تېروتنو �هدف هماغه تېروتنې وي، چې ما نغوته ورته کړې ده، مانا دا هغه تېروتنې نه وې چې هغوی يې تصور کاوه بلکې يوازې هغه دي چې ما يې يادونه کړې ده او لکه څنګه چې دا تېروتنې د دې ټولواکو د اعمالو پايله وه، نو زيان يې هم يوازې هغوی ګاللی دی.
اوس غواړم چې له دې لښکرو راولاړ شوي زيانونه لږ څه نور هم روښانه کړم:
د اجيرو لښکرو مشران((قوماندانان)) يا وړ خلک وي، يا نه وي. که لايق او وړ خلک وي، تاسو باور نه شئ پرې کولی. ځکه هغوی تل د خپل سترتوب او ښه نوم په لټه کې دي، نه د ستاسو هغه، چې هغه هم د ستاسو په راپرځولو او يا د نورو

مخالفینو په مرسته لاسته ورځي.خو په هرصورت، هغوی یو وازې د خپلو شخصي ګټو غوښتونکي دي.
له بلې خوا که چېرې د دې لښکرو مشران ماهر او وړ خلک نه وي، بیا هم ستاسو په زیان دي او له تاسو سره د هېواد په ساتنه کې هېڅ مرسته نه شي کولی.
او که څوک ټینګار وکړي چې لښکرې اجیرې او که نورې وي، خو یو ځل چې د لښکرو په توګه ونیول شوې خپله دنده یو ډول ترسره کوي.
زه ځواب ورکوم: هرکله چې یو ټولواک یا ولسمشر د لښکرو په کار اچول او بیارغول غواړي، که هغه ټولواک وي اړ دی چې د لښکرو مشري پر خپله غاړه واخلي، چې دا د جګړې ګټلو تر ټولو ښه لار ده او که ولسمشر وي، خپل یو باوري سردار دې د لښکرو د مشرۍ لپاره وټاکي. که په دې صورت کې نوموړی سردار خپله وړتیا ونه شي ښودلی، کولی شي هغه بدل کړي او که یو وړ او ماهر شخصیت وي، کولی شي د قانون په مرسته یې دې ته اړ کړي چې دنده پرې نږدي.
تجربې ښودلې چې د سلطنتي او جمهوري هېوادونو له منځه هغه هېواد چې خپلې ملي لښکرې یې درلودې، د هغو هېوادونو په پرتله چې پر اجیرو لښکرو یې زړونه تړلي، ډېرې بریاوې یې ترلاسه کړې دي. چا چې په اجیرو لښکرو زړه تړلی او تکیه یې پرې کړې پایله یې ماتې ده.
سربېره پر دې هغه جمهوري هېوادونه چې خپلې ملي لښکرې لري، د هغو په پرتله چې یو وازې پر اجیرو لښکرو ډډه وهي، په ګرانه د پردیو تر نفوذ لاندې راتلی شي، په دې مانا چې د هېواد د ساتنې لپاره تر ټولو ښه لار دا ده چې یو څوک د خپل هېواد له اوسېدونکو څخه د سرتېرو په ښه کار واخلي او مشر یې هم د خپل هېواد اوسېدونکی وټاکي.
د روم او سپارټ هېوادونه په پېړیو پېړیو وسله وال ول او خپلې لښکرې یې درلودې، په بشپړه خپلواکۍ کې یې ژوند کاوه او همدارنګه د سویس هېواد او سېدونکي هم ګرد وسله وال دي، خپلې لښکرې لري او تر ټولو خپلواک ولس بلل کېږي. د لرغونو اجیرو لښکرو بېلګه مو د کارتاژیانو په تاریخ کې لرو، چې که څه هم د دې لښکرو مشران د کارتاژیانو خپل سرداران ول، خو له روم سره یې د لومړۍ جګړې په پای کې نژدې د همدې لښکرو له امله ماتې خوړلې وه.
د تبس اوسېدونکو د ایپې مېنونډاس Epiminondas تر مړینې وروسته مقدونې فلېپ د خپلو لښکرو سردار وټاکه، خو دې سردار د جګړې تر پای او فتحې وروسته د هغوی خپلواکي شنډه کړه. همدارنګه د میلان اوسېدونکو د ډیوک فلېپو Duke Filippoتر مړینې وروسته فرانسېسکو سفورتسا د خپلې سردارۍ لپاره اجیر کړ، چې میلان د وېنېسیانو له یرغل څخه وژغوري، خو وروسته تر دې چې د هغوی دښمن یې مات کړ، له همدې دښمن سره ببرته یو لاس شو او میلانیان یې چې د هغه ښتنان بلل کېدل، تس نس کړل... د دې سړي پلار سفورتسا هم چې کله د ناپل د ملکې، جوهاناJohanna ، له خوا اجیر نیول شو یو، ملکه یې د کراواګژیو Caravaggioپه جګړه کې بې دفاع او بې لښکره پرېښوده، چې په پایله کې ملکه دې ته اړه شوه چې د خپل هېواد او سلطنت د ژغورنې لپاره د اراګون Aragon ټولواک ته پناه یوسي او د هېواد ساتنه د اراګون لښکرو ته وسپاري.
کېدی شي څوک ووایي چې په لرغوني پېر کې خو وېنېسیانو او فلورېنسیانو د همدې لښکرو په مرسته خپله خاوره پراخه کړې ده، او د دې لښکرو مشران پرته له دې چې د ځانپالنې کوم فکر له ځانه سره ولري او یا ځانونه د دې هېوادونو ټولواکي کړي، د هغوی په چوپړ کې وه او د هغوی ساتنه یې کړې ده.
زما ځواب دا دی چې په دې صورت کې له فلورېنسیانو سره بخت ملګری و. ځکه د اجیرو لښکرو ځینې سرداران، چې ممکنه وه د هغوی د وېرې اسباب یې برابر کړي وي، فاتح نه شول. ځینو یې په خپل منځ کې له یو بل سره سیالي کوله او نورو یې د خپلې ځانپالنې حس نورو خواوو ته اړولی و. د هغو سردارانو له منځه، چې فاتح نه شول، یو هم ګیواني اکوتو Giovanni Acutoو. څرنګه چې دغه سړی په جګړه کې بریالی نه شو، نو هېڅکله یې وفاداري تر ازمېښت لاندې رانغله. خو ټول دا مني چې که هغه بریالی شوی وی، نو ټول فلورېنسیان به د هغه تر نفوذ او اقتدار لاندې راغلي وی.
سفورتسا هم د ځان په وړاندې براکسیشي Braccechi درلود او یو بل ته یې پام و. فرانسېسکو خپله ځانپالنه لمباردۍ ته اړولې وه، او براکسیو Braccio د کلیسا او د ناپل د سلطنت پر ضد و او د ځانپالنې حس یې هم هغوی ته وراړولی و.
خو راځئ چې خپل پېر ته راشو او وګورو چې په دې وروستیو کې څه پېښ شوي دي:
پګولو ویټېلي، چې یو هوښیار او تجربه کاره سړی و، د فلورېنسیانو له خوا د لښکرو سردار وټاکه. دغه سردار چې لومړی عادي او ساده سړی و د وخت په تېرېدو یې پرمختګ وکړ، سردارۍ ته ورسېد او نوم یې وایست. که دغه سردار د پیزا له جګړې بریالی وتلی وی، بې له شکه به د فلورېنسیانو ټول هېواد د هغه تر واکمنۍ لاندې راغلی و او که له دښمن سره یو لاس

شوي وی، د فلورېنسيانو هېواد به ړنګ او وران شوی وی او د هغه په وړاندې به يې د مقاومت هېڅ اسباب نه درلودل. او که غوښتلي يې وی چې د خپلو لښکرو د سردار په توګه يې وساتي نو اړ به ول چې هرې غوښتنې ته يې غاړه کېښودې.
که موږ د وېنېسيانو پرمختګونه په نظر کې ونيسو، وبه وينو چې د هغوی سترتوب، سرلوړي او برياليتوبونه تر هغو روان ول چې يوازې يې د خپل هېواد او سېدونکي، که مخور، شتمن، بيوزلي او يا د وګړو له ټيټ پوړه ول، وسله وال جګړې ته لېږل، چې ټول په مينه روان ول. دا کار په هغوی کې له صحرايي جګړو څخه مخکې دود و او د صحرايي جګړو له پيل وروسته يې پخواني دودونه او فضيلتونه هېر کړل او د ايټاليا دودونه يې خپل کړل. نو د دې کار په پيل کې چې هغوی وغوښتل خپل هېواد ته په وچه کې پراختيا ورکړي، څرنګه چې زيات شهرت او لږې سيمې يې درلودې، له خپلو سردارانو څخه يې د وېرې احساس نه کاوه، خو د خاورې له پراختيا وروسته په تېره بيا د کارمګنولا Carmignola تر مشرۍ لاندې يې د دې تېروتنې زيان وليد او پرې پوه شول. ځکه وېنېسيانو ته د دې سړي زړورتيا او تجربه جوته شوې وه، په ځانګړي ډول هغه وخت چې تر مشرۍ لاندې يې د ميلان ډيوک ته هم د جګړې په ډګر کې ماتې ورکړه، چې په دې ډول د وېنېسيانو په منځ کې ډېر نوم وايست، خو له بلې خوا په اوسنيو جګړو کې ډېر يخ او زړه نازړه و او د پخوا په څېر يې جګړه نه کوله، نو وېنېسيان پوه شول چې هغه نورې برياوې نه شي ورپه برخه کولی. ځکه دې سردار نور نه غوښتل چې هغوی لپاره په کلکه جګړه وکړي. وېنېسيانو هم د دې وس نه درلود چې واک ترې واخلي. ځکه نو د دې لپاره چې خپلې لاسته ورغلې سيمې بېرته له لاسه ورنه کړي او ځانونه وژغوري، اړ شول چې هغه ووژني.
تر دې وروسته يې بارټولوميو دا برګامو Bartolomeo da Bergamo ، روبرټو دا سان سيورينو Roberto da San Severinoاو د پټيکلیانو کونټ the count of Pitigliano او د هغوی په څېر نور د سردارانو په توګه اجير کړل.
د دې سردارانو په پېر کې د وېنېسيانو يوازېنۍ اندېښنه د لاسته ورغليو سيمو له لاسه ورکول ول، نه نورې برياوې. د بېلګې په توګه :هغوی وروسته د ويلا Vaila په جګړې کې ټولې هغه سيمې، چې په اتو سوو کلونو کې يې د بې شمېره ستونزو په ګاللو تر واک لاندې راوستې وې، له لاسه ورکړې... له همدې ځايه څرګندېږي، هغه ګټې چې د اجيرو لښکرو له جګړې ترلاسه کېدې، ډېرې کمې او ورو ((سستې ((وې، خو زيان يې ډېر چټک او د زغملو نه و.
دغه خبرې بيا زموږ پام بېرته ايټاليا ته اړوي. هغه هېواد چې په کلونو کلونو يې ځان په اجيرو لښکرو ساتلی دی، نو په کار ده چې دا موضوع ښه وڅېړم، چې د دې لښکرو پيل او پرمختګ په ښه توګه روښانه شي او که بيا څوک د هغوی د سمون په موخه ګام پورته کوي ښه مالومات به هم په کې ولري او په خورا اسانۍ به يې په سمون لاس پورې کړي. وروسته تر هغې چې په دې وروستيو کې د ايټاليا له خاورې د امپراتورۍ لاس لنډ شو او پاپ د کليسا واکمنې په دنياوي واک نوره هم پياوړې کړه، ايټاليا پر نورو کوچنيو هېوادونو ووېشل شوه. ځکه چې د زياترو لويو ښارونو اوسېدونکو د خپلو اشرافيانو پر ضد وسله راپورته کړه، له هغه ځايه چې دغه اشرافيان د امپراتور له مرستې برخمن ول، نو تل به يې پر خلکو واکمني چلوله او د کليسا کشيشان هم د دې لپاره چې دنياوي واک ترلاسه کړي، له هغوی سره يې د مرستې لېوالتيا ښودله، نو په پايله کې د دې ښارونو ډېرو اوسېدونکو، چې عادي ژوند يې درلود، د ټولواکۍ مقام ته ورسېدل او له همدې ځايه داسې پېښ شول چې ايټاليا نيمايي د کشيشانو او نيمايي د جمهوريت په لاس کې ولوېږي. څرنګه چې د کليسا واکمنان کشيشان ول او د جمهوريت مشران داسې ښاريان ول چې په جګړو او لښکريزو موضوعاتو کې يې هېڅ تجربه نه درلوده او له وسلې سره روږدي نه ول. همدا وه چې په ايټاليا کې يې د اجيرو لښکرو خبر رابرسېره کړه، چې د دې کار لپاره بهرنۍ لښکرې په کار وګومارل شوې.
لومړنی شخص، چې دې ډول لښکرو ته يې نوم ورپه برخه کړ او نړيوالو ته يې وروپېژاندې، رومانيايي البريګو دا کونيو Alberigo da Conioو ، چې براکسيو او سفورتسا هم د دې سړي د لارې لارويان او د هغه په جګړه ييزه ښوونځي کې د روزل شويو کسانو په ډله کې راځي. دغه دواړه څېرې په خپلو وختونو کې د ايټاليا يوازېني واکمنان تېر شوي دي. تر هغوی وروسته ګڼ شمېر سرداران راپيدا شول، چې تر دې دمه يې د ايټاليا د لښکرو مشرې پر غاړه اخيستې ده، چې د تورې او زړورتيا په پايله کې يې زموږ هېواد د شارل د تېريو بلهاري (قرباني ) وګرځېد ، د لويي له خوا لوټ، د فرديناند Ferdinand له خوا ړنګ او د سويسيانو Suitzers له خوا يې سپکاوی وشو.
د اجيرو لښکرو د ارونو لومړنۍ موخه دا وه چې د پلي نظام اهميت له منځه يوسي، چې په دې کار وکولی شي د خلکو په نظرونو کې خپل کسان کاري او وړونښيي او دا کار يې د دې لپاره ترسره کاوه، چې هېڅ يوه سيمه او ملکيت يې په اختيار کې نه درلود ، يوازې د خپلې لښکريزې دندې په تنخا يې د خپلو سرتېرو ټول لګښت نه شو برابرولی او يو څو پليو سرتېرو هغوی

ته بشپړ واک نه شو ورپه برخه کولی او که غوښتي یې وی چې د پلیو شمېر زیات کړي، په واک کې یې نه وه. نو هغوی سپرې لښکرې په کار وګومارلې. څرنګه چې سپرو لښکرو ته یې ډېر لاس رسی نه درلود ، نو د دې لښکرو د یو منځني یا نسبتاً کم شمېر په مرسته هغوی ځان یو څه ټینګ کړ، یو څه ویاړ او درناوی یې پیدا کړ او د دې لښکرو اداره کول هم دومره ستونزمن نه ول. خو وروسته بیا دا ترتیب دومره دود شو چې په یو شل زریز لښکر کې به دوه زره پلي سرتېري هم نه لیدل کېدل. دې سردارانو تل هڅه کوله، چې خپل ځانونه او سرتېري له ستړیاوو او ګواښونو وژغوري، هېڅکله یې ځوک په جګړه کې نه وژل بلکې اسیران کول یې او بیا به یې تر بریا وروسته پرته له کوم قید او شرطه پرېښودل. د شپې له خوا یې پر ښارګوټو یرغل نه کاوه او هغوی چې به د ښار په چوڼیو کې میشت ول، له ښاره بهر نه وتل، چې پر یرغلګرو لښکرو د شپې له خوا یرغل وکړي. هغوی له خپلو چاوڼیو یا لښکرکوټونو خندقونه او مورچې نه تاوولې، په ژمي کې یې جګړه نه کوله او د دې ټولو ترتیباتو لپاره یې خپل ځانګړي نظامي ارونه ټاکلي ول، چې هغوی لکه مخکې چې وویل شول، له ستونزو او سختو کارونو خلاص وي. په دې توګه دې لښکرو د ایټالیا هېواد له مریتوب او بدمرغۍ سره مخ او د پردیو په ذهن کې سپک او حقیر کړ.

---

�دا د پاپ الکساندر له ټوکو څخه ده او هغې اسانۍ ته اشاره کوي چې د فرانسې پاچا اتم شارل وکولی شول ایټالیا ولکه کړي. هغه په دې وینا داسې ښکاروله چې اتم شارل یوازې په دې بسنه وکړه چې د پوځ زېرمو ال ایټالیا ته ولېږي چې د تباشیر په مرسته خپلو لښکرو ته پنډغالي او چاوڼۍ ګانې په نښه کړي او په دې توګه د هغه لښکرې هلته مېشت شي او د غه هېواد تر ولکې لاندې راولي. لارډ بکن Lord Bacon په خپل کتاب داتم هینري تاریخ کې وايي چې شارل د ناپل هېواد داسې په چټکۍ ونیوه او بیا یې ژر له لاسه ورکړ لکه خوب چې ویني؛ هغه ټوله ایټالیا پرته له کوم ټینګاوه (مقاومته) څخه ونیوله .له دې امله پاپ الکساندر په خپله خبره کې رښتنی و چې فرانسویان له تباشیر سره راغلي ول چې ځان ته پنډغالي په نښه کړي نه له توري سره چې جګړه وکړي .

## دیارلسم څپرکی

د مرستندویه، ګډو او ملي لښکرو په اړه

د ناکاره ځواکونو یو بل ډول مرستندویه لښکرې یا Auxiliaries دي او هغه وخت کارول کېږي چې یو ټولواک خپل بل سیال له لښکرو سره یو ځای خپلې مرستې او دفاع ته راوبولي. لکه چې په دې وروستیو کې د پاپ جولیوس له خوا ترسره شول. کله چې یې د فرارا په جګړه کې ولیدل چې اجیرې لښکرې دومره اغېزمنې نه دي مرستندویه لښکرو ته یې مخه وکړه. د دې کار لپاره یې د اسپانیا له پاچا فردیناند سره تړون لاسلیک کړ، یو شمېر پلي او سپرې لښکرې یې له سردارانو سره یو ځای خپلې مرستې لپاره واخیستې.
مرستندویې لښکرې ښایي د خپل ځان لپاره ښې او ګټورې وي. خو د هغه چا لپاره چې د خپلې مرستې لپاره یې رابللي دي، له زیان او ګواښه ډکې دي. که هغوی ماتې خوري نو ښکاره ده چې تاسو جګړه بایلئ یا ماتې خورئ او که هغوی جګړې ګټي، نو تاسو د هغوی تر اسارت لاندې راځئ.
که څه هم لرغوني تاریخ له داسې بېلګو څخه ډک دی، خو زه د پاپ جولیوس د دې نوې پېښې یادونه کوم. دا هغه پېښه ده چې ډار یې تر اوسه هم زموږ په ذهن کې دی.
د فرارا ولکې ته د پاپ جولیوس دومره بیړه وه چې پرته له دې چې له ځانه سره څه فکر وکړي ځان یې د پردیو غېږ ته واچاوه. خو سره له دې بخت له هغه سره ملګری شو او دریېمه پېښه شوه، نو له دې کبله یې د دې بې ځایه ټوپ تریخ خوند ونه څاکه. ځکه وروسته تر دې چې د هغه مرستندویو لښکرو په راونا Ravenna کې ماتې وخوړه، سویسي لښکرې د ناڅاپي برید په ترڅ کې راپاڅېدلې او د پاپ او نورو د هیلو برخلاف یې فاتحین وشړل او له منځه یې یوړل او داسې پېښ شول چې که څه هم د هغه ((پاپ)) لښکرو ماتې خوړلې وه، خو هغه د دښمن تر اسارت لاندې رانغی، ځکه هغه وتښتېدل او څرنګه چې د نورو په مرسته بریالی شوی و، نو د مرستندویه لښکرو تر اسارت لاندې هم رانغی.
فلورېنسیانو په داسې حال کې چې ملي لښکرې یې نه درلودې، لس زره فرانسوي سرتېري یې راوستل او پیزا یې کلابنده کړه دې کار هغوی ته داسې ګواښونه پېښ کړل چې زغمل یې له بل هریوه ستونزمن حالت څخه سخت و .د دې لپاره چې د

قسطنطنيې امپراتور ځان د ګاونډيو له شر څخه خلاص کړي، د ترکيې له لښکرو څخه يې لس زره سرتېري د خپلې مرستې لپاره يونان ته راوبلل او څه وخت چې جګړه پای ته ورسېده، د ترکيې لښکرې له يونان څخه ونه وتلې او دا د لامذهبانو Infidelsتر لاس لاندې د يونان د غلامۍ پيلامه وه.

نو هر څوک چې هيله لري له فتحې او برې څخه بې برخې پاتې شي، پرېږدئ چې له مرستندويه لښکرو څخه کار واخلي. ځکه د هغوی خطر او زيان د اجيرو لښکرو په پرتله څو ځلې ډېر دی. بلونکې ته تيارې تباهي له ځان سره راوړي. ځکه هغوی ټول يو لاس دي او د خپلو سردارانو امر ته په بشپړه توګه غاړه ږدي .خو اجيرې لښکرې تر فتحې وروسته د مرستندويو لښکرو په پرتله ډېر اوږد وخت او مساعدو فرصتونو ته اړتيا لري، چې ناوړه ګام پورته کړي او تاسو ته زيان دروړسوي. سربېره پر دې هغوی په يوې ټولنې پورې اړه نه لري، بلکې ډلې ډلې دي. هغوی له ټولواک څخه اجوره ترلاسه کوي، د ټولواک له خوا په کار اچول کېږي او د هغوی پر سر سرداران ټاکل کېږي .نو ممکنه نه ده چې په دې چټکتيا او اسانۍ دومره واک ترلاسه کړي چې ټولواک له ګواښ سره مخ کړي.

لنډه دا چې د ټولواک لپاره د اجيرو لښکرو خطر، د هغوی بې زړه توب او د مرستندويه لښکرو خطر د هغوی زړورتيا ده.

هوښيارو ټولواکو تل له داسې لښکرو څخه ډډه کړې او يوازې يې پر ملي لښکرو ډډه وهلې او که يې په داسې يو حالت کې ماتې هم خوړلې، هغه ماتې يې پر هغې فتحې پورته ګڼلې ده چې د پرديو لښکرو په مټ ورپه برخه کېږي. او ورته جوته شوې چې کومې فتحې د پرديو لښکرو په مرسته يو ټولواک ته ورپه برخه کېږي، حقيقي فتحې نه دي. نو پکار ده چې په دې ځای کې سزار بورجيا او د هغه اعمال يو ځل بيا تکرار کړم:

ډيوک رومانيا ته د فرانسوي مرستندويه لښکرو په مرسته ننوت او د هغوی په مرسته يې ايمولا Imola او فورلي Forli ولکه کړل. خو وروسته ورته جوته شوه چې دا لښکرې د باور وړ نه دي او په دې فکر چې له اجيرو لښکرو له خوا ورته لږ خطر متوجه کېږي، خپل پام يې بيا اجيرو لښکرو ته واړاوه. او له اورسينيانو او ويټيليانو څخه يې اجيرې لښکرې جوړې کړې او مشرې يې پر خپله غاړه واخيستې. کله چې يې عملاً وليدل دغه لښکرې هم شکمنې، بې وفا، درغلګرې او له ګواښه ډکې دي، نو له هغوی يې هم لاس واخيست. تردې وروسته يې يوازې پر هغو لښکرو باور کاوه چې له خپلو خلکو يې جوړې وې.

اوس که تاسې د ډيوک بورجيا مقام او اعتبار د فرانسوي، اورسيني او ويټيلي سرتېرو په پېر کې ((چې مرستندويې او اجيرې يې نيولې وې)) او هغه مهال چې يوازې يې له خپلو کسانو څخه پر جوړو شويو لښکرو باور کاوه وارزوئ، نو وبه وينئ چې له دې لښکرو سره څومره توپير لري، هغه د ملي لښکرو پر وفادارۍ او رښتينولۍ وياړي او د نورو لښکرو په پرتله يې څو ځلې غوره بولي. اوس يې هر څوک د ملي پوځ په درلودلو څومره درناوی کوي .

ما نه غوښتل چې د ايټالويانو له پېښو او موضوع څخه ليرې لاړ شم، په تېره بيا هغه پېښې او بېلګې چې په نژدې وختونو کې ترسره شوې يا اوس هم روانې دي. خو د سيراکوس اتل Hero the Syracusan هم بايد د يوې بېلګې په توګه راولم چې له تېرو يادو شوو کسانو څخه دی.

دا سړی د سيراکوس د اوسېدونکو له خوا د لښکرو سردار وټاکل شو او سملاسي يې جوته کړه چې اجيرې لښکرې ((هغه لښکرې چې موږ يې په ايټاليا کې لرو)) بې ګټې دي. ځکه خو نه شو کولی د خدمت تمه ترې وکړو. نو څرنګه چې نه يې شو کولی هغوی وساتي يا يې منحل کړي، له ناچارۍ يې ټول له تورې تېر کړل او هوډ يې وکړ چې نور به له بل چا څخه د مرستې تمه نه کوي او بايد له خپلو خلکو څخه د جوړو شو لښکرو په کارولو سره جګړه پيل کړي.

په دې ځای کې غواړم چې د لرغوني متن)) Old Testament د اوسني انجيل هغه برخه چې د يهودو ژوند ته ښېله شوې ده)) يوې پېښې ته اشاره وکړم، چې مطلب يې زموږ له موضوع سره ډېر نژدې تړاو لري:

کله چې حضرت داود عليه السلام David په خپلخوښې توګه طالوت Saul ته ځان حاضر کړ چې له فلسطيني پهلوان جالوت Goliathسره به جګړه کوي. طالوت د تشويق لپاره هغه ته خپله وسله ورکړه. خو حضرت داود عليه السلام دغه وسله وانه خيسته او ويې ويل: �له دې وسلې څخه چې تر اوسه پورې يې ازمويلې نه ده، نه شي کولی کار واخلي او پر دښمن برلاسی شي�او دا يې غوره وبلله چې د خپلې مچلوغزې او تورې په لرلو سره د دښمن په وړاندې ودرېږي.

نو دې پايلې ته رسېږو چې د نورو وسلې پر سړي غټې او يا درنې وي، يا سړی ډېر ټينګ نيسي چې په هر حالت کې ستاسو له عملياتو څخه مخنيوی کوي.

د يوولسم لويي پلار اووم شارل، چې په خپلې زړورتيا او لښکرو يې انګريزان له فرانسې څخه وشړل، ښه ورته جوته شوه چې ترڅو ملي لښکرې ونه لري پر دښمن بې برلاسي ناشونې ده ، نو له همدې امله يې فرمان صادر کړ چې په ټول هېواد کې دې

سپړي او پلې ملي لښکرې برابرې شي.

تر هغه وروسته يې زوی د پلار دود مات کړ، ملي لښکرې يې منحل کړې او له سويس څخه يې اجيرې لښکرې راونيولې چې د هغه ځای ناستو هم همدا تېروتنه وکړه او اوس يو داسې حالت ته رسېدلي دي چې سلطنت يې له ګواښ سره مخ کړی او د خطر د يوې سرچينې حيثيت ورته لري.

ځکه هغوی دا ټول ويار او شهرت سويسي اجيرو لښکرو ته ورپه برخه کړ او خپلې ملي لښکرې يې په بشپړه توګه بې ارزښته کړې او څرنګه چې يې پلي پوځونه په بشپړه توګه له منځه وړي او سپړي لښکرې يې د پرديو تر لاس لاندې ورکړې. نو د فرانسې لښکرې د سويس له لښکرو سره ګډې ((څنګ په څنګ)) جګړې ته داسې روږدې شوې دي چې فکر کوي د سويسي يا نورو بهرنيو لښکرو له مرستې پرته يې بری ناشونی دی. ان تر دې چې د سويسي لښکرو سيالي هم نه شي کولی او له مرستې پرته يې هم د دې جوګه نه دي چې پر دښمن برلاسي شي.

په دې ډول د فرانسې لښکرې له دوو ډلو څخه جوړې شوې، چې نيمايي يې اجيرې او نيمايي يې ملي لښکرې وې. که څه هم د دواړو ګډون له يوازې مرستندويه يا يوازې اجيرو لښکرو څخه څو ځلې ښه دی. خو بيا هم د ملي لښکرو په پرتله ډېرې بې ارزښته او د ټيټې کچې دي.

ښکاره ده چې که د فرانسې هېواد د ملي لښکرو په اړه د اووم شارل له مقرراتو څخه سرغړونه نه وی کړې او نوره يې هم پراختيا ورکړې او ساتلي يې وی، نو هېواد به يې هېڅ‌ته غاړه نه وی ايښې. خو د انسان ناکافي عقل سړی په داسې چارو کې ښکېلوي، چې په پيل کې ښې او بريالۍ ښکاري، خو په هغو کې نغښتي زيانونه نه شي تشخيصولی. لکه مخکې چې مو اشاره ورته وکړه، دا د تودې تبې په شان دي چې نه شو کولی په اسانۍ سره يې تشخيص کړو.

له دې ځايه داسې ويلی شم: هوښيار ټولواک مصيبتونه تر ودې د مخه ببلوي او دا لرليد او ځيرکتيا يوازې لږو خلکو ته ورکړل شوې ده.

که موږ د روم د امپراتورۍ د لومړي پېر راپرځېدنې علتونه وارزوو، وبه وينو چې اصلي علت يې د اجيرو ګوتې Goths لښکرو په کار وړل ول. چې له همدې ځايه د روم د امپراتورۍ نفوذ او قدرت د ضعف خوا ته لاړ او هغه ټوله مېړانه يا نېک صفتونه، چې روميان يې دې مقام ته رسولي ول، نورو ته ولېږدول شول او د روم د امپراتورۍ د له منځه وړلو اسباب يې برابر کړل. ځکه داسې لښکرې يې نه درلودې چې په وروستيو ورځو کې ترې دفاع وکړي.

لنډه دا چې له ملي لښکرو پرته هېڅ هېواد په امن کې نه دی. خو که خپلې باوري ملي لښکرې او هغه زړورتيا چې له هېواد څخه د دفاع کولو لپاره يې په کار ده ونه لري، نو ځان دې خپل بخت ته وسپاري. د هغه چا اقتدار او شهرت ډېر لنډ عمری او بې ثباته دی چې بنسټ يې پر يو حقيقي ځواک نه وي ولاړ. چې دا ځواک ملي لښکرې دي. له ملي لښکرو څخه هدف هغه لښکرې دي چې د ټولواک د خپل هېواد له اوسېدونکو، د ولکې لاندې وګړو او نورو تر لاس لاندې کسانو څخه جوړې شوې وي او له دې پرته نورې ټولې لښکرې يا اجيرې او يا مرستندويې دي.

که پر هغو ارونو او مقرراتو چې ما يې وړانديز کړی دی، په کلکه عمل وکړئ په اسانۍ کولی شئ يو ملي لښکر چمتو کړئ او که د لوی سکندر د پلار، فلېپ، ځانګړو طرحو ته چې د ملي لښکرو د چمتوالي لپاره يې په کار وړې پاملرنه وشي او هغو وسايلو څخه چې نورو سلطنتونو او جمهوري هېوادونو د خپلو ځانونو د سمبالولو او د لښکرو په جوړولو کې کارولي دي ګټه واخلئ، کولی شئ په اسانۍ ملي لښکرې تيارې کړئ. زه پر دې اصولو پوره باوري يم.

څوارلسم څپرکی

د جګړې بيز هنر په برخه کې د ټولواک دنده

يو ټولواک بايد تل د جګړې د وسايلو د نظم او ترتيب په اړه فکر وکړي. ځکه چې دا کار د يوه ځواکمن لښکر د رامنځته کولو لپاره اړين دی. او له دې پرته نور څه د خپلې زده کړې لپاره ونه ټاکي او نه بل هوډ ولري. ځکه دا يوازېنی فن دی چې له هر يوه ټولواک څخه يې د زده کړې تمه کېږي. دا فن له داسې ارزښت څخه برخمن دی چې نه يوازې ميراثي ټولواکي په خپله څوکۍ هماغسې ټينګ ساتي بلکې عادي خلکو ته يې هم د يوې اغېزمنې وسيلې په بڼه دا توان ورکړی چې پرمختګ وکړي او دا څوکۍ ترلاسه کړي.

له بلې خوا موږ په وار وار ليدلي هغو ټولواکو چې خپل وخت د دې پر ځای چې د لښکرو په ترتيب او تنظيم کې تېر کړي، په هوساينې او راحت کې تېر کړی دی، خپل هېواد او ځوکۍ يې له لاسه تللې او نورو ته وربه برخه شوې ده. څرنګه چې له دې هنر څخه غفلت کول د دې بد مرغۍ يوازينی سبب دی، نو په دې هنر کې مهارت هم د ټولواکۍ مقام ته د رسېدو ډاډمنه لار ده.
فرانسېسکو سفورتسا د لښکريزو چارو په فن کې د خپل مهارت له امله له يوه عادي او ساده سړي څخه پرمختګ وکړ مارشال شو او د ميلان هېواد د ټولواکۍ مقام ته ورسېد .زامنو يې چې د پوځي ژوند له ستونزو او سختيو څخه ډډه کوله، په داسې حال کې چې د يوه ټولواک زامن ول، له دې ځوکۍ څخه عادي وګړو ته راټيټ شول.
د بدمرغۍ له نورو لاملونو سره سره، چې د لښکرو او وسلو د نه لرلو له امله رامنځته کېږي، يو دا هم دی چې ټولواک له حقارت او کرکې سره مخ کوي او دا له هغو بلاګانو څخه ده چې بايد ټولواک پخپله تري لکه لاندې چې ويل شوي، په کلکه ځان وساتي .
بې وسلې له وسله وال سره ډېر توپير لري او معقوله نه ده چې وسله وال سړی دې په مينه او خوښۍ بې وسلې ته غاړه کېږدي، يا دا چې بې وسلې دې د خپلو يو شمېر وسله والو پلويانو تر منځ سوله ييز ژوند ولري. ځکه يوه خوا په خواره سترګه ګوري او بله بې اعتماده وي، چې ممکنه نه ده په دې توګه په خپلو کې سره يو ځای په ښه ډول کار وکړي. له دې امله د جګړې له هنر څخه ناخبره ټولواک له نورو بدمرغيو او نيمګړتياوو سره سره چې وړاندې يې يادونه وشوه، د خپلو لښکرو په منځ کې د درناوي وړ نه دی او خپله ټولواک هم نه شي کولی چې په دې توګه پر هغوی اعتماد وکړي او زړه ورپورې وتړي. نو ټولواک ته په کار نه ده چې له جګړې او لښکريزو چارو پرته خپل فکر په نورو مسايلو بوخت کړي او د جګړې له وخت څخه ورته ښه ده چې د سولې او کرارۍ پر مهال ډېر ارزښت ورکړي او له تمرين سره يې ځان روږدی کړي، او دا کار هغه له دوو لارو ترسره کولی شي: لومړی د عمل له لارې او دويم د تيورۍ له لارې.
د عمل په طريقه کې خپله ټولواک اړ دی چې خپلې لښکرې په مشق او بدني روزنه کې منظمې او چابکې وساتي، تل له لښکرو سره په ښکار کې واوسي او تعقيب يې کړي، چې له دې لارې يې بدن له سختيو ، ستونزو او زغم سره روږدی کېږي او بيا له خپل سيمه ييز طبيعت څخه پوره ځان خبر کړي.
هغه بايد مطالعه کړي چې غرونه څومره هسک ، وادیانې څومره پراخې او دښتې يې څه ډول پرتې دي؟او بيا د ټولو ځايونو موقعيتونه په بشپړ دقت وارزوي. ځان له سيندونو ، ځنګلونو او جبه زارو ځمکو سره ښه اشنا کړي، د خپل هېواد د ځمکې په اړه پوره جزيات او اړين معلومات پيدا کړي.
دغه ډول معلومات ټولواک ته د دوو ټکو له مخې ارزښت لري: لومړی دا چې خپل هېواد به په ښه توګه وپېژني او دا ځواک به ورکړي چې په ښه توګه يې دفاع وکړي.
دويم دا چې د هېواد ټولو نقطو ، سيمو او د هغوی له وضعې سره تر اشنايۍ وروسته په اسانۍ کولی شي د نورو ايالتونو او هېوادونو موقعيت او څرنګوالی نظر ته راولي. ځکه د ټوسکانې تپې، درې، دښتې، سيندونه او جبه زارې ځمکې نژدې له هغو سره، چې په نورو هېوادونو کې پرتې دي څرګند ورته والی لري.
نو له دې امله د يوه هېواد د سيمه ييز طبيعت او څرنګوالې د څرګندې ښې په اړه له پوهې او خبرتيا څخه کولی شو په ډېرې اسانۍ د يو بل هېواد سيمه ييز طبيعت او څرنګوالی سم اټکل کړو او د نورو هېوادونو په مطالعه کې هم اسانتياوې رامنځته کوي.
نو هغه ټولواک، چې دغه ډول معلومات او مهارتونه نه لري، د يوه وړ ټولواک له مهمو ځانګړنو څخه بې برخې دی. ځکه د دغو معلوماتو په لرلو کولی شي د خپل دښمن لښکرې په نابېره بريد هکې پکې کړي او پر هغوی برلاسی شي.
د خپل پنډغالي ((کيمپ)) لپاره يو مناسب ځای وټاکي، لښکرې له جبه زارو او ځنګلونو څخه په امن ځای کې تمې کړي، لښکرو ته څه ډول لارښوونه وکړي، په څه ډول او څېرته لښکرې په ليکو کې ودروي او جګړه سنبال کړي، څه ډول، کوم ځای کې، په کومه لار له دښمن څخه کړۍ راتاو کړي او په جګړه کې پرمختګ وکړي؟
د اکيانيانو د واکمن فيلوپويمين Phillopeomen ، له نورو ستاينو سره سره چې مؤرخينو پرې پېرزولي دي، يوه دا ده چې هغه به تل د سولې پر مهال د جګړه ييزو نقشو پر مطالعه بوخت و او د جګړې د اړوندو چارو پرته به يې بل څه ته په ذهن کې ځای نه ورکاوه. او څه وخت چې به له خپلو ملګرو سره د خپل هېواد پر سيمو ګرځېده، زياتره به درېده او له هغوی سره به يې دلايل ويل او پوښتنې به يې ترې کولې، چې که دښمن د هغې تپې پر سر ځای پر ځای شوی وي او موږ له خپل لښکر سره په دې ځای کې تم يو ، له دې دوو ډلو څخه کومه يوه د جګړې د ارونو له مخې ښه موقعيت لري او د پرمختګ په حال کې ده؟

څنګه کولی شو پرته له مرګ- ژوبلې پر هغوی برید وکړو؟ او که هغوی پر شاتګ ته اړ شي، څنګه کولی شو هغوی پسې واخلو؟ په دې توګه یې ټول نظامي مسایل له خپلو ملګرو سره رابرسېره کول او د ټولو پېښو په اړه، چې ممکن د جګړې پر مهال رامنځته شي، له هغوی سره خبرې کولې، او په خورا دقت یې د هر یوه نظر اورېده، بیا یې خپل نظر او خپله ګروهه په ډېره ساده توګه هغوی ته بیانوله او د دغو نظریو د اثبات لپاره به یې کافي دلایل وړاندې کول.

له هغه ځایه چې هغه ((فېلوپویمین)) مخکې له مخکې په جګړه بېزو چارو کې ښه فکر کاوه او د لښکرو مشري یې تل پر خپله غاړه اخیسته، نو هېڅکله به داسې پېښه نه رامنځته کېده چې هغه به له وړاندې ورته چاره نه وه سنجولې، یا به یې د اواري لار نه وه ورته پیدا کړې.

د تیورۍ یا فکري روزنې په طریقه کې یو ټولواک ته په کار ده چې تاریخ ولولي، او د نومیالیو او سترو څېرو کړنې په پام کې ونیسي او ځان پرې پوه کړي چې دغو نومیالیو د جګړې پر مهال څه ډول کړنې ترسره کړي او څه ډول لارې چارې یې کارولې دي؟ د هغوی د فتحې وسایل او ماتې علتونه وارزوي، چې له ماتې څخه مخنیوی او د فتحې تقلید یې وکړي.

پر دې ټولو سربېره یو بل کار هم شته چې باید ترسره یې کړي او دا کار د لرغوني پېر نومیالیو هم کړی دی. هغه دا دی چې له تاریخي او نومیالیو څېرو څخه یوه د نمونې په بڼه وټاکي، بیا یې د کړنو تقلید وکړي او د دې نومیالي سرې ټولې کړنې، بریاوې او د ژوند پېر تل په نظر کې ونیسي او د خپلو ټولو کارونو د سرمشق په بڼه یې وکاروي. د بېلګې په توګه لوی سکندر تل د اکیلس Achilles تقلید کاوه، د روم قیصر به له سکندر او سیپیو Scipio به بیا د لوی کوروس تقلید کاوه.

که څوک د لوی سکندر هغه تاریخ چې ګزېنوفون Xenohone کښلی دی ولولي، د سیپیو په ژوند کې به وګوري چې کړنې یې د لوی کوروس سره څومره ورته وې او دې کړنو د هغه جلال، سترتوب او ویاړ څومره زیات کړی و. په پاک لمنۍ، ادب، مهربانۍ، سخاوت او نورو ځانګړنو کې یې له لوی کوروس سره بشپړ ورته والی درلود، چې ګزینوفون یې د دې ځانګړنو ډېره ستاینه کړې ده.

نو په کار ده چې یو هوښیار ټولواک دا ټول ترتیبات او تدابیر په پام کې ونیسي، په تېره بیا د سولې پر مهال بېکاره پاتې نه شي او غفلت ونه کړي بلکې له سولې څخه بشپړه ګټه پورته کړي چې پر ټولو ګواښونو برلاسی شي او کله چې بخت پاڅون پرې کوي، په وړاندې یې تیاری ولري او د ناوړه بخت د یرغل په وړاندې ودرېږي.

## پنځلسم څپرکی

### د هغو ځانګړنو په اړه چې له امله یې وتلې څېرې په تېره بیا ټولواکي ستایل کېږي یا پړ بلل کېږي

اوس د دې وخت رارسېدلی چې د یو ټولواک د چلند او اړیکو په اړه څو خبرې وکړم، چې له خپل ولس او ملګرو سره باید کوم اصول او مقررات مراعت کړي؟

لکه چې پوهېږو ډېرو پر دې ټکي لیکنې کړې دي، چې ټولواک باید څه ډول چلند خپل کړي، چې د ستاینې وړ وګرځي او زه په دې باور یم چې د دې موضوع بیا یادول به زما له خوا د نورو په ذهن کې څه ځانښودنه تصور کړي او مغروره به ښکاره شم، په تېره بیا کله چې په دې موضوع کې زما نظر، د هغو نظرونو سرچپه وي چې تر اوسه نورو وړاندې کړي دي.

خو زما موخه تل د داسې مطالبو لیکل دي چې که څوک یې د لوستلو مینه وال وي ګټه ترې پورته کړي. نو ښه به دا وي چې تر تصوره د موضوع رښتیني اړخ ته غوره والی ورکړم. ځکه نورو یو شمېر جمهوري او سلطنتي حکومتونه د خیال په نړۍ کې انځور کړي او داسې یې مجسم کړي دي، چې هېڅکله په رښتیني ډول نه دي رامنځته شوي او نه چا لیدلي دي. ځکه په کومه طریقه چې بشر ژوند کوي او په کومه طریقه چې باید ویې کړي، ډېر توپیر سره لري او هغه څوک چې په خپل چلند کې له هغې طریقې څخه چې اړتیا ورته لري، او باید وې کاروي، غفلت کوي، خپلې تباهۍ ته لار اواروي. نو له دې امله هغه څوک چې په ټوله رښتنولۍ او پاک زړه هر یوه کار ته ملا تړي، ډېر ژر به د هغو په منځ کې چې زیان رسونکي دي، له منځه ځي. ځکه نو یوه ټولواک لپاره چې غواړي په خپله څوکۍ کې پاتې شي، حتمي ده پوه وي، چې له ښېګڼو پرته بل څه کولی شي، یا دا چې د اړتیا پر وخت له خپلو نېکو اعمالو کار واخلي او که ترې تېر شي؟

د دې لپاره چې د یو ټولواک د کړنو په اړه بې بنسټه خیالات یو څنګ ته کړو او یوازې یې رښتیني اړخ وڅېړو، وایم ټولې هغه سترې څېرې چې تر دې دمه ستایل شوي، په تېره بیا هغه واکمن چې په لوړو څوکیو کې ول، یو به یې سخي و او بل بخیل، یو به کازمن (حریص) او بل بېکازه، یو ظالم بل زړه سواندی، یو به بې وفا و او پر ژمنه نه درېده، بل به یې وفادار او پر ژمنه ولاړ

و، یو به ښځنوک او بې زړه و، خو بل زړور، یو به دودیال او بل به بې ډبه، یو چړچمار او بل پاک لمنی، یو خواخوږی او رښتینی، بل ټګمار او چالاک، یو ټینګ او بل اوښتونکی، یو دروند او بل سپک، یو دینداره او بل بې ګروهې او بېدینه او همداسې نور.

پوهېږم هر څوک به دا ومني چې که یو ټولواک د ټولو پورتنیو ځانګړنو درلودونکی وي، بې له شکه چې ټول به یې ستایي. خو څرنګه چې د دې ټولو نېکو ځانګړنو په بشپړه توګه درلودل او دا چې هر یو د موقع پر وخت رعایت کړي، د بشر تر وسه پورته ده، ځکه د بشر وضعه دا اجازه نه ورکوي.

نو په کار ده یو هوښیار ټولواک زیات ځانساتی وي او له هغو ځانګړنو څخه چې د کرکې احساس راپاروي او پایله یې د هغه راپرځېدل دي، مخنیوی وکړي. همداراز که ممکنه وي د دې لپاره چې خپله څوکۍ یې ساتلې وي، له ځانه دا سې ځانګړنې وښیي چې څوکۍ او مقام یې پرې له لاسه نه ځي.

خو سره له دې ټولو، که ناوړه حالات او غیرعادي پېښې یې دې ته اړ کړي چې په ځینو توندو اعمالو لاس پورې کړي، نو په ترسره کولو کې دې هېڅ زړه نه وهي. او له هغې پړتیا او سزا څخه، چې د دغو اعمالو د ترسره کولو له امله ممکن ورسره مخامخ شي، هم هېڅ ونه ویرېږي، ځکه که دا اعمال ترسره نه کړي نو د خپل هېواد او مقام په ژغورلو کې به له ډېرو ستونزو سره مخامخ شي.

نو اوس که دا موضوع په بشپړه پاملرنه او دقت وڅېړل شي، نو جوته به شي چې ځینې اعمال، که څه هم یوه ښېګڼه ښکاري، خو که په پرله پسې توګه ترسره شي نو د ټولواک په تباهۍ تمامېږي. له بلې خوا ځینې نور اعمال او ځانګړنې، که څه هم په ظاهره کې ډېرې بدې برېښي، خو که په پرله پسې توګه ترسره شي، نو ټولواک ته به ډېر بریالیتوبونه ورپه برخه کړي او له ګواښونو به یې وساتي.

## شپاړسم څپرکی

### د ټولواک د سخاوت او بخیلۍ په اړه

که له پورتنیو یادو شویو ځانګړنو څخه د لومړنۍ په اړه خبرې پیل کړو، نو وایم ښه به وي چې یو ټولواک سخي وپېژندل شي، خو سخاوت پرته له شهرته هغه ته زیان رسوي. که سخاوت پر ځای او په موقع هم وکارول شي او په کې مشهوره نه شي او څوک یې درک نه کړي، بیا به هم ټولواک د بخیل په نامه تورن وي. نو له همدې امله د دې ځانګړنې لرل په دې شرط چې هر سړی یې ومني، په یوه ټولواک کې ډېره د ستاینې وړ ده.

خو که ټولواک غواړي ټول خلک په دې وپوهوي چې سخي دی، اړ کېږي چې خپله ټوله شتمني په دې لاره کې ولګوي او د شتمنۍ له پایته رسېدو وروسته، د دې لپاره چې خپل نوم وساتي، اړ کېږي چې پر ولس لوړې مالیې ولګوي او د خلکو د مالونو او شتمنیو په ولکه کولو او په بې شمېره نورو هلو ځلو لاس پورې کړي چې له لارې یې پیسې ترلاسه کولی شي، خو په دې کړون ډېر ژر د ځان په وړاندې د ولس کرکه راپاروي. او که نېستمن او تش لاسی پاتې شي، هم د خلکو په ذهن کې حقیر معلومېږي، په دې توګه په خپل سخاوت د ډېری ولس حق تر پښو لاندې کوي او یوازې یو څو تنه خوشالوي، او ځان له سختو ګواښونو سره مخ کوي، خو کله چې یې دې ګواښونو ته پام شي، او غواړي چې له دې اعمالو لاس واخلي او خپل چلند ته بدلون ورکړي، سملاسي د خلکو د شتمنۍ د غاصب په نوم تورن کېږي.

نو یو ټولواک پرته له دې چې زیانونه ونه ګالي، نه شي کولی خپل ځان مشهوره کړي. له دې کبله ښه خبره داده چې یو هوښیار ټولواک په دې ځانګړنه ځان روږدی نه کړي، که څه هم دغه کار ټولواک د بخیل په نوم مشهوروي. ځکه هغه وخت چې ولس ته څرګنده شي چې د ټولواک د سپما له امله مالیې د هېواد ټول لګښتونه پوره کوي، همدارنګه پرته له دې چې د خپل ولس پر اوږو کوم پېټی کېږدي د خطر پر مهال د دښمن په وړاندې دربدلی شي او ان د نورو هېوادونو د نیولو وړتیا هم لري، په خپله به د ټولواک پر سخاوت اعتراف وکړي او تر دې به یې هم پورته وګڼي. دا کار داسې ښکاره کوي چې ټولواک د ډېري ولس په حق کې له سخاوته کار اخیستی او دا هغه کسان دي چې ټولواک ترې هېڅ څه نه دي اخیستي، یوازې د لږکیو (( اقلیتونو )) په وړاندې چې هغوی ته څه نه ورکوي، ممسک شمېرل کېږي.

موږ په خپل عصر کې هم ډېر ټولواکي لیدلي دي، چې هېڅ ډول سترې کارنامې یې نه دي پربېښې، پرته له هغو ((ټولواکو )) چې د بخیل په نامه مشهور ول، نور ټول له ماتې سره مخ شوي دي.

دويم پاپ جوليوس ځان په سخاوت مشهور کړ، چې د پاپ څوکۍ ته ځان ورسوي، خو وروسته له هغې چې دغه څوکۍ يې ترلاسه کړه، نور يې هڅه نه کوله چې په دې ځانګړنو مشهور شي او د فرانسې له ټولواک سره يې د جګړې په اوږدو کې هېڅکله پر ولس ماليې و نه لګولې او زياتره لګښت يې له هغو زېرمو څخه چې مخکې يې سپما کړې وې پوره کړ.

که د اسپانيا اوسني ټولواک ځان د سخاوت پر ځانګړنه مشهور کړی وی، هېڅکله به يې په هغو جګړو کې، چې پيل کړې يې وې، برياوې نه وې ترلاسه کړې. ځکه نو که يو ټولواک د خپل ولس له لوټولو ډډه وکړي، خپل هېواد د دښمن له ګوابنه وژغوري، خپل ځان له حقارت او بېوزلۍ خلاص کړي، له دې وروسته له لوټمارۍ څخه ځان وژغورلی شي او نور نه ورته اړ کېږي، بايد د بخيل په توګه د خپل شهرت انديښنه په زړه کې و نه ساتي.

سخاوت له هغو ځانګړنو څخه دی چې لرونکی يې په پای کې د ټوالواکۍ له مقام څخه لاس اخيستنې ((استعفا)) ته اړباسي، او بخيلي که څه هم يو عيب يا نيمګړتيا ده، خو بيا هم ټولواک ته د حکومت کولو وس ورکوي او په خپله څوکۍ کې يې ساتي.

که څوک ووايي چې ((د روم)) قيصر Caesar د خپل سخاوت او بخشيشونو له امله امپراتورۍ ته ورسېد او ګڼ نور څکه لوړو څوکيو ته ورسېدل چې پر سخاوت مشهور ؤ .

زه ځواب ورکوم چې يا خو تاسو ټولواک ياست او يا غواړئ چې ټولواک شئ. که تاسو ټولواک ياست، سخاوت تاسو ته زيان رسوي، خو که چېرې غواړئ ټولواک شئ، نو اړينه ده چې سخيان وګڼل شئ. د روم قيصر هم د هغو له ډلې څخه و چې غوښتل يې د روم امپراتور شي .خو که د دې څوکۍ له ګټلو وروسته يې دا بهير روان ساتلی وی، مانا بې له دې چې خپل لګښت کم کړي پر روم يې حکومت کړی وی، د روم ټول هېواد به يې وران کړی او حکومت به يې له تباهۍ سره مخامخ شوی وی.

که څوک ټينګار وکړي چې ډېر خلک که څه هم سخيان بلل کېدل ټولواکي شول او په خپلو لښکرو يې ډېرې لويې کارنامې هم ترسره کړې، زه په ځواب کې وايم چې هغه شتمني او مالونه چې يو ټولواک يې لګوي، يا د ټولواک خپله شتمني وي يا د ټولواک د رعيت مال وي او يا د پرديو. که دغه شتمني يې خپله يا د رعيت وي، له بخيلۍ څخه بايد کار واخلي او که د پرديو شتمني وي بيا نو هېڅ ډول رخې او بخيلۍ ته اړتيا نشته او بايد د سخاوت دا موقع له لاسه ور نه کړي.

هغه ټولواک چې د خپل لښکر مشري پر خپله غاړه اخلي او د دې لښکر ساتنه د لوټ تالان، تاړاک، شوکو او له نورو څخه په زور زياتي د قلنګ په اخيستلو کوي، ښکاره ده چې بايد د دغه ډول شتمنيو او مالونو په لګولو کې سخاوت وکړي، که نه لښکرې به د خپل مشر ملاتړ و نه کړي. او هغه شتمني چې نه په ټولواک او نه هم رعيت پورې اړه ولري، ټولواک کولی شي د لوی کوروس، قيصر او سکندر په څېر يې په ازادانه ډول خلکو ته وبښي. دا په دې چې دلته تاسو د بل چا پر مال سخاوت کوئ، ستاسو قدر او قيمت نه لږوي بلکې نور يې هم ډېروي. دا يوازې د ستاسو د خپلې شتمنۍ بېځايه لګول دي چې زيان دررسوي.

سخاوت د نورو ځانګړنو په پرتله تاسو ژر کمزوري او بې وسه کوي. مانا شتمني مو په چټکۍ ضايع کوي. ځکه کله چې تاسو پر سخاوت بوخت ياست، خپل ټول هغه وس، چې بايد تر پايه خپل سخاوت پرې وساتئ، له لاسه ورکوئ، چې په دې توګه بېوزلي او تش لاسي کېږئ، د ولس په نظرونو کې حقير او بې ارزښته ښکارئ. که وغواړئ چې د دې مخنيوی وکړئ او خپل سخاوت وساتئ، نو اړ کېږئ چې خپلې ځانپالنې ته وده ورکړئ، په زور زياتي د نورو مالونه واخلئ او په ازادانه ډول يې ولګوئ، چې دغه ګام تاسو له کرکې سره مخامخ کوي او بايد ټولواک ترې ځان خوندي وساتي.

بخيلي که څه هم د غندنې وړ ده، خو د ولس په زړونو کې کرکه نه راپاروي. نو هوښياري په دې کې ده چې د بخيلۍ شهرت ته غوره والی ورکړل شي، که څه هم د غندنې لامل ګرځي، خو د خلکو کرکه نه راپاروي، نه دا چې د سخاوت پر ځانګړنه د شهرت په لټه کې د يو لوټمار په نامه مشهور شئ، چې تاسو ته له غندنې سره سره د خلکو په ذهنونو کې کرکه هم پيدا کوي .

د ټولواک د تېري او زړه سوي په اړه
داچې کوم يو ښه دی؟
ټولواک سره مينه ښه ده او که ترې وېره؟

که د تېرو شويو ځانګړنو له لړۍ څخه د يو شمېر نورو په اړه خبرې وکړو ، نو وايم چې هر ټولواک بايد تل زړه سواند او بښونکی وي نه سخت زړی، خو بايد تل يې پام وي چې له دې زړه سوي يې څوک ناوړه ګټه پورته نه کړي.
که څه هم سيزار بورجيا په بېرحمۍ مشهور و خو د هغه تېري په رومانيا کې سوله ټينګه کړه او يووالی يې وروباښه. که حقيقت ته پاملرنه وکړو ، دا سړی له فلورېنسيانو څخه ډېر زړه سواندی و ، ځکه فلورېنسيانو په دې هوډ چې ظالمان ونه بلل شي، پرېښوده چې د پيستويا Pistoia ښار د اړوپېچ او خپل منځي دښمنيو له امله ړنګ شي.
نو ټولواک بايد د ظالم د ځانګړنې څه پروا ونه کړي چې نسبت به يې هغه ته وشي .په تېره بيا هغه وخت چې خپل ولس پرې يو موټی، مطيع او ځانته وفادار وساتلی شي. ځکه کله چې ګډوډۍ او ناامنۍ د څو کامونو په پورته کولو له منځه يوسي او سوله ټينګه کړي، تر دې به ډېر زړه سواند او بښونکی وبلل شي، چې پرېږدي د ډېر زړه سوي له امله يې ګډوډۍ او اړودوړ رامنځته شي او په پای کې يې د سولې او ټيکاو ځای په بشپړه بې نظمۍ، وژنو ، چورتالان، شوکو او داړو بدل شي. ځکه دغه ګډوډۍ او بې نظمۍ د ټول ولس د ژوبلې سبب کېږي. خو هغه سختۍ چې د ټولواک له خوا ترسره کېږي، يوازې څو کسانو ته متوجه وي.
د ټولواکو له منځه بيا د هغه چا لپاره چې نوی دې څوکۍ ته رسېدلی وي، شونې نه ده چې د بېرحمۍ له دې تور څخه ځان وساتي، ځکه نوی هېواد له ګواښونو ډک وي.
لکه ويرژيل Virgil چې د ډيډو Dido پر خوله د خپل پېر تېری پر ځای بولي او دليل وړاندې کوي چې سلطنت يې نوی ؤ.
�Res dura, et regni novitas me talia cognut
Moliri, et late Fines Custode tueri
زما د هيلي او تقدير برخلاف، يو نوی تخت او نوی هېواد ما اړباسي چې له خپل قلمرو څخه د دفاع لپاره خپل ټول ځواک وکاروم او د خپل هېواد پولې په دې بېرحمۍ او سخت زړيتوب وساتم.
نو يو نوی ټولواک بايد نه ډېر ژر باوری وي او نه په ډېرې اسانۍ تحريک شي او نه داسې وي چې له ګواښونو وډار شي بلکې د احتياط او اعتماد پر يوې ګډې لارې خپلې چارې پر مخ بوځي، داسې چې نه ډېر اعتماد هغه له خپلې ځان ساتنې بې پروا کړي او نه ډېره بې باوري او بدګماني هغه داسې کړي چې زياتې د زغملو نه وي.
په دې ځای کې دا پوښتنه راپورته کېږي چې ايا له يوه ټولواک سره مينه ښه ده او که داچې وېره ترې وشي؟
د دې پوښتنې ځواب داسې دی چې ټولواک بايد له دواړو برخمن وي. خو څرنګه چې نه شو کولی مينه له وېرې سره يو ځای په يوه سړي کې راغونډه کړو ، نو که داسې شي چې له دواړو څخه يوه وټاکو ، نو وېره له مينې څخه څو ځلې بې خطره او خوندي ده. ځکه بشر په ټوليز ډول ناشکره، اوښتونکی، غدار، له خطره په ځان ژغورلو کې هڅاند او تل د شخصي ګټو په فکر کې وي، تر هغو چې له تاسو څخه استفاده کوي او تاسو ګټه وررسوئ، په وړاندې مو وفادار دی او په دې وخت کې تيار دی چې خپل ځان، شتمني، ژوند او خپل اولاد تر تاسو ځار کړي، په دې شرط چې تاسو بېړنۍ اړتيا ورته ونه لرئ، خو چې د ازموينې وخت راورسېږي او هغوی ته اړتيا پېښه شي، ټول مخونه اړوي او ستاسو په وړاندې درېږي.
له دې کبله هغه ټولواک چې له نورو لارو چارو څخه غفلت کوي او يوازې د هغوی پر ژمنو ډډه وهي، خپله واکمني ړنګوي.
ځکه هغه ملګرتيا چې د ښو افکارو او سترتوب له لارې نه بلکې د سوغاتونو او پيسو له لارې رامنځته کېږي، بې له شکه چې د يو چا زړه پرې ګټل کېږي او دوستي رامنځته کېږي، خو دغه دوستي داډمنه نه ده او د اړتيا پر مهال ډډه نه شي پرې وهل کېدی.
خلک د هغه چا په پرتله چې وېره ترې کېږي، له هغه چا سره په درغلتيا کې چې زړه سواندی وي او مينه ورسره کېږي، لږ زړه وهي. ځکه مينه د اړتيا او مجبوريت د يوه نازکه اړيکې په واسطه ساتل کېږي او د بشر مجاز ته په پام سره دغه اړيکی له خپل وار سره سم د يوې شخصي ګټې په تحريک شلېږي، خو وېره تل د هغوی په ذهن کې وي او د سزا په وړاندوينې پورې تړلې ده، چې دا اړيکی هېڅ وخت نه شلېږي.

په هر حال، یو هوښیار ټولواک باید له وېرې څخه په داسې هوښیارۍ کار واخلي، چې که ځانته محبوبیت جلب نه کړي، خلک کرکه هم ترې ونه کړي. کله چې له یو چا څخه وېره کېږي او د کرکې وړ هم نه وي، ښه زغمل کېږي او تر هغې په واک کې پاتې کیدی شي، چې د خپل ولس شتمنۍ او ناموس ته یې لاس نه وي غزولی، خو که چېرې دې ته اړ وي چې څوک ووژني، وژنې لپاره یې باید سم قضاوت، روښانه دلایل او علتونه له ځان سره ولري.

پر دې ټولو سربېره، ټولواک باید د ولس شتمنۍ ته لاس ونه غزوي، ځکه خلک د پلار مړینه هېروي، خو له پلاره ورپاتې شتمني یې له زړونو نه وځي. او هسې هم د خلکو د شتمنیو د ولکې لپاره پلمې څه لږ نه دي. ځکه هغه چا چې یو ځل د نورو پر شتمنیو او شوکو داړو ژوند کړی وي، تل کافي دلایل له ځانه سره لري او بیا بیا یې ولکه کوي، په داسې حال کې چې وژنو او د وینې تویولو لپاره یوازې د ګوتو په شمېر دلایل موندل کېږي او هغه هم ژر له کاره لوېږي، مانا بیا بیا یې نه شو کارولی.

خو کله چې یو ټولواک له خپلو لښکرو سره یو ځای وي او یا یې ګڼ شمېر لښکرې لاس لاندې وي، هېڅکله باید د تېري له نسبت څخه چې هغه ته به ورکړل شي، وېره ونه لري بلکې د دې ځانګړنې په وړاندې بشپړه بې اعتنایي وښیي. ځکه د یو لښکر مشر، چې په دې ځانګړنه مشهور نه وي، نه شي کولی لښکرې یو موټی وساتي یا یې دندې ته تنظیم کړي او د هرې ستونزمنې پېښې لپاره یې په کار واچوي. د هانیبال Hannibal د عجیبو کارنامو له منځه دغه یوه ډېر شهرت لري؛ ګڼ شمېر لښکرې، چې د هغه تر قوماندې لاندې وې، په بېلابېلو ملتونو پورې یې اړه درلوده او ټول په دې نیت ورسره تللي ول چې په بهرني هېواد کې جګړې وکړي. خو بیا هم نه یوازې د لښکرو په منځ کې نفاق راپورته نه شو، او نه یې د ټولواک په وړاندې څه نافرماني وښوده بلکې د برې، ماتې او د شاتګ پرمهال یې هم ټول تر فرمان لاندې ول، چې دا ټول له د هغه بېرحمۍ او سخت زړیتوب پایله ګڼلی شو. د هغه بې پولې زړورتیا او سخت زړیتوب دغه سردار د لښکرو په ذهنونو کې د داسې یوه اتل په څېر انځور کړی و چې هم یې په زړونو کې د هغه وېره تېروله او هم د درناوي وړ و.

خو که هانیبال په دې بېرحمۍ او سخت زړیتوب مشهور نه وی، نو د هغه بې شمېره نورو فضیلتونو او نېکو ځانګړنو به د دې اغېزې په رامنځته کولو کې بسنه نه وی کړې.

لنډنظرو لیکوالانو چې کله د هغه د کارنامو ستاینه کړې، دا یوه ځانګړنه، چې د هغه د نورو ځانګړنو د بریالیتوب یوازېنی علت دی، تر نیوکې لاندې راوستې. دا چې له دې ځانګړنې پرته به د هغه نور فضیلتونه بې اغېزې شوي وی، د سیپیو Scipio په پېښه کې یې لیدلی شو. سېپېو نه یوازې دا چې د خپلې دورې یو نوماند او غوره شخصیت ګڼل کېږي بلکې د بشر په تاریخ کې هم ځانګړی ځای لري. خو سره له دې کله چې په اسپانیا کې و، لښکرو د هغه په وړاندې پاڅون وکړ او دې پاڅون د هغه له زښتې زیاتې مهربانۍ او نرمښت پرته کوم بل دلیل نه درلود. ځکه لښکرو ته یې داسې خپلواکي ورکړې وه چې له لښکریزو مقرراتو او اصولو سره نه وه برابره، او د همدې اخلاقي ځانګړنې په لرلو سره د روم د سنا په ناسته کې فابیوس ماکسیموس Fabius Mximus پر هغه تور ولګاوه چې د روم لښکرې یې فاسدې کړې دي. بیا چې کله لوکریانیان Locrians د یو شمېر لښکرو له خوا، چې د هغه د یوه صاحب منصب تر قوماندې لاندې ؤ، د ظلم او تېري ښکار شول، هغه نه د دې تېریو پور ورکړ او نه یې خپل دغه صاحب منصب په دې سرغړونه په سزا محکوم کړ. د هغه د دې بې اعتنایۍ علت هماغه نرمښت او زړه سوی ؤ. د سنا د غونډې پر مهال چې یو چا د هغه ملاتړ کاوه، وویل: �ډېرو خلکو د نورو پر تېروتنو د ګوت نیونې پرځای دا ښه زده کړې چې له خپلو تېروتنو څه ډول مخنیوی وکړي؟�

که سیپیو په دې حال پاتې وی او قومانده یې په لاس کې درلودی، ارومرو به یې دغه سترتوب او نېک نوم له منځه تللی وی، خو څرنګه چې هغه خپله د سنا په واک کې و، نه یوازې دا چې د هغه دغه زیان رسوونکی طبیعت همداسې پټ وساتل شو بلکې هغه ته یې یو ډول ویاړ هم وروباښه.

خو که بېرته د مینې او د وېرې سوال ته وګرځو، زه دې پایلې ته رسېږم چې خلک مینه په خپله خوښه او وېره د ټولواک په هغې کوي. نو یو هوښیار ټولواک باید هغه اړخ ټینګ کړي، چې په خپل لاس کې یې دی، نه هغه چې د نورو په لاس کې وي. خو لکه چې مخکې مو هم یادونه وکړه، دومره دې وکړي چې د ولس کرکه د ځان په وړاندې ونه پاروي .

## اتلسم څپرکی

ټولواک باید خپله ژمنه څه ډول وساتي؟

ټول مني چې ځانګړنې لکه وفاداري، سپېڅلتوب او له چالاکۍ او چل ول څخه ځان ساتنه په یوه ټولواک کې څومره د

ستاینې وړ دي، خو سره له دې زموږ تجربې او هغه پېښې چې زموږ په وخت کې تېرې شوې دي ښيي هغه ټولواکي چې د خپلې ژمنې په ساتلو کې پابند نه و او د نورو پر پوهې يې د غلبې راز یو ازې درغلي او چالاکي ګڼلې ده، ستر کارونه يې سرته رسولي دي او پایله يې تر هغو کسانو ډېره ښه وه چې له نورو سره يې په معامله کې له رښتینولۍ څخه کار اخیستی دی.
نو تاسې باید پوه شئ، چې موخې ته د رسېدو لپاره پر دوو لارو تګ کولی شئ: یو د قانون له لارې او بل د ځواک یا زور زیاتي له لارې. لومړۍ لار له انسانانو سره ښایي او دویمه له ځناورو سره. څرنګه چې لومړنۍ لار ډېره کارنده نه ده نو دویمې ته اړتیا پیدا کېږي. نو ټولواک باید ددواړو لارو سمه او پر ځای کارونه زده کړي او د دواړو لارو د کارونې موقع لاسته راولي. لرغونو لیکوالانو له خوا په کنایي ډول ټولواکو ته ښوول شوې، چې څرنګه اکیلس Achilles او د لرغوني پېر نور ټولواکي سنټور چیرون ته سپارل شوي ول؟
دا چې هغوی باید نیم انسان او نیم ځناور ښوونکی ولري، په دې مانا و چې یو ټولواک باید د یادو شویو دواړو خویونو کارونه زده کړي او پوه شي چې دغه دواړه خویونه یو له بل پرته نشي پاتې کېدی.
ددې لپاره چې ټولواک په څه ډول د ځناورو له خوی څخه په بشپړ ډول ګټه واخلي، باید د ځناورو له منځه د کیدړې او زمري ځانګړتیاوې غوره کړي. ځکه زمری تل په جال کې ښتلی او ګیدړه له لیوانو ځان نشي ساتلی. نو د کیدړې خوی باید ولري چې جال وپېژني او زمری وي چې لیوان ووېروي. هغه څوک چې یوازې د زمري پر ځانګړنو ډډه وهي هوښیار نه دی.
نو که یوه هوښیار واکمن ته د ژمنې ماتول ډېر په ګټه وي یا يې د ژمنې په وړاندې پراته لاملونه نور له منځه تللي وي ټولواک نه شي کولی او نه ورته پکار ده چې خپله کړې ژمنه وساتي.
که خلک په زړونو کې پاک وی، نو زما دغه سلا به پر ځای نه وه، خو څرنګه چې انسان په باطن کې زیان رسونکی دی او له چا سره وفا نه کوي، نو هېڅوک اړ نه دي چې د هغوی په وړاندې وفادار او رښتینی پاتې شي او نه ټولواک له خپلې ژمنې څخه د اوښتو لپاره د منلو دلایلو د وړاندې کولو څه کمی لري.
له همدې څخه د اوس مهال بې شمېره بېلګې درکولی شم چې څومره ژمنې او کلکې وعدې د ټولواکو د تخلف یا له ژمنې څخه د بې اعتنايۍ له امله ماتې او ناچله شوې دي او د دغو ټولواکو له منځه چې چا د ګیدړې رول په ښه توګه لوبولی شو، پر ګردو بریالی وتلی دی. خو باید پوه وي چې د دې ځانګړنو ښې ته څه ډول بدلون ورکړي؟ او باید په دوه مخۍ او د درواغو په ادعا کې ښه روږدی وي.
خلک ساده ګان دي او تل دې ته لار اوروي چې څوک يې تېر باسي. نو هغه څوک چې د تېرا ېستلو په لټه کې وي تل يې په چاپېریال کې داسې څوک پیدا کوي چې تېروتلو ته تیار وي.
نه شم کولی له یوې اوس مهالې بېلګې څخه تېر شم: شپږم پاپ الکساندر په خپل ټول عمر کې د خلکو له تېرا ایستلو پرته بل څه هوډ نه درلود او له دې امله هغه ساده ګان چې تیار و تېروځي، په چاپېریال کې يې ډېر پیدا کېدل.
هېڅا د هغه هومره پر قسم پیاوړې شوې ژمنې نه ورکولې او نه څوک د هغه په څېر د ژمنو د ساتلو مینه وال ښکارېدل. خو څرنګه چې هغه د بشر فطرت په ښه ډول پېژندلی و، ټولې تېرایستنې او له ژمنو څخه سرغړونې د هغه له هیلو سره سمې بریالۍ کېدې.
له دې کبله، یوه واکمن لپاره د ښو ځانګړنو لرل چندان مهم نه دي. اړینه دا ده چې د دې ځانګړنو د تش په نامه ښودلو فن يې په ښه توګه زده وي. په جرئت ویلی شم که هغه په رښتینې توګه د ښو ځانګړنو خاوند وي او پر هغو عمل وکړي په زیان يې تمامېږي، خو د دې ځانګړنو تش په نامه ښودل بې له دې چې په رښتینې مانا يې ولري ورته ګټور دي. د بېلګې په توګه: ډېره ښه ده چې سړی زړه سواندی، وفادار، خواخوږی، عادل، پر مذهب ولاړ ځان وښيي او په باطن کې هم همداسې وي، خو د سړي فکر باید داسې عیار وي چې که چېرې یوه ورځ د دې ځانګړنو متضادو هغو ته اړتیا پیدا شي نو په اسانۍ وکولی شي چې له سرېتوب څخه د ځناور خوی ته واوړي.
په کار ده ټول په دې وپوهېږي چې یو ټولواک، په تېره بیا نوی هغه نه شي کولی ټولې هغه ځانګړنې چې یو څوک پرې قدرمن ښکاري تل له ځانه وښيي. کله کله د دې لپاره چې خپل دولت وژغوري، اړکېږي چې د صداقت، ملګرتیا، خواخوږۍ او دینداری خلاف کارونه ترسره کړي. له دې کبله اړینه ده چې خپل فکر ته هسې بدلون ورکړي چې د بخت توپاني څپې او ګرځېدنه يې ورته اړباسي.
نو ټولواک اړ دی چې له دې پنځو ځانګړنو څخه پرته بل څه په ژبه رانه ولي، داسې چې که سړی هغه ووینې او یا څه ترې واوري، د ټولواک د زړه سوي، وفا، خواخوږۍ او دینداری په اړه هېڅ شک هم ورته پیدا نه شي، په تېره بیا د وروستۍ

ځانګړنې ځان ښودنه له بلې هرې ځان ښودنې څخه ډېر ارزښت لري. ځکه د نړۍ خلک په سترګو قضاوت کوي، نه په لاس، په دې مانا چې ډېری خلک یوازې هغه څه چې ښکاره دي، په سترګو ویني، ډېر لږ خلک کولی شي د سرې باطن لمس کړي.
خلک خپل ټولواک هسې چې د سترګو په مخ کې یې ښکاري ویني او یوازې د ګوتو په شمېر د هغه له اصلیت څخه خبر دي او همدا لږ خلک هم د اکثریت له عقیدې سره د مخالفت کولو جرئت نه کوي. ځکه هغوی پوهېږي چې اکثریت د سلطنت له ملاتړ څخه برخمن دي.
سربېره پر دې د ټولو خلکو اعمالو، په تېره بیا د ټولواکو هغو لپاره یوه داسې محکمه نه شته، چې په اړه یې سړی د وړاندیز غوښتنه وکړي، نو خلک یې پر پایله قضاوت کوي.
نو په کار ده چې ټولواک یوازې د خپلې خاورې او ځان د ژغورنې په فکر کې وي. هرکله چې یو ټولواک وکولی شي خپل واک په خپل قلمرو کې ټینګ کړي، هر عمل چې د دې موخې د لاسته راوړلو لپاره له هغه ترسره کېږي، په پوره ستاینه او درناوي یې په اړه قضاوت کېږي او ټول یې تایدوي. ځکه عام خلک په ظاهره تېروځي او د دې نړۍ اوسېدونکي هم له همدې عامو خلکو څخه جوړ شوي دي. لږکي په اکثریت کې هېڅکله د پښو ځای نه شي پیدا کولی.
�یو ټولواک، چې نه غواړم نوم یې یاد شي، پر وفا او سولې باندې له ټینګار پرته بل هېڅ نه کوي، خو کړنې یې د دواړو برعکس دي او که هغه له دې ځانګړنو څخه یوه هم رعایت کړې وی، نو له سلطنت، اعتبار او ښه نوم څخه به یې بې برخې کړی و.

---

�د اسپانیا ټولواک فردیناند دی، کله چې مکیاوېلې د دې کتاب په لیکنه بوخت و، د یوه داسې ټولواک نوم اخیستل د هغه لپاره له ګواښه ډک کار و .

## نولسم څپرکی

له کرکې او حقارت څخه په څه ډول باید ځان وساتي؟

څرنګه چې د غوره ځانګړنو په اړه مو مخکې خبرې وکړې، پاتې برخه یې غواړم په لنډه توګه په دې ډول وڅېړم:
لکه چې په مخکېنۍ برخه کې هم وارزول شول، یو ټولواک باید تل په دې فکر کې وي چې د خپل ځان په وړاندې کرکه ونه پاروي. که له دې کاره په مخنیوي کې بریالی شي، نو خپله دنده یې په ښه توګه سرته رسولې ده. که څه هم ممکن له نورو پړتیاؤ سره مخامخ شي، خو له ګواښه یې باید هېڅ وېره ونه لري.
لکه چې وویل شول یو ټولواک تر ټولو لومړی په دې له کرکې سره مخامخ کېږي چې لوټمار وي او د خپل ولس شتمنۍ او ناموس ته لاس غځوي. تر نورو ټولو لارو له دې لارې په ځانګړي ډول ډېر له کرکې سره مخامخ کېږي، چې باید له دواړو څخه ځان وساتي.
خلک داسې دي چې کله یې ثوک شتمنۍ او ناموس ته لاس نه وراوړدوي، ځانونه خوښ او سوکاله ګڼي او ټولواک اړ دی چې یوازې د څو کسانو له ځانپالنې سره سیالي وکړي، چې د هغوی مخنیوی به هم بېلابېلې لارې ور اسانه کړي.
یو ټولواک هغه وخت حقیر او د کرکې وړ شمېرل کېږي چې بې ثباته، سپک، ښځنی، تنګ نظری، بې تکله او پرېکنده ونه ګڼل شي. نو یو ټولواک باید د دې ځانګړنو په وړاندې په کلکه مبارزه وکړي، ځان په خورا دقت ترې وژغوري او هڅه وکړي چې په خپلو کړنو کې ځان ځواکمن، دروند، زغم لرونکی، پرېکنده او هوښیار وښیي. باید له ولس سره په ځانګړو معاملو کې داسې وښیي چې قضاوتونه یې نه ګرځېدونکي دي او ځان داسې مجسم کړي چې ثوک یې د تېرا ایستلو خیال په زړه کې ونه ګرځوي او نه ځان ترې تېر کړي.
که یو ټولواک په دې بریالی شي چې د ځان په وړاندې د ولس دغه ګروهه رامنځته کړي، نو په حقیقت کې یې ځان د ولس په نظر کې ډېر زیات محترم کړی او هغه ټولواک چې ولس ته په دې کچه محترم وي راپرځول او په وړاندې یې د دسیسو جوړول خورا ستونزمن کار دی. همدا راز کله چې په ولس کې محبوبیت ولري او د یوه غوره شخصیت په نظر ورته کتل کېږي، له بهره به په اسانۍ تر یرغل لاندې را نه شي. ځکه یو ټولواک تل د دوه ډوله ګواښونو په منځ کې دی: یو دننه د رعیت له خوا او بل له

بهر څخه د بهرنیو ځواکونو یا هېوادونو له خوا.
له بهرنیو ځواکونو څخه د ښو لښکرو او وفادارو متحدینو په مرسته کولی شي دفاع وکړي. ځکه که ښې او منظمې لښکرې ولري، تل کولی شي ښه ملاتړي ((متحدین)) ترلاسه کړي. کله چې بهرني اختلافات په ښه توګه حل شي، نو کورنۍ چارې هم په خپله سمېږي. خو په دې شرط چې وار له مخه د دسیسو له لارې زیاتې ګډې وډې شوې نه وي او ناکرارۍ په بشپړ ډول وده نه وي کړې.
که هغه ګامونه چې لازم دي او ما یې په پرله پسې توګه یادونه کړې ده، په ښه توګه واخیستل شي او پر هغه لار، چې ما ورښودلې ده، تګ وکړي، که بهرنۍ چارې ترېنګلې هم وي تر هغې چې له خپلې دفاع څخه نهیلی شوی نه وي، د سپارټې ((د ټولواک)) نبیس، په څېر چې تفصیل یې مخکې تېر شو، د دښمن د هر یرغل په وړاندې به درېږي.
خو د خپل ولس په اړه باید ووایم: کله چې بهرنۍ چارې ترینګلې وي، باید ټولواک له هغو څخه، چې ممکن په داخل کې په پټه د دسیسې په جوړولو بوخت وي وېره وکړي او ټولواک له دې دسیسو څخه هغه وخت ژغورل کېدی شي چې په خپل ولس کې کرغېړن او حقیر نه وي بلکې ښه اړیکې ورسره ولري او له ځانه یې خوشاله وساتي. د دې ځانګړې ټکي رعایت لکه چې مخکې مو په تفصیل سره وویل یو ټولواک لپاره ډېر اړین دی.
همداراز د دسیسو په وړاندې چې ممکن په سلطنت کې ګډوډي رامنځته کړي، د ټولواک لپاره یوه اغېزمنه لار دا ده چې د خپل ولس په منځ کې حقیر او کرغېړن نه وي. ځکه څوک چې دسیسه جوړوي هیله یې دا وي چې خلک د ټولواک پر وژنه خوښ کړي. خو کله چې ټولواک کرغېړن نه وي او د دسیسې جوړوونکي ته جوته شي چې د دسیسې په جوړولو د خلکو د خوشالتیا پر ځای پر هغوی تېری کوي او کرکه یې راپاروي، هېڅکله به د دې تګلارې خپلولو ته زړه ونه کړي. ځکه د دسیسه جوړوونکي په وړاندې بې شمېره ستونزې پرتې دي او لکه څنګه چې تجربې را ښودلې ډېرو په دسیسو لاس پورې کړی دی خو یوازې څو کسان موخې ته په رسېدو بریالي شوي دي. ځکه څوک چې دسیسه جوړوي، یوازې یې نه شي ترسره کولی او دا هم نه شي کولی چې هر سړی د خپلې ملګرتیا لپاره وټاکي پرته له هغو چې د ځان په څېر یې ناخوښه ورته ښکاره شي او کله چې یې خپلې طرحې او نقشې له هغوی سره شریکې کړې هغوی ته یې داسې لاسوند په لاس ورکړ چې په مرسته یې دغه خلک کولی شي خپل ځان له ټولواک څخه خوښ کړي. نو د خپلې ګټې لپاره دغه پټ راز خپروي او هغه ګټې ترلاسه کوي چې په لټه کې یې دي.
کله چې د دسیسې جوړوونکی له یوې خوا د دې کار پایله وارزوي او له بلې خوا یې د شکمنو ناراضیانو له خوا مخامخ ګواښ ته پام شي، د ټولواک د یوه نژدې ملګري یا د هغه د یوه سر سخته دښمن په ښه اړ دی چې د ټولواک په وړاندې خپله وفاداري وساتي.
لنډه دا چې د دسیسې د جوړوونکي پر مخ بې شمېره ستونزې پرتې دي. د بېلګې په توګه: د هغوی په منځ کې بې باوري، له یو بل څخه وېره، کینه او د سزا وړاندوینه د دې سبب کرځي چې هغه له دسیسې څخه وګرځوي او د ټولواک په خوا کې د ټولواک پلویان، قانون، دولت او د سلطنت سترتوب او جلال ولاړ دي او ملاتړ یې کوي. کله چې د ټولواک په وړاندې د ولس مینه او پېرزونه هم پورتنیو عواملو ته ورزیاته شي، هغه به ډېر بې غوره او بې سرښتې سړی وي چې لا به هم د دسیسې د جوړولو هیله کوي. ځکه چې د دسیسې جوړوونکي په ټولیز ډول د خپلې دسیسې له عملي کولو څخه د یوه جرم د رامنځته کېدو وېره لري. په دې مانا چې هغوی په خپله دسیسه ځان ته د ولس غضب راماتوي او ځانته په کې دښمنان ګوري له دې کبله له هغوی څخه د تېښتې لار هم نه لري. نو د دې لپاره چې ولس له ځانه ناخوښه نه کړي، اړ دی چې له دسیسې څخه لاس واخلي.
دا موضوع په تاریخ کې بې شمېره بېلګې لري، خو زه یې دا یوه را اخلمه چې زموږ د پلرونو له یادښت څخه تر موږه رارسېدلې ده او دا د اوسني انیبال د نیکه، میسر انیبال بنتي وګلي Messer Annibale Bentivogli کیسه ده چې د بولونا ټولواک و.
هغه د یوې دسیسې په ترڅ کې د کانېشي Canneshi له خوا په یوه غلچکي برید کې ووژل شو. له میسر ګیواني Messer Giovanni پرته چې په هغه وخت کې یو کمکی ماشوم و، د کورنۍ بل وارث یې ژوندی پاتې نه شو. تر دې درغلتیا وروسته خلک راپاڅېدل او د کانېشي ټوله ډلګۍ یې ووژله او دا کار د بنتي وګلي کورنۍ په وړاندې د بولونا د وګړو ښه نیت یا پېرزونه وه. د بنتي وګلي د کورنۍ په وړاندې د دې وګړو ښه احساسات دومره غښتلي و چې د انیبال له مړینې وروسته په داسې حال کې چې په دې هېواد کې له میسر ګیواني پرته نور څوک پاتې نه شول چې پر هغوی حکومت وکړي، بولونایانو خبر شول چې په فلورېنس کې د دې کورنۍ یو بل وارث هم شته چې د یو پښ زوی و. دغه وګړي ژر تر ژره ولاړل هغه یې بولونا ته راوست او حکومت یې وروسپاره. دا سړی تر هغې واکمن و چې د انیبال زوی میسر ګیواني ځوانۍ ته ورسېد او د بولونا د

چارو واګې يې په خپل لاس کې واخيستې.

نو کله چې يو ټولواک د خپل رعيت له ملاتړ څخه برخمن وي او په وړاندې يې درناوی لري، بايد له ورو د سيسو وېره ونه کړي.

خو کله چې ولس له ټولواک څخه ناخوښه وي او په وړاندې يې د کرکې احساس کوي، بايد له هرې چارې او هر سړي وېره وکړي.

ښه سنبال شويو او منظمو هېوادونو او ټولواکو هراړخيزه پاملرنه کړې او داسې ترتيبات يې نيولي دي چې هېڅکله د دې هېوادونو مخور او اشرافيان د نهيلۍ تر پولې ونه رسوي او خلک هم خوښ او قانع وساتي. ځکه دا له هغو مهمو مسايلو څخه دي چې ټولواک يې بايد په پوره دقت په پام کې ونيسي.

د اوسمهالو تر ټولو منظمو او ښو سنبال شويو هېوادونو له منځه يو هم د فرانسې هېواد دی. په دې هېواد کې ډېر داسې تاسيسات شته چې د ټولواک خپلواکي او امنيت ورپورې تړلی دی؛ تر ټولو مهم يې پارلمان دی چې له ډېر واک څخه برخمن دی. ځکه هغه چا چې د دې ودانيو بنسټ ايښی دی، د اشرافيانو د ځانپالنې، واکپالنې او د هغوی له زړورتيا ښه خبر ول او داسې يې ګڼلې ده چې د هغوی په خوله کې د يوې مسالې ورکول اړين دي چې مخه يې پرې ونيسي او له بلې خوا څرنګه چې د اشرافيانو په وړاندې د عامو وګړو له کينې څخه هم خبر ول او ښه پوهېدل چې دا کينه له اشرافيانو څخه د وېرې په پايله کې رامنځته شوې ده، نو وې غوښتل داسې کار وکړي چې وګړي هم په امن کې وي او تر ډېره يې نه غوښتل چې د دې ګام پړه د ټولواک په غاړه واچول شي. ځکه نو د دې لپاره چې د اشرافيانو ناوړه پوهاوی له منځه يوسي، ياني ټولواک د وګړو پر پلوۍ تورن نه شي، يا برعکس وګړي داسې تصور ونه کړي چې ټولواک د اشرافيانو پلوی دی، دريمګړې څانګه يې رامنځته کړه چې يو قاضي يې په کې وګوماره او دا دنده يې ورکړه چې پرته له دې چې ټولواک پر لاسوهنه تورن شي، د اشرافيانو له تېرې څخه مخنيوی وکړي، ويې ټکوي او وګړي د ښه چلند په کارولو سره خوښ او راضي وساتي. په حقيقت کې د ټولواک او د هېواد د ساتنې او سلامتيا لپاره تر دې بله ښه چاره نه تر سترګو کيږي.

موږ کولی شو له دې بېلګې څخه يو بل ښه درس هم زده کړو. هغه دا چې د دې تاسيساتو په لرلو ټولواک کولی شي هغه چارې چې له مسووليته ډکې دي، د نورو پر اوږو واچوي او هغه چې په مينه، ښښنه او ښېګڼه کې راځي په خپل لاس کې واخلي. او پرې نه ږدي چې د خلکو د کرکې وړ وګرځي.

ښايي ځينې خلک داسې فکر وکړي چې که د روم د امپراتورانو د ژوند او مړينې علتونه په بشپړه توګه وڅېړل شي، ډېرې بېلګې به ترلاسه شي چې زما له نظرياتو سره توپير لري. ځکه، سره له دې چې زياترو يې په خورا درنښت ژوند کړی او د اوچتې روحيې خاوندان ول، خو بيا هم له سلطنت څخه ګوښه شوي او يا هم د خپل ولس له خوا د دسيسو په ترځ کې وژل شوي دي.

د غو ګتنيونو ته د ځواب په موخه به زه د ځينو امپراتورانو ځانګړنې او چلند راوسپړم او په زبات به يې کړم چې د هغوی د راپرځېدنې علت له هغو اسبابو پرته چې ما يې دعوه کړې ده بل څه نه دي. او په همدې لړ کې به د تاريخ هغه برخې د مطالعې لپاره وړاندې کړم چې هغو ته د پام وړ دي چې غواړي او سمهالې چارې وڅېړي. زما په اند د دې مقصد د روښانولو لپاره بسنه کوي چې ټول هغه امپراتوران، چې د امپراتورۍ دوره يې د وتلي فيلسوف مارکس Marcus څخه پيل او پر ماګزيمينوس Maximinus پای ته رسېږي، راواخلم. چې په دې ډول دي: مارکس او د هغه ځوی کوموډوس Commodus ، پرټيناکس Pertinax، جوليانوس Julianus ، سيوروس Severus او د هغه زوی انټونينوس کاراکالا Antoninus Caracalla ، ماکرينوس Macrinus ، هليوګابالوس Heliogabalus ، الکساندر Alexander او ماګزيمينوس Maximinus.

لومړی بايد يادونه وکړم چې په نورو هېوادونو کې پکار وه چې ټولواکي بايد يوازې د اشرافيانو له ځانپالنې او واکپالنې او د عامو وګړو له پاڅون او سرغړونې سره سيالي وکړي. خو د روم امپراتورانو دريېمه ستونزه هم درلوده چې بايد ويې زغمي. او هغه د روم د لښکرو لوټماري، په شتمنۍ پسې هڅه، سپکاوی او وژنې وې. دا مسئله دومره ستونزمنه او سخته وه چې کله کله به په روم کې د ټولواکو د راپرځېدنې او زوال سبب کېده. دا ځکه چې د دې ټولواکو لپاره ډېره ستونزمنه وه چې ولس او لښکري په يوه وخت کې له ځانه خوښ او قانع وساتي. ولس د سولې پلوی و او جګړه يې نه غوښته، نو ځکه يې يو سوله ييز ټولواک خوښاوه. په داسې حال کې چې لښکرو تل يو جګړه مار ټولواک غوښته او دغه ټولواکي چې به څومره زړور، توند، ظالم، لوټمار او د زورواکۍ پلويان ول، هومره به سرتېري ورمات ول .دا کار يې يوازې د دې لپاره کاوه چې ټولواک دا ټولې ځانګړنې د رعيتونو په وړاندې وکاروي چې سرتېري وکولی شي دوه برابره حقوق لاسته راوړي او د خپلې ځانپالنې او تېرې اجازه ترلاسه کړي.

نو له دې امله هغو ټولواکو يا امپراتورانو، چې دا فطري وړتيا نه درلوده او يا يې نه شو کولی د هغه ځواک يا نفوذ لاسته راوړل زده کړي چې د سرتېرو مخنيوی پرې کېده، تل راپرځېدلي دي. په تېره بيا زياتره ټولواکي چې تازه سلطنت ته رسېدلي ول او کافي تجربه يې نه لرله، کله چې به يې له دې دوو متضادو پوړونو ((ولس او لښکرو)) ستونزې پرتله کړې، نو د دې لپاره چې له اوسني ګواښ څخه په کراره شي، سرتېري به د خلکو په پرتله ځواکمن ورته ښکارېدل او خپله خوښي به يې ورته ښکاره کړه .خو د خلکو ناخوښۍ او ځورونې ته يې چندان ارزښت نه ورکاوه او د همدې چلند له مخې يې د سرتېرو له خوا ملاتړ کېده.

ټولواکي نه شي کولی د يو شمېر خلکو له کرکې څخه ځان خوندي کړي. نو لومړی خو ورته په کار ده چې د هر يوه له کرکې څخه ځان وژغوري او که بيا د دې کار په ترسره کولو کې پاتې راځي، هڅه دې وکړي چې د ټولنې تر ګردو غښتلي او ستر پوړ دښمني پرغاړه وانه خلي.

له همدې امله هغو ټولواکو، چې ځانګړې مرستې ته يې اړتيا لرله، د دې پر ځای چې د ولس پلوي وکړي، د ناوړه تجربې له مخې يې د سرتېرو هغې ته زړه ښه کړی دی. د دې کارونو ګټې او زيانونه د دې ټولواکو د څرګندونې پر بنسټ ول چې پوهېدل او که نه، خو د خپل نفوذ او واکمنۍ د سلامتۍ او خونديينې لپاره يې ترسره کول.

د دغو لاملونو له مخې دې پرېکړې ته رسېږو چې که څه هم مارکس، پرټيناکس او الکساندر د منځنۍ ژوند او ځانګړنو خاوندان، د نياومنيتا او عدالت مينه وال، د تېرې دښمنان، په خواخوږۍ او زړه سوي مشهور ول خو له مارکس پرته ټولو ناوړه پای درلود؛ يوازې مارکس په خورا درناوي خپل ژوند پای ته ورساوه او هغه هم له دې امله چې سلطنت په ميراثي توګه ورته رسېدلی و او د ولس او سرتېرو د مرستې پوروړی نه و. دا ټولواک د ډېرو ښو ځانګړنو څښتن هم و، چې ټولو يې درناوی کاوه. چې ژوندی و، دواړه پوړونه، يانې خلک او لښکرې يې په خپلو حدودو کې وساتلې او دې دواړو طبقو هېڅکله د هغه په وړاندې د کرکې احساس ونه کړ او نه يې هم هغه حقير وګاڼه.

خو پرټيناکس د لښکرو د هيلو بر خلاف امپراتورۍ ته ورسېد. ځکه لښکرې چې د کوموډوس په پېر کې په چړچمارۍ او بد اخلاقۍ روږدې شوې وې، چمتو نه وې هغو سختو ترتيباتو ته چې پرټيناکس ورته ټاکلي ول خپله خوښي ښکاره کړي. له همدې امله په لښکرو کې د کرکې احساس راوپارېده او څرنګه چې پرټيناکس خپل زيات عمر خوړلی و نو په سپکه سترګه يې هم ورته کتل او همدا وه چې په يو څو ورځو کې يې سلطنت راوپرځېده.

همدلته بايد يادونه وکړم: کرکه څومره چې له بدو کارونو راپارېږي هومره له ښو کارونو هم راپورته کېدی شي. لکه مخکې چې يادونه وشوه ټولواک د خپل دولت او واکمنۍ د ساتلو لپاره زياتره اړ کېږي (داکتاب د ښوا پاڼي څخه کاپي شوی دی ) چې په بدو کارونو لاس پورې کړي. دا ځکه، کله چې يې اړتياوې اړباسي، په واک کې د پاتې کېدو لپاره له دې درېيو پوړونو يانې ولس، لښکرو او اشرافيانو څخه يوې ته مخه کوي. نو هره طبقه چې وټاکي ارومرو به فاسده وي. خو په کار ده چې د وخت له اړتيا سره سم چلند ورسره وکړي د هغوی غوښتنو ته غاړه کېږدي او له ځانه يې خوښ وساتي. او په دې وخت کې ښې ځانګړنې ټولواک ته زيان رسوي.

خو راځئ چې اوس الکساندر ته راشو. الکساندر د داسې ښو ځانګړنو څښتن او نياومن ټولواک و چې له نورو ټولو ستاينو سره سره چې پر هغه پېرزول شوې دي يوه يې دا وه چې د خپل څوارلس کلن سلطنت په اوږدو کې يې د چا د وژنې حکم له محکمې پرته نه دی ورکړی. خو سره له دې بيا هم په ښځينه توب ((زن صفتۍ)) مشهور شو او داسې تصور کېده چې مور يې پرې واکمنه ده. ځکه يې نو لښکرو په وړاندې دسيسه جوړه کړه او ويې واژه.

که اوس د کوموډوس، سيوروس، کاراکالا او ماکزيمينوس اخلاقو او ځانګړنو ته پاملرنه وکړو وبه وينو چې ټول بې رحمه او لوټماران ول او د دې لپاره چې لښکرې له ځانه خوښې وساتي، د خلکو په وړاندې يې له هېڅ ډول بې انصافۍ څخه ډډه نه ده کړې. خو له سيوروس پرته ټولو ناوړه پای درلود. سيوروس د قوي استعداد او زياتې زړورتيا څښتن و. سره له دې چې خلکو ته يې ډېر زيانونه او ژوبلې وراړولي وې، خو لښکرې يې له ځانه خوښې ساتلې وې. ځکه يې نو تر پايه په برياليتوب سلطنت وکړ. زړورتيا او له هوښيارۍ ډکو ځانګړنو هغه د لښکرو او خلکو په منځ کې داسې د منلو وړ وګرځاوه چې خلک له وېرې هک پک پاتې ول او لښکرو د درناوي او خوښۍ له مخې د هغه امر ته غاړه ايښې وه. خو په دې چې نوی او په ځوانۍ کې واک ته رسېدلی و کړنې يې هېښنده او د ستاينې وړ دي او اوس به يې په لنډه توګه وښيم چې څرنګه يې زده کړي ول چې هم د يوه ځيرونکي زمري او هم د يوې مکارې ګيدړې رول په ښه توګه ولوبوي. لکه مخکې چې مو يادونه کړې دغه دواړه خويونه ټولواک بايد په ښه توګه زده کړي او په دې وپوهېږي چې په څه ډول له هر يوه څخه د موقع پر وخت او له اړتيا سره سم کار

اخلي.
سیوروس د روم د امپراتور جولیانوس Julianus له سست عنصری او لټی نه خبر و. هغه وخت چې په سکلاوونیا Sclavonia کې د لښکرو مشر و ، لښکرې یې دې ته بېلارې کړې چې روم ته ولاړې شي او د پرټیناکس غچ واخلي. پرټیناکس د پروټوران د ساتونکو له خوا وژل شوی و. په دې پلمه یې خپلې لښکرې د روم پر لور وخوځولې او پرته له دې چې د سلطنت د لاسته راوړلو لپاره خپله هیله ښکاره کړي، یا یې له حرکت څخه څوک خبر شي، روم ته ننوت. روم ته له ننوتو سره سم د مشرانو د جرګې غړو له وېرې هغه امپراتور وټاکه او جولیانوس یې وواژه.
له دې پیښو څخه څه موده وروسته د سیوروس پام شو چې د روم امپراتورۍ ته په خپله لار کې دوه لوی خنډونه لري، باید له منځه یې یوسي چې د روم یوازینی امپراتور شي. یو نیژر Niger و چې په اسیا کې یې ((د ختیځو چارو )) مشري پر غاړه وه او خپلو لښکرو ته یې په ډاګه ویل چې امپراتور ورته وواېي او په لوېدیځ کې البینوس Albinus و ، چې ده هم دې ګدۍ ته زړه ښه کړی ؤ.
کله چې سیوروس امپراتورۍ ته ورسېد ، ویې لیدل چې له دواړو سیالانو سره په یو وار د جګړې اعلان هوښیاري نه ده او له ګواښ سره یې مخامخ کوي. نو په دې هوډ شو چې له نیژر سره جګړه وکړي او د البینوس په حق کې له چل څخه کار واخلي. ځکه یې نو البینوس ته ولیکل:
� څرنګه چې زه د مشرانو جرګې په ټاکنه امپراتور شوی یم، هیله لرم چې دغه مقام او درنښت له تاسې سره شریک کړم�، د قیصر لقب یې ور واستوو او هغه یې د مشرانو جرګې یا سنا په هوکړه امپراتورۍ کې شریک کړ. البینوس هم دغه بلنه ومنله او باور یې پرې وکړ.
خو کله چې سیوروس نیژر ته ماتې ورکړه، ویې واژه او ختیځې اسیا ته یې امنیت وربه برخه کړ، روم ته وګرځېد او سنا ته یې له البینوس څخه سر وټکاوه چې د هغو ټولو مرستو او ګټو په بدل کې چې د البینوس په حق کې یې کړي، البینوس په پټه د دسیسې په جوړولو بوخت دی او د هغه د وژنې په لټه کې شوی دی. نو اړ دی هغه ته د دې نه منني په بدل کې سزا ورکړي. بیا فرانسې ته ولاړ او د البینوس په لټه کې شو ، چې هلته یې بیا له مقامه لرې او وواژه.
اوس که هر څوک د دې ټولواک کړنو ته ځیر شي، جوته به یې کړي چې د هغه په طبیعت کې هم د زمري وحشت او زړورتیا او هم د ګیدړې مکر پروت و ؛ خلکو په یو وخت کې هم وېره ترې کوله او هم یې درناوی کاوه. لښکرو هم له هغه کرکه نه کوله او سره له دې چې نوی واک ته رسېدلی و او دومره تجربه یې هم نه لرله، په دې وتوانېد چې د روم په څېر یو ستر هېواد وساتي. د اقتدار سترتوب او شهرت هغه تل د خلکو له کرکې څخه خوندي ساته، که نه ممکنه وه د هغه د توندۍ او لوټمارۍ په وړاندې یوه ورځ خلکو خپله کرکه ښودلې وی.
د هغه زوی انتونینوس کاراکالا هم د غوره شخصیت او ځانګړنو خاوند و .سترې کارنامې یې سرته ورسولې چې هغه یې د خلکو په منځ کې د درناوي او لښکرو په منځ کې د منلو وړ وګرځاوه. هغه یو جګړه مار ټولواک و ، چې د سختیو او ستړیاؤ د زغملو ډېر زیات وس یې درلود. ساده خواړه به یې خوړل، تجمل، چړچې، خوندور خواړه او تفریح یې نه خوښوله، چې همدې ځانګړنو یې خپلو لښکرو ته د مینې وړګرځولی و. سره له دې ټولو بیا هم د هغه بېرحمي او تریخ خوی ډېر سخت وه. په روم کې یې تر څو ډله ییزو وژنو وروسته په بېلابېلو وختونو کې د روم زیات شمېر خلک ووژل او د سکندریې اوسېدونکي یې هم په ډله ییز ډول له تورې تېر کړل چې وروسته یې بیا په دې ځانګړنو کې د اسې نوم وایست چې د ټولې نړۍ کرکه یې د ځان په وړاندې راوپاروله او په خلکو کې یې داسې وېره خپره کړې وه چې ان نژدې ملګري یې هم ترې وېرېدل چې په پایله کې د خپلو لښکرو له منځه د یوه سل مشر یوځي Centurion له خوا ووژل شو .
د یادونې وړ ده چې ټولواکي نه شي کولی له دې ډول وژنو څخه چې په خورا سنجش، کلک هوډ او جرئت ترسره کېږي ځان وساتي. ځکه هر څوک چې له ځانه تېر شي د داسې اعمالو ترسره کول ورته اسانه دي. خو ټولواکي باید په وېره کې نه وي. ځکه دغه ډول بریدونه او پېښې ډېرې کمې رامنځته کېږي. یوازې دې دا ټکی په پام کې ولري چې درباري افسرانو او هغو ته چې د هېواد د خدمت لپاره د ټولواک په شا او خوا کې اوسېږي کوم ستر زیان ونه رسوي.
انتونینوس د خپل قاتل په برخه کې بې پروايي وکړه. لومړی هغه د خپل قاتل یا سل مشر ورور په خورا سپکاوي وواژه او وروسته یې دا افسر هم څو ځلې په مرینه ګواښولی و. خو بیا یې هم هغه ته په خپل ساتونکي ګارډ کې دنده ورکړې وه. د هغه دغه عمل لکه پېښه چې یې موږ ته رابښیي ډېر له ګواښه ډک و.
راځئ چې اوس کوموډوس ته راشو. دې سړي چې سلطنت په میراثي توګه ترلاسه کړی و ، ورته په کار وه چې په هماغه اسانۍ

يې ساتنه هم کړې وی. ځکه د مارکس زوی یو امپراتور و او هغه ته په کار وه چې له خپل پلار څخه تقلید وکړي، خلک او لښکرې له ځانه خوښ وساتي. ځرنګه چې یو وحشي، توند او لوتمار طبیعت یې درلود ، غوښتل یې چې خلک لوټ کړي او خپله حریصه طبعه خوشاله وساتي. ځکه یې نو خپل ټول وخت د سرتېرو خواهشاتو او د هغوی فاسدولو ته ورکړ، چې په راز راز تېریو او فجایعو اخته شول. له بلې خوا پرته له دې چې خپلې ځوکۍ او حیثیت ته څه پاملرنه وکړي، زیاتره به تیاتر ته ښکته کېده او له ګلاډیاټورانو Gladiators سره به یې جګړه ییزې سیالۍ کولې او ددې تر څنګ به یې داسې بې ارزښته او سپک کارونه کول، چې د ټولواکۍ له مقام سره ډېر لږ ښایېدل. له همدې کبله د لښکرو په نظر کې حقیر شو او محبوبیت یې له لاسه ورکړ. ځرنګه چې له یوې خوا د کرکې وړ وګرځېد او له بلې خوا په سپکه سترګه ورته کتل کېدل، په ورانډې یې دسیسه جوړه شوه او ووژل شو.

اوس د دې وخت دی چې د ماکزیمینوس د ژوند لپاره هم لږ څه تم شو . ددې سرې جګړه ییزه روحیه د ستاینې وړ وه او د الکساندر تر مړینې وروسته چې تفصیل یې مخکې تېر شو ، د لښکرو له خوا چې د الکساندر له ارام طبیعت څخه تنګ شوي ول، امپراتور وټاکل شو. خو دې مقام له هغه سره دومره دوام ونه کړ. ځکه دوه ټکي د دې سبب شول چې د هغه په وړاندې کرکه راوپارېږي او حقیر وشمېرل شي: لومړی دا چې په یوې مشهورې کورنۍ پورې یې اړه نه درلوده او یو وخت په تراس Thrace کې د رمې ((مېږو )) په پېولو بوخت و چې له دې کاره یې ټول خبر ول. ځکه نو ټولو په سپکه سترګه ورته کتل. دویم: کله چې ټولواک وټاکل شو تر ډېر ځنډ وروسته روم ته راغی چې د امپراتورۍ مقام ډک کړي. پر دې سربېره د روم او امپراتورۍ په نورو برخو کې د وینو په تویولو او تندخویۍ هم مشهور و. او دا د هغو تېریو پایله وه چې د هغه له خوا ټاکل شویو چاروا کو ترسره کول.

په پایله کې ټولو د هغه په وړاندې پاڅون وکړ؛ د نسب ټیټوالی، د خلکو کرکه، بې شمېره خونریزۍ ټول سره یو شول او ټوله نړۍ یې له هغه سره دښمنه کړه. داسې چې لومړۍ افریقا ، بیا د روم سنا او وروسته ټولې ایتالیا د هغه په وړاندې پاڅون وکړ. په دې ترڅ کې یې خپل لښکر هم په وړاندې راپورته او له نورو سره یو ځای شو: په دې وخت کې دغه لښکر د اکیلیا Aquileia په کلابندۍ بوخت و. ځرنګه چې کلابندۍ ډېر وخت ونیو او هغوی ونه شو کولی دغه ښار فتحه کړي. او له بلې خوا د هغه له سپکوالي او بېرحمۍ هم پوزې ته راغلي ول. کله چې یې د هغه په وړاندې د نورو پاڅون ولېده د هغه وېره یې له زړه ورکه شوه او زړه یې وکړ چې امپراتور ووژني.

ددې اړتیا نه وینم چې د هلیو ګابالوس، ماکرینوس او جولیانوس په اړه نور څه ووایم. ځکه هغوی ټول بې نسبه، سپک او ټیټې کچې خلک ول. د کرکې وړ وګرځېدل او خلک یې ژر له شره خلاص شول. خو پورتنیو مسایلو ته یوازې دا یوه برخه ورزیاتوم چې اوسني ټولواکي د یوه منظم لښکر د رامنځته کولو په برخه کې دا ډول ستونزو او دسختیو ګاللو ته ډېر لږ اړ کېږي. که څه هم په کار ده له هغوی سره نرم، معتدله او په احتیاط چلند وشي. خو دومره اړین هم نه دی. ځکه اوسني ټولواکي یو هم د روم د امپراتورۍ په څېر داسې لښکرې نه لري چې سرتېري یې د ایالتونو په اداره کولو او واکمنۍ د چلولو مهارت ولري. نو که په هغه وخت کې په کار وه چې لښکرې د خلکو په پرتله ډېرې خوښې وساتل شي، یوازې د دې لپاره و چې د لښکرو نفوذ د خلکو په پرتله ډېر و. خو اوس له عثماني ټولواک او ((د مصر )) له سلطان Soldan پرته ټولو ټولواکو ته پکار ده چې خلک له ځانه خوښ وساتي، نه لښکرې. ځکه قدرت او سترتوب د خلکو په لاس کې دی، نه د لښکرو په لاس کې. په بله وینا خلک د لښکرو په پرتله غښتلي دي.

ما له پورتنیو ټولواکو څخه عثماني ټولواک ځکه مستثنا کړ چې هغه تل ۱۲ زره پلي او ۱۵ زره سپرې لښکرې له ځان سره ګرځوي. چې د هېواد امنیت او د سلطنت ځواک ورپورې تړلی دی .پکار ده چې له هغوی سره ښه اړیکي وساتي. د سلطان سلطنت هم په همدې ډول دی؛ په بشپړه توګه د لښکرو په لاس کې دی. چې له هغوی سره یې باید ښه اړیکي ټینګ وي او دلته ولس دومره اهمیت نه لري.

د یادونې وړ ده چې د سلطان هېواد په داسې حال کې چې له هېڅ یوې ټولواکۍ سره ورته والی نه لري، خو بیا یې هم د پاپ له حکومت سره پرتله کولی شو .نو په داسې یو حالت کې هغه نه یو داسې هېواد ګڼلی شو چې نوی په سلطنت بدل شوی وي او نه یې د میراثي سلطنتونو په کتار کې راوستلی شو. ځکه د سلطان تر مړینې وروسته د هغه زوی ځایناستی نه شي کېدی. دې ځوکۍ ته یوازې داسې سړی ګمارل کېږي چې هغه ځوک یې وټاکي چې د نوي سلطان د ټاکلو واک لري. او دا ترتیب د دې هېواد له پخوانیو مقرراتو څخه دی. نو نه شو کولی د نوي سلطنت نوم ورکړو. ځکه هغه ستونزې چې په نوي سلطنتي هېواد کې رامنځته کېږي په دې هېواد کې نه شي راپورته کېدی. دغه مقررات چې له پخوا څخه ورپاتې دي ټاکلې یې ده چې نوی

ټاکل شوی ټولواک ټولو ته داسې د منلو وړ دی لکه سلطنت چې یې په میراثي توګه ترلاسه کړی وي.
چې بېرته اصلي موضوع ته وګرځو نو وایم چې که پورتنۍ پېښې وارزول شي، جوتېږي چې د روم د امپراتورانو، چې نومونه یې پورته یاد شول، د راپرځېدنې یوازېنی لامل حقارت او کرکه وه. او په همدې لړ کې دا هم څرګندېږي چې له دې امپراتورانو څخه چې یوې ډلې یې یوه لاره غوره کړې وه او یو ډول کړنې یې ترسره کړې او بل شمېر یې بله لاره غوره کړه چې له لومړۍ هغې سره یې توپیر درلود، ولې له هرې یوې څخه یوازې یو کس نېکمرغه شو او ښه پای یې درلود او نور ټول له بدمرغۍ سره مخ شول او پایله یې زیان رسونکې وه؟
دا ځکه چې الکساندر او پرټیناکس دواړه تازه کاري او نوي امپراتوران ول، د مارکس په څېر ورته په ارثي توګه سلطنت نه و رسېدلی، نو هغو لپاره د مارکس تقلید زیانمن و. همدارنګه د انټونینوس، ماکزیمینوس او کوموډوس ته په زیان وه چې د سیوروس د کړنو تقلید وکړي. ځکه هغوی هغه ذاتي وړتیا او استعداد نه درلود چې د هغه عمل په بشپړه توګه تعقیب کړي. لنډه دا چې نوی واک ته رسېدلی ټولواک د مارکس د کړنو تقلید نه شي کولی او دا هم اړینه نه ده چې د سیوروس د ټولو کړنو تقلید وکړي. خو له سیوروس څخه یوازې باید د کړون هغه برخه زده کړي چې د سلطنت د بنسټ د اساس د اېښودلو لپاره یې اړینه بولي او له مارکس څخه دومره بسنه کوي چې د ټولواکۍ د بنسټ د کلکوالي او د ټیکاؤ د رامنځته کولو وروسته خپله واکمني په ښه ډول او په درنښت وساتي .

## شلم څپرکی

ایا کلاګانې او یو شمېره نورې لارې چارې چې ټولواکي یې کاروي، ګټور دي که زیانمن؟

.1د دې لپاره چې د سولې په چاپېریال کې سلطنت وکړي، ځینو ټولواکو خپل ولس بې وسلې کړی، نورو د خپلې واکمنۍ په ښارونو کې د ډلګیو په جوړولو تفرقه اچولې ده او حکومت یې پرې کړی دی، ځینو د ځانونو په وړاندې دښمني راولاړه کړې ده او نورو بیا هڅه کړې هغه څوک چې د سلطنت په پیل کې د باور وړ نه ول، ځانته راواړوي. چا ځانته پوځې کلاګانې ودانې کړې او چا همدا کلاګانې راغورځولې او ویجاړې کړې دي.
که څه هم څوک وروستۍ پرېکړه نه شي کولی چې د ډلګیو، کلاګانو او نورو لاروچارو کارول څومره اغېزمن دي، څو د هغه هېواد یا ایالت له حالاتو او شرایطو پوره خبر نه وي، چې دا پرېکړې په کې کوي، خو زه به بیا هم د هر یوې په اړه داسې پراخه خبرې وکړم چې ګټې او زیانونه یې په خپله روښانه شي.
.2هېڅ ټولواک خپل ولس نه دی بې وسلې کړی بلکې چې بې وسلې یې پیدا کړی، وسله وال کړی یې دی. ځکه هغوی ته د وسلې په ورکړه، تاسو په خپله وسله وال کېږئ او هغوی چې پر تاسو بې باوره ول، پر تاسې باور کوي او په وړاندې مو وفادار پاتې کېږي او هغوی چې وفادار ول په خپل حال پاتې کېږي، چې په دې ډول ولسونه ستاسو پلویان او ملاتړي ګرځي. یو ټولواک نه شي کولی چې ټول وګړي وسله وال کړي، خو هغوی چې تاسو وسله وال کړي، له امتیازاتو برخمن کېږي، او پاتې وګړي څه ستونزه نه را ولاړوي او په اسانۍ اداره کېږي. ځکه تاسو د هغوی په وړاندې توپیر کوئ ځنې وسله وال کوئ او ځانګړی پام پرې کوئ. ځکه نو هغوی ځان په ټولواک پورې تړي، او پاتې وګړي چې وسله وال شوي نه دي ستاسې دا پرېکړه پرځای بولي .ځکه هغوی به فکر کوي چې وسله وال کسان له ډېرو ګواښونو سره مخامخ دي، پوځې دندې پر مخ بیایي، نو طبعاً ځانګړي امتیازات به هم ترلاسه کوي. خو که تاسو هغوی بې وسلې کړئ، د هغوی زړونه له ځانه بدوئ. ځکه په دې کار تاسې هغوی ته ښکاروئ چې د زړورتیا یا وفا د نشتوالي له امله پرې بې باوره یاست، چې دغه دواړه نظریې ستاسو په وړاندې د هغوی کرکه راپاروي. نو څرنګه چې ممکنه نه ده پرته له لښکرو خپله څوکۍ او هېواد وساتئ، اړ کېږئ چې اجیرو لښکرو ته پام واړوئ. د اجیرو لښکرو ځانګړنې خو هغه وې چې مخکې مو په ګوته کړې او که بیا ((اجیري لښکرې)) ښې هم شي، کافي به نه وي چې د غښتلي دښمن یا ناخوښه ولس په وړاندې ستاسو ساتنه وکړي. ځکه نو، لکه چې مو یادونه کړې، نوي ټولواک تل د نوې ټولواکۍ د ساتنې لپاره وسله وښلې او یو وسله وال ځواک یې رامنځته کړی، چې تاریخ له دې ډول بېلګو څخه ډک دی .
خو کله چې یو ټولواک نوی دولت ولکه کړي او غواړي خپل هېواد ته یې د یوه نوي ایالت په توګه ورګډ کړي، اړینه ده چې د نوي نیول شوي هېواد ټول وګړي پرته له هغو چې د دې هېواد په نیولو کې یې پلوي او مرسته کړې ده، بې وسلې کړي، او بیا خپل دغه پلویان هم له وخت او موقع سره سم بې اختیاره، بې ځواکه او جګړه ییزه روحیه یې ورسره کړي. خپل ترتیبات داسې

سنبال کړي چې په نوي ولکه شوي هېواد کې ټول وسله وال کسان د هغه خپل سرتېري وي او په زاړه دولت یا د ټولواک په خپل هېواد کې یې نږدې کسان پاتې شوي وي.

3. زموږ نیکونه، په تېره بیا هغوی چې هوښیار ول، په دې روږدي ول چې وواېي "پیستویا Pistoia باید د ښکېلو ډلګیو په مرسته وساتل شي او پیزا Pisa د نظامي کلاګانو په ودانولو "چې د همدې مفکورې له مخې یې په ځینو لاس لاندې ښارونو کې ناندرۍ راپورته کولې، چې د هغوی یووالی له منځه ویوسي، په اسانۍ او پرته له ستونزو خپله ولکه پرې وساتي.
کېدی شي دغه مفکوره هغه وخت پر ځای وه، چې ایټالیا تر یوه ځایه د تعادل په حالت کې وه او ډاډمن امنیت یې درلود. فکر نه کوم چې نن ورځ دې څوک یوه داسې مفکوره خپله تګلاره وګرځوي.
زما په اند خو د ډلګیو جوړول هېڅکله هم ګټور نه دي پاتې شوي. ځکه ښکاره ده چې که دښمن د بېلابېلو ښارونو له لارې پر تاسې یرغل وکړي، تاسې ډېر ژر ماتې خورئ، ځکه کمزورې خوا به تل له بهرنیو یرغلګرو ځواکونو سره یو ځای کېږي، مرسته به ورسره کوي او تاسې به د هغوی په وړاندې د مقاومت جوګه نه یاست.
زما په ګروهه وېنېسیان د پورتني لامل له مخې راوپرځېدل. ځکه هغوی تر ولکې لاندې ښارونو کې د ګیلف Guelph او ګیبلین Ghibelline دوه مخالفې ډلګۍ وروزلې. که څه هم هغوی یې د وینو تویولو ته نه وې پرې ایښې، خو تر منځ یې د اختلافاتو اور ته لمن وهله. تر دې چې د دغو ښارونو اوسېدونکي د خپلمنځي اختلافاتو له امله داسې سره ووېشل شول چې بیا یووالی یې ناشونی و او لکه موږ چې یې شاهدان یو، پایله یې د هیلو برخلاف وه. ځکه د ویلا Vaila تر ماتې وروسته له دې ډلګیو څخه یوې زړه وکړ، راپورته شوه او له وېنېسیانو یې دولت ونیو. نو دغه ډول میتود د ټولواک د ضعف او کمزورۍ څرګندوی دی.
یوه ځواکمنه او غښتلې واکمني باید په خپل قلمرو کې دې ډول ډلګیو او مخالفتونو ته اجازه ورنه کړي. که څه هم دغه میتود د تر ولکې لاندې سیمو اداره اسانه کوي، خو یوازې د سولې پر مهال کارنده دی، دغه تګلاره د جګړې پر مهال بې ځایه او تېرایستونکې ده.

4. بې له شکه چې ټولواکي هغه وخت سترتوب ته رسېږي او نوم وباسي چې په وړاندې یې پرتې ستونزې او خنډونو په بریالیتوب اوار کړي. نو کله چې د سړي بخت ویښ شي، په تېره بیا کله چې غواړي یو نوی واک ته رسېدلی ټولواک سترتوب ته ورسوي. هغه چې د میراثي ټولواک په پرتله د سترتوب او شهرت د ترلاسه کولو زیاته اړتیا ویني، په وړاندې یې داسې دښمنان راولاړېږي چې د سیسې جوړې کړي، او بیا نوي ټولواک ته د دې وار ورکوي چې پرې برلاسی شي او د هغوی په مرسته داسې د شهرت لوړو پوړیو ته رسېږي لکه پر یوې زینې چې دښمنانو ایښې ده پورته کېږي. ځکه نو ځینې هوښیاران په دې ګروهه دي چې یو ټولواک باید په ډېر چم او هنر ځان ته دښمنان پیدا کړي او بیا یې په ځپلو او له منځه وړلو، خپل نوم، شهرت او جلال نور هم لوړ کړي.

5. ټولواکو، په تېره بیا هغو چې نوي واک ته رسېدلي دي، د هغو خلکو په پرتله چې د خپلې واکمنۍ په پیل کې یې د باور وړ ول، په هغو کې چې د ټولواک د باور وړ نه ول، ډېره وفاداري او رښتینولي موندلې او مرسته یې ترلاسه کړې ده.
د سینا Siena ټولواک پانډولفو پټروکسي Pandolfo Perocci خپل دولت د د باور وړ خلکو په پرتله ډېر د هغو په مرسته اداره کړ، چې د واکمنۍ په پیل کې پرې بې باوره و.
خو د دې موضوع په اړه سړی یوه ټولیزه قاعده نه شي وړاندې کولی. ځکه دا له هر سړي سره توپیر کوي. خو زه یوازې په دې وینا بسنه کوم چې که هغه خلک چې د واکمنۍ په پیل کې ناخوښه ول، داسې وي چې د خپل ژوند او تلپاتېوالي لپاره د ټولواک مرستې ته اړتیا لري، په خورا اسانۍ یې ځانته رااړولی شي او هغوی هم په ډېره کلکه دې ته تیار دي چې په ټوله وفا او رښتینولۍ د ټولواک په چوپړ کې پاتې شي. ځکه هغوی پوهېږي چې باید په ښه کړون د ټولواک هغه بدګوماني له منځه یوسي چې د واکمنۍ په پیل کې یې د هغوی په وړاندې درلوده، چې په دې ډول ټولواک له هغوی څخه ډېره ګټه پورته کوي. ځکه څوک چې له خپل ژوند او څوکۍ څخه په بشپړ ډاډ د ټولواک چوپړ کې دی، ښایي د خپلو اړوندو دندو په ترسره کولو کې ناغیړي وکړي.
څرنګه چې زموږ موضوع هم په همدې ټکي ده، نو پکار ده د یوه داسې ټولواک پام ورته راوګرځوم چې د خلکو د یوې ځانګړې مرستې په مټ یې دولت ترلاسه کړی دی؛ باید د دې مرستې او پېرزونې لاملونه وارزوي؛ که دا د ټولواک په وړاندې د هغوی طبیعي مینه نه بلکې یوازې له پخوانۍ اداري د ناخوښۍ پایله وي، نو په دې صورت کې به له هغوی سره د ښو اړیکو ټینګول د ټولواک لپاره ډېر ستونزمن کار وي. ځکه د هغوی د خوښۍ ترلاسه کول څه اسانه کار نه دی.

که د دې موضوع لاملونه په هغو ښېلګو کې، چې له اوس مهالو او لرغونو چارو رااخيستل شوې دي وارزوو، څرګند ېږي چې د ټولواک لپاره د هغو په پرتله چې د واکمنۍ په پيل کې خوښ و او له همدې امله يې هغه دې کارته و هڅاوه، له هغو سره د اړيکو ټينګول اسانه دي چې له پخوانۍ اداري څخه خوښ ول او له دې کبله له ټولواک څخه ناخوښه دي او دښمني ورسره کوي.

.6دا يو دود دی چې ټولواکي د خپل هېواد د بشپړ امنيت لپاره کلاګانې جوړوي او غواړي چې د هغو خلکو په وړاندې يې د دفاع د وسايلو په توګه وکاروي، چې په وړاندې يې په پټه کار کول غواړي او طرحې جوړوي. همدا راز د دښمن د لومړي يرغل پر مهال د ځان د خونديينې په موخه هلته پناه يوسي. زه هم دغه چاره ستايم. ځکه دا د لرغونو شخصيتونو کار دی. خو موږ په خپل وخت کې وليدل چې ميسر نبکولو ويټيليMesser Niccolo Vetelli ، د سيټا دي کاستيلو Citta di Castello دوه کلاګانې راوغورځولې چې دغه دولت په ښه توګه وساتي. د اوربينو ډيوک، ګيډو او بالډو Guido Ubaldo خپلې ځواک سيمې ته د راګرځېدو پر مهال چې د سيزار بورجيا له خوا شړل شوی و د خپل هېواد کلاګانې له خاورو سره خاورې کړې او داسې يې وګڼله چې له دې کلاګانو پرته به يې هېواد په ډېرو ستونزو له لاسه وځي، مانا په اسانۍ به يې له لاسه ورنه کړي. بنتي وګلي هم کله چې بولونا ته راستون شو همدا پرېکړه يې وکړه. نو له همدې امله د کلاګانو ګټه او زيان په حالاتو او شرايطو پورې تړلي دي؛ که له يوې خوا ستاسو لپاره ګټورې دي نو له بلې خوا زيان دررسوي.

او دې مطلب لپاره داسې دليل وړاندې کوم: هغه ټولواکي چې د بهرنيو ځواکونو په پرتله له خپل ولس څخه ډېره وېره لري، اړ دي چې کلاګانې جوړې کړي او هغوی چې د خپل ولس په پرتله له بهرنيو ځواکونو څخه ډېره وېره لري، کلاګانو ته اړتيا نه لري.

هغه کلاګانې چې د فرانسېسکو سفورتسا له خوا په ميلان کې ودانې شوې، نه يوازې اوس بلکې په راتلونکي کې به هم په دې هېواد کې د بلې هرې ګډوډۍ په پرتله د سفورتسا کورنۍ زياته له ګواښونو سره مخامخ کړي.

نو له دې کبله، تر ټولو ښه کلا دا ده چې ټولواک په ولس کې کرغېړن نه وي. ځکه په دې صورت کې سره له دې چې تاسو به کلاګانې لرئ، خو که ولس ستاسو په وړاندې د کرکې احساس کوي، نو هېڅ يوه کلکه کلا به تاسو خوندي ونه ساتي. ځکه له هغه ولس سره چې د خپل ټولواک په وړاندې وسله راپورته کوي، د بهرنيو ځواکونو له خوا په مرسته کې هېڅ ځنډ او کمی نه ليدل کېږي.

موږ په خپل وخت کې هم کله نه دي ليدلي چې کلاګانې کوم ټولواک ته ګټورې تمامې شوې وي، پرته له کاونټس فورلي (د فورلي ملکه) څخه، چې د خپل خاوند کاونټ ګيرالامو Count Giralamo تر وژل کېدو وروسته يې يوازې د همدې کلاګانو په مرسته د خلکو د پاڅون په وړاندې ودرېده او تر هغو يې وساتله چې له ميلان څخه مرسته راورسېده، او خپل دولت يې له پاڅونه کرار او بېرته ترلاسه کړ. خو په هغه وخت کې چارې داسې وې چې بهرنيو د يو هېواد له اوسېدونکو سره مرسته نه شوه کولی. وروسته بيا کله چې سيزار بورجيا د هغې پر هېواد يرغل وکړ او ناخوښه ولس هم له بهرنيو ځواکونو سره لاس يو کړ، کلاګانو ډېر لږ ارزښت درلود. ځکه نو د هغې لپاره په پيل او پای کې د کلاګانو له لرلو دا ډېره خوندي وه چې خلکو يې په وړاندې د کرکې احساس نه وی کړی.

که دغه ټولې خبرې وارزوو، زه بايد هغه ځوک چې کلاګانې جوړوي او هغه چې ترې تېرېږي، دواړه وستايم. خو زه بايد هغه ټولواکي پړ وبولم چې پر کلاګانو زړه تړي او د ولس کرکې ته لږ ارزښت ورکوي .

## يوويشتم څپرکی

ټولواک څه ډول چلند وکړي چې ښه نوم وګټي؟

١ .يوه ټولواک ته د سترو جګړو پيلو طرحو، نوښتونو او نورو ته د تقليد لپاره د ښو ښېلګو د پرېښودلو پرته نور هېڅ ځانګړنې دومره ښه نوم نه ورپه برخه کوي. د اوس مهالو ټولواکو له منځه د اراګون فرديناند يا د اسپانيا اوسنی ټولواک نژدې يو نوی ټولواک ګڼل کېږي .که څه هم هغه يو بې ارزښته ټولواک و، خو اوس يې د برياوو او شهرت له پلوه په مسيحي نړۍ کې پرمختګ کړی او تر ګردو په لوړ پوړ کې ځای لري.

که تاسو د هغه کړنې وارزوئ، نو وبه وینئ چې د هغه ټول کارونه ستر دي او ځینې یې ان له هیلو اوچت ګڼل کېږي. ده د خپلې واکمنۍ په پیل کې پر ګراناډا Granada جګړه پیل کړه، چې دغه وسله وال ګام یې په حقیقت کې د واکمنۍ لپاره یو کلک بنسټ ګڼلی شو. دغه کار یې لومړی په کراره او پرته له کومې وېرې، چې ګویا له خنډ سره به مخ شي، پیل کړ. ځکه هغه دکاسټیل Castile اشرافیان دومره بوخت وساتل چې په هېواد کې یې له نوو بدلونونو څخه د خبریدو وخت نه درلود. او په دې توګه، پرته له دې چې د هغه له خوا د کارول شوېو لارو چارو څه ځرک واخلي، هغوی یې د خپل واک او نفوذ تر اغېز لاندې راوستل. د کلیسا او ولس پر پیسو یې یو منظم او ځواکمن لښکر جوړ کړ، او د یوه پوځي ډسپلین بنسټ یې کېښود چې وروسته یې بیا هغه ته نړیوال شهرت ور وباښه. سربېره پر دې چې هغه ستر کارونه ترسره کول او ستري طرحې یې جوړولې، ځان به یې په مذهبي جامه کې ښوده. او ځان یې یوې سپېڅلې بېرحمۍ ته ورکړی و. یانې داسې یې ښودله، چې که کوم تېری کوي، د مذهب او دین په لاره کې یې کوي. نو ځکه یو منلی کار دی. په دې ډول یې ټول عرب ((مراکشیان او د شمالي افریقا اوسېدونکي)) چې پر اسپانیا یې یرغل وروړی و، له اسپانیا څخه وشړل او خپل هېواد یې ترې پاک کړ. چې دا پخپله ستر او د ستاینې وړ کار دی. د همدې مذهب تر نقاب لاندې یې پر افریقا جګړه پیل کړه، بیا یې ایټالیا لاندې کړه او په پای کې یې پر فرانسې یرغل وکړ، چې په دې ډول د هغه ټولې طرحې او بریالیتوبونه د اریانتیا وړ ول. ده د خپل ولس ذهن د ځان په وړاندې د اریانتیا او ستاینې په یو حالت او د خپلو اعمالو پایلې ته سترګې په لار ساته.

د هغه ټولې کړنې یو په بل پسې داسې رامنځته کېدې چې چاته یې د دې وخت نه ورکاوه، چې د مخالفت په فکر کې یې شي او په کلکه یې په وړاندې ودرېږي.

۲ . په کورنیو چارو کې د یادونې وړ بېلګو پربښودل هم ټولواک ته ډېر مرستندویه او ګټور تمامېږي. کټ مټ لکه هغه بېلګې چې د میسر برنابو دا میلانو Messer Bernabo da Milano له کړنو رالېږدول شوي دي. کله چې به وار لاسته ورغی، په کورنیو چارو کې به یې د یو چا په لاس ځانګړې غیرعادي ښه یا بد کارونه ترسره کول، بیا به یې هغه ته له کړي کار سره سم انعامونه ورکول، یا به یې سزا ورته ټاکله، چې په دې توګه به تبصرې پرې کېدې او د ولس پام یې ځانته را اړاوه.

نو یو ټولواک باید تل په دې هڅه کې وي چې په خپل هر عمل کې داسې چلند غوره یا داسې کړنې ترسره کړي، چې ځانته د ولس په منځ کې د یو ستر او غوره شخصیت حیثیت او مقام وګټي.

۳ .ټولواک چې ښه ملګری یا پرېکنده دښمن وي، هم د درناوي او احترام وړ ګرځي. مانا پرته له کومې سپما څخه خپله ملګرتیا له یوې یا بلې خوا سره اعلانوي، چې دغه تګلاره تر بې پرېتوب ګو ځلې ګټوره ده. ځکه که د ستاسو دوه غښتلي ګاونډي هېوادونه په خپلو کې په جګړه اخته کېږي، طبیعي ده چې که د هغوی له منځه یو بریالی کېږي، تاسو به یا وېره ترې کوئ او یا به یې نه کوئ.

په دواړو حالاتو کې ستاسو لپاره تر ټولو ګټوره لار دا ده چې خپله پلوي له یوې خوا سره اعلان کړئ، که نه ځای پر ځای به د بریالي خوا د ښکار قرباني شئ. ماته شوې خوا به له تاسو کرکه کوي او د فاتحې خوا له دې ګام څخه به خوند اخلي او خوښي به ښکاره کوي. هېڅ ډول عذر یا دلیل به تاسو له دې ډول ګواښ څخه نه شي ژغورلی او تاسو به هېڅ دلیل نه لرئ چې وړاندې یې کړئ او نه کوم پلوی چې ستاسو ساتنه وکړي. دا ځکه چې فاتحه خوا شکمن ملګري نه غواړي، چې په ازمېښت یا سختۍ کې یې مرسته ونه کړي او هغه خوا چې ماتې خوري، ستاسو ملاتړ نه کوي. ځکه تاسو پخپله خوښه د هغوی په پلوۍ توره نه ده راپورته کړې او د هغه زړه مو نه دی ګټلی، چې په راتلونکي کې تاسو خپلې پلوۍ ته راوبولي.

د یونان له خاورې د رومیانو د شړلو په موخه انتیوکوس Antiochus د ایټولیانو په غوښتنه یونان ته ولاړ. هغه اکیانیانو ته، چې له رومیانو سره یې لاس یو کړی و، خپل استازی واستاوه او هغوی ته یې د دې سلا ورکړه چې بې پرې پاتې شي. خو له بله پلوه رومیانو پر هغه ټینګار کاوه چې باید د هغوی په پلوۍ وسله راپورته کړي، دا موضوع د اکیانیانو رسمي جرګې ته ولوېده او په دې جرګه کې د انتیوکوس استازي پر هغوی ټینګار وکړ چې باید بې پرې پاتې شي. خو د رومیانو استازي د هغه خبرو ته ځواب کې داسې وویل: �دا چې تاسو ته یې د دې سلا درکړه چې که تاسو زموږ په جګړه کې برخه وانخلئ، نو ستاسو په ګټه به وي، بالکل بېځایه او د ګټو پر خلاف مو ده. ځکه که تاسو مداخله ونه کړئ، نو تاسو به پرته له کومې ملګرتیا او پاملرنې فاتحې خوا ته د غنیمت په توګه وړپاتې شئ�

له دې کبله هغوی چې ستاسو دوستان نه دي، تل به تاسو ته د بې پرېتوب سلا درکوي او هغوی چې مو دوستان دي، پر تاسو باندې ټینګار کوي چې وسله راپورته کړئ او په جګړه کې برخه واخلئ.

هغه ټولواک چې د ټینګې ارادې خاوند نه دی، د دې لپاره چې له اوسني ګواښ څخه ځان وژغوري، په ټولیز ډول بې پرېتوب

غوره کوي او خپلې تباهۍ ته لاره اواروي. خو که تاسې په پوره زړورتيا له يوې خوا سره ملاتړ اعلان کړئ او هغه خوا چې تاسو يې پلوي کړې ده، فاتحه شي، سره له دې چې فاتح هېواد به غښتلی وي او تاسو به د هغه په وړاندې د مقاومت جوګه نه ياست، خو بيا هم فاتح هېواد ستاسو پوروړی دی، په منځ کې مو د دوستۍ اړيکې ټينګ شوي او بشر تر اوسه دومره نه دی سپين سترګی شوی، چې د يو چا ښېګڼه هېره کړي او پر هغه چا باندې، چې په جګړه کې يې ورسره مرسته کړې، تېری وکړي. هسې هم فتحې له هره پلوه دومره بشپړې نه دي چې فاتح دې ارومرو پر خپلو ژمنو ونه درېږي يا دې د هغه پروا ونه ساتي. او که هغه خوا چې تاسو يې پلوي کړې، ماتې وخوري، نو تاسو ته به پناه درکړي او که وس ولري، مرستې به درسره وکړي او تاسو د داسې بخت ملګري ياست چې بيا به راويښېږي.

په دويم حالت کې که هغوی چې په خپل منځ کې په جګړه اخته دي، داسې وي چې تاسو د يوه او بل د فتحې په اړه هېڅ اندېښنه نه لرئ، بيا هم تر ټولو معقوله لار دا ده چې تاسو له يوې خوا سره ټلواله جوړه کړئ. ځکه تاسو له يوې خوا سره د بلې خوا په تباهۍ کې مرسته کوئ، چې که هوښيار وی او په يوازې ځان يې نه شو فتح کولی، نو له تاسو به يې هم مرسته نه غوښتی، او له دې يرغله به تېر شوی وی، اوس چې يې بريا ستاسو له مرستې پرته کېدون نه لري، نو که په دې لار کې تاسو مرسته وکړئ، فاتحه خوا ستاسو په واک کې پاتې کېږي او په همدې ځای کې د يادونې وړ ده چې يو ټولواک بايد هر ډول پاملرنه وکړي چې ترهغې اړ نه وي هېڅکله پر نورو هېوادونو د يرغل په موخه د ځانه غښتلي هېواد سره ټلواله جوړه نه کړي. لکه چې وړاندې وويل شول که هغه هېواد ، چې تاسو يې خپلې ملګرتيا ته رابللي ياست برلاسی شي، نو د ستاسو په واک کې به پاتې شي او ټولواکي بايد له هغو ګامونو ځان وساتي چې په پايله کې يې هغوی د بل چا تر لاس لاندې راځي يا يې په واک کې لوېږي.

وېنېسيانو د ميلان د ټولواک په وړاندې له فرانسې سره ټلواله جوړه کړه او دغه ډول ټلواله، چې د هغوی د تباهۍ لامل وګرځېد ، دومره اړين نه و. پکار وه ترې تېر شوي وی. خو د فلورېنسيانو لپاره يوه اړتيا وه، هغه وخت چې پاپ او اسپانيا خپلې لښکرې پر لمبارډې د يرغل لپاره واستولې. په داسې حالاتو کې ډډه ترې نه شي کېدی او ټولواک تل اړ دی چې د يوې خوا پلوي وکړي.

هېڅ دولت بايد فکر ونه کړي چې غوره کړې تګلاره يې خوندي ده بلکې داسې دې وګڼي چې که هره تګلاره غوره کوي شکمنه به وي. ځکه ورځنۍ چارې په دوديز ډول داسې دي چې سړی نه شي کولی له يوې ستونزې ځان وساتي بې له دې چې په بلې واوړي. خو هوښياري او پوهه په دې کې ده چې سړی د ستونزو لړ او ډېر زيان پرتله کړي او بيا هغه تګلاره خوښه کړي چې په اند يې لږ زيانمنه ده.

۴ .ټولواک بايد تل د وړتيا او استعداد ملاتړی وي، د مسلک خاوندان او ماهرين چې په هر فن کې وي په امتيازاتو ونازوي او درناوی يې وکړي. همداراز ټولواک بايد  خپلو خلکو ته سوله ييز چاپېريال رامنځته کړي چې هغوی وهڅول شي چې د سوداګرۍ او د کرنې په ډګر کې خپل فعاليتونه په پوره ډاډ پرمخ بوځي. داسې چې له يوه سره د پانګې په زياتولو د دې وېره نه وي، چې شتمني به يې څوک په زور زياتي ترې ولکه کړي او له بل سره دا وېره نه وي چې که سوداګريز مرکز پرانيزي، ډېره ماليه به ترې اخيستل کېږي او په دې توګه له خپل هوډ څخه وګرځي. د دې پر ځای بايد ټولواک د ولس دغه پوړ ته جايزې وټاکي او په دې توګه يې نور هم وهڅوي. همدا وګړي دي چې خپل هېواد يا ښار ته له بېلابېلو لارو سترتوب او درنښت ورپه برخه کوي.

۵ .سربېره پر دې ټولواک اړ دی چې د کال په اړوندو فصلونو کې خپل خلک په جشنونو ، موسمي لوبو او ننداړو خوشاله وساتي.

څرنګه چې هر ښار په بېلابېلو ټولنو او ډلو وېشل شوی دی، ټولواک بايد د هرې يوې درناوی وکړي، په ناستو او غونډو کې يې ګډون وکړي او ځان د هغوی په وړاندې د خواخوږۍ او ناتنګليدۍ ((ازادفکرۍ)) نه ډک وښيي. خو خپل مقام، حيثيت او جلال ته يې پام وساتي او په هېڅ بيه يې د ارزښت لړولو ته غاړه کې نه ږدي .

## دوه ويشتم څپرکی

د ټولواک د وزيرانو او سلاکارانو په اړه

د وزیر ټاکل خپله ټولواک لپاره څه اسانه کار نه دی. د هغه وزیر وړتیا او ناوړتیا چې د ټولواک له خوا ټاکل شوی وي د ټولواک له غوراوي پورې اړه لري. ځکه لومړنۍ انګیرنې چې مونږ د ټولواک د ښېګڼو ، اخلاقو او پوهې په اړه کوو ، د هغو خلکو په ارزولو یې کوو چې د ټولواک شاوخوا راټول شوي دي.
که دغه خلک پوهه یا وړتیا ولري، ټولواک او هېواد ته وفادار وي. نو ویلی شو چې ټولواک هوښیار او ځیرک سړی دی. ځکه خپله ټولواک د هر وزیر د استعداد او وړتیا کچه ارزولې ده او په دې ښه پوهېږي چې هغوی څه ډول ځانته وفادار وساتي. او که داسې نه وي نو مونږ به د پورتنۍ یادونې مخالف نظر د ټولواک په اړه ولرو. په دې مانا چې د ټولواک د هوښیارتیا او لید لوري په اړه ښه نظر نه شو لرلی .ځکه لومړنۍ تېروتنه چې هغه کړې د خپلو وزیرانو او سلاکارانو په ټاکنه کې یې ده.
د سینا د ټولواک پانډولفو پېټروکسي په وړاندې به هر چا د یوه هوښیار او پوه ټولواک انګېرنه کوله چې د میسر انتونیو دا وینافرو Messer Antonio da Venafroپه څېر یو وړ او بااستعداده وزیر یې د خپل خدمت لپاره ساتلی او هغه هم په ټوله ربښتینولۍ د ټولواک په چوپړ کې دی.
خلک د پوهې او غوراوي ((درک)) له پلوه په درې ډلو وېشل شوي دي:
.1هغه څوک چې د نورو له مرستې او لارښوونې پرته خپلې ستونزې په خپله اواروي.
.2هغه څوک چې خپله د غوراوي او بېلولو ځواک نه لري، خو هغه څه چې نورو سم درک کړي وي د لارې مشال ګرځوي.
.3هغه څوک چې نه خپله نه د بل چا د لارښوونې له لارې د غوراوي((درکولو)) وړتیا او ځواک لري.
هغه خلک چې په لومړۍ ډلې کې راځي تر ټولو ښه دي او د دویمې ډلې خلک په ښو کې شمېرل کېږي. مانا په دویم پوړ کې دي. خو د درېیمې درجې خلک اصلاً باید هېڅ د اعتماد وړ ونه ګرځي.
که پانډولفو پټروکسي په لومړۍ ډله کې نه وي، بې له شکه به په دویمه ډله کې راځي. یو څوک چې ښه له بدو بېلولی شي او د نورو له خوا ترسره شوې سمې کړنې او ویناوې درکوي او ځان پرې پوهوي، که خپله د نوښت او ابتکار قوه ونه لري خو بیا به هم د خپلو نوکرانو وړتیا او ناوړتیا په ښه ډول تشخیص کړي. خپلو وړتیا لرونکو او ربښتینو خدمتګارانو ته به امتیازات ورکړي او پاتې به یې اصلاح کړي.
په دې ډول هېڅ شاهي دربار نه شي کولی ورته ټولواک تېرباسي، بلکې ناچاره دي چې په ټوله ربښتینولۍ او مینه هغه ته خدمت وکړي.
د دې لپاره چې یو ټولواک خپل وزیران او سلاکاران په ښه توګه وپېژني. یوه داسې ازموینه شته چې هېڅ نیمګړتیاوې نه لري او تل بریالۍ راوځي. هغه دا چې کله یو ټولواک وپوهېږي چې وزیر یې د هېواد او ټولواک په پرتله ډېر په خپل فکر کې دی او یا دا چې په ټولو کړنو او اعمالو کې یې د خپلو ګټو په اړه چورتونه وهي، نه د ټولواک د هغو په اړه. داسې وزیر هېڅکله د ټولواک لپاره یو ربښتینی خدمتګار نه شي کېدی او نه باید ټولواک پرې باور وکړي. ځکه چې کله یو ټولواک خپل وزیر ته د هېواد د چارو واک ورسپارلی وي، نو وزیر هم باید د خپلو شخصي ګټو په اړه فکر ونه کړي. بلکې تل باید د ټولواک ګټې په نظر کې ونیسي او هغو چارو ته چې د ټولواک ګټې ورپورې تړلې نه وي هېڅکله پام ونه کړي.
له بلې خوا ټولواک هم د دې لپاره چې خپل وزیر ربښتینی او امانت کاری وساتي. اړ دی چې هغه مطالعه کړي او وې څاري. د هغه حیثیت وساتي بډای یې کړي. بې شمېره نورې ښېګڼې ور ورسوي او درناوی یې وکړي. په ټولو منډو ترړو کې چې د هېواد د چارو په پرمخ بېولو کې یې ګالي، مرسته ورسره وکړي او په همدې ترڅ کې دا هم ورته وښیي چې وزیر په یوازې سر او د ټولواک له مرستې پرته هېڅ نه شي کولی. چې وزیر هم خپل ټول پت او حیثیت د ټولواک پېرزونه وګڼي. ټولواک باید خپل وزیر د ډېرو ښېګڼو، درناوي او امتیازاتو په ورکولو سره ښه موړ کړي. چې د تل لپاره له پردیو څخه د احسان او انعام تمې ته په زړه کې ځای ورنه کړي. وزیر ته د دې ښېګڼو او امتیازاتو په ورکولو او هغه ته د هېواد د چارو په ورسپارلو چې د ټولواک د باور وړ دی، هغه د نویو اوښتونونو او بدلونونو په لټه نه وځي. ځکه پوهېږي چې په داسې بدلون کې وزیر په یوازې سر له یوې پریکنده او له بشپړې مرستې پرته نه شي کولی ځان وژغوري. خو هغه خپل مقام به یې له لاسه ولاړ شي.
کله چې د وزیر او ټولواک تر منځ داسې یو صمیمیت پیدا شو په ښه توګه کولی شي پر یو بل باور وکړي او که د دې برعکس وي، نو تل به له دوی دواړو څخه یو له بدې پېښې سره مخ کېږي .

له غوړه مالو او چاپلوسانو څخه په څه ډول باید ځان وساتي؟

زه نه غواړم چې زموږ د موضوع له یوې مهمې برخې څخه، چې د غوړه مالو او چاپلوسانو په اړه ده، پټه خوله تېر شم. ځکه یوه تېروتنه چې له یو ټولواک څخه ښایي په ډېرې اسانۍ وشي، په همدې برخه کې به وي.
په دربار کې د دغو خلکو شمېر ډېر زیات دی او ټولواکي که څه هم له ډېرې ځیرکۍ او له احتیاطه ډک وي خو بیا هم په ډېرو ستونزو کولی شي هغوی وپېژني او ځان ترې وژغوري.
ځکه بشر پر خپل ځان مین دی او په خپل ځان پورې اړوندې چارې ښې ورته بریښي. خو بیا ځنې وخت په کې داسې تېروتلی وي چې ځان ترې په خورا ستونزو خلاصولی شي. نو داسې یوه ټولواک ته ستونزمنه خبره ده چې له دې ډول چاپلوسانو او غوړه مالو څخه ځان وژغوري. او که وغواړي چې ځان ترې لرې وساتي، ژر د کرکې او نفرت له ګواښ سره مخ کېږي .
یوازې یوه لار شته، چې له دې شر څخه یې ژغوري. هغه دا چې غوړه مالو او چاپلوسانو ته دا ډاډ ورکړل شي چې ټولواک ته حقیقت ویل او غوړه مالي نه کول د هغه سپکاوی نه دی او نه هم د ټولواک د خواشینۍ لامل ګرځي. خو که داسې وشي او هېڅوک ټولواک ته غوړه مالي ونه کړي ((او د ټولواک په شتون کې په ازادانه ډول رښتیا وواېي)) نو د ټولواک په اړوند درناوي کې کمی راځي.
ځکه نو که ټولواک یو هوښیار او تجربه کاره سړی وي، دریېمه تګلاره غوره کوي. هغه دا چې د خپل ولس له منځه یو شمېر پوه خلک ټاکي او یوازې هغوی ته د بیان د ازادۍ یا حقایقو د ویلو اجازه ورکوي او بیا یوازې د هغو شیانو په اړه په ازاده توګه رښتیا ویلی او خپلې نظریې ورکولی شي چې ټولواک یې په اړه پوښتنه کوي او بس، او دغه حق نورو عادي کسانو ته چې پورتنۍ ځانګړتیاوې نه لري باید ورنه کړل شي. ټولواک باید د هغوی نظریو ته غوږ شي خو خپله هم فکر پرې وکړي او بیا یوازې په خپله رایه او پرېکړه قضاوت وکړي.
له دې سلاکارانو سره په ډله ییزه او جلا جلا ډول د ټولواک چلند باید داسې وي چې هر یوه ته جوته شي چې په هره اندازه چې د خپلې نظریې په څرګندولو کې ازاد او یا یې نظریه روښانه وي، هومره به د ټولواک د پاملرنې، نژدېوالي او اعتماد وړ وګرځي .ټولواک هم باید له دغو سلاکارانو پرته د بل چا خبرو او ویناوو ته غوږ ونه نیسي.
یوازې هماغه ټاکلې تګلاره تینګه کړي، چارې په خورا پرېکنده ډول پر مخ بوځي او وروسته هم پر هماغه هوکړه، عقیده او پرېکړه ټینګ پاتې شي.
خو که د ټولواک کړنې او عمل د دې برعکس وي یا د غوړه مالو او چاپلوسانو له خوا راپرځېږي یا دا چې د ډول ډول رایو او نظرونو په اوربدلو سره خپلې عقیدې او رؤیې ته بدلون ورکوي، اعتبار او ارزښت یې راټیټېږي چې د دې موضوع په اړه به یوه اوس مهالې بېلګه وړاندې کړم.
فرالوکا Fra luca چې د اوسني امپراتور ماکسیملیان Maximilian په دربار کې د سلاکار په توګه چارې پر مخ بیایي په داسې حال کې چې یوه ورځ یې د هغه جلالتمآب په اړه ماته خبرې کولې، وې ویل. �اعلیحضرت د هېواد د چارو په اړه له هېچا سره سلا نه کوي ))د چا نظر نه اخلي((او له دې سره سره د خپل نظر او پرېکړې ملاتړ هم نه کوي�
دا ځکه چې د هغه کړنې له هغې وینا سره چې مخکې وشوه په بشپړ ډول سمون نه خوري. ځکه چې کله ټولواک د یو نوي بهیر یا طرحې د پلي کولو لپاره موټې راپورته کوي، په خپل نیت څوک نه خبروي او نه یې په اړه د چا نظر غواړي. خو کله چې فکر ته د عمل جامه وروا غوندي او په ډاګه یې کړي نو بیا یې نیت څرګند بېږي. په همدې وخت کې د خپلو نژدې کسانو له خوا د طرحې په عملي کولو کې له مخالفت سره مخ کېږي.
نو څرګنده ده چې هغه هم د ټینګې ارادې څښتن نه دی د هغوی د مخالفتونو په وړاندې غاړه ږدي او له نرمۍ څخه کار اخلي. د خپلو پرېکړو له عملي کولو څخه لاس اخلي او د دې کار پایله بیا دا راوځي چې له هغو کارونو څخه چې نن یې د پلي کولو پریکړه کړې، سبا ترې تېر شي. نو د هغه اراده په بشپړه توګه نه څرګند بېږي او پر اراده او عزم یې د باور درلودل شوني نه دي.
ځکه نو یو ټولواک ته په کار دي چې تل سلا مشورې واخلي خو په ټاکلو وختونو او داسې حالاتو کې چې خپله ټولواک یې وغواړي نه په هغه وخت کې چې سلاکاران یې وغواړي. د چا سلا مخکې له دې چې پوښتل شوی وي ښه ونه ګڼي. مانا هېڅوک باید دا زړه ونه کړي چې مخکې له پوښتنې د موضوع په اړه خپله نظریه څرګنده کړي.
ټولواک د هېواد د چارو په اړه د سلاکارانو د نظر په اخیستلو کې باید تل ازاد وي، تل یې نظر واخلي، پوښتنې ترې وکړي.

بیا د خپلو پوښتنو ځوابونه په پوره زغم واوري او که د ځوابونو د ورکړې په اوږدو کې د چا غوره مالي او د رښتیاؤ پټول، په هر دلیل چې وي ورته ثرګند شي، خپله غوسه دې ورښکاره کړي.
ځوک چې د ټولواکو د درک قوه یا هوښیاري د ټولواک په ځانګړې ورتیا پورې نه بلکې د مجربو وزیرانو او هوښیارو سلاکارانو پورې تړلې بولي تېروتلي دي. ځکه ښکاره ده چې که خپله ټولواک هوښیار نه وي فطري ورتیا او استعداد ونه لري، هېڅکله نه شي کولی د خپلو ښو او هوښیارو وزیرانو او سلاکارانو له ښو مشورو څخه ګټه واخلي. که څه هم کله کله �استثناً�او د بخت له مخې ځینې وزیران دېر پوه راوځي او د ټولواک د غوراوي له حس سره هېڅ تړاوو نه لري. مانا هغه وزیر ته چې ټولواک خپلې ټولې چارې ورسپارلې دي، ورتیا او استعداد یې خپله د ټولواک په پرتله دېر وي په داسې حالاتو کې ټولواک ښایي ښې مشورې او لارښوونې ترلاسه کړي او چارې به یې هم طبعاً په ښه ډول سمبالېږي. خو تر دېره دوام نه کوي. ځکه همدغه وزیر به په دېر لنډ وخت کې د ټولواک د راپرځولو وسایل تیار کړي او هېواد به ترې ونیسي. خو که ټولواک د یوه پر ځای دېر سلاکاران ولري او خپله یو بې تجربې شخص وي او پوره مالومات هم ونه لري، هېڅکله نه شي کولی چې خپل سلاکاران همنظره او همفکره کړي .نو څرنګه چې خپله هم د دې ورتیا نه لري چې د خپلو سلاکارانو په منځ کې یووالی رامنځته کړي هر سلاکار به یې د خپلو ځانګړو ګټو په لټه کې وي، خپله ټولواک به نه د هغوی د سمون او اصلاح ورتیا او ځواک لري او نه به د هغوی ناوړه کړنې راسپړلی او رابرسېره کولی شي.
نو ښکاره ده چې دا ډول خلک د دغه ډول ټولواک په چاپېریال کې وطن پلورونکي، خاین او ځانپالي روزل کېږي پرته له هغو چې د ځینو بندیزونو له امله ناچاره دي چې ځانونه ښه او رښتیني وښیي.
نو داسې پرېکړه کولی شو چې د پوه او رښتیني سلاکار، له هر ځای چې وي د هوښیارۍ او ورتیا اصلي سرچینه یې خپله ټولواک دی .نه دا چې د ټولواک هوښیارتیا او ورتیا له ښو سلاکارانو او وزیرانو له امله په هغه کې راڅرګندېږي .

## څلورویشتم څپرکی

ایټالوي ټولواکو ولې خپل هېوادونه له لاسه ورکړل؟

ټولې سلاوې چې مخکې ورکړل شوي دي، که په بشپړه هوښیارۍ پلې شي، یو نوی پر تخت ناست ټولواک به د یو داسې تجربه کار او رسېدلي ټولواک په څېر راڅرګند کړي چې ته وا د کلونو کلونو راهیسې یې سلطنت کړی وي او داسې به یې تخت ټینګ کړي لکه د وخت په تېرېدو سره چې یې سلطنت ټینګ او ځواکمن شوی وي. ځکه خلک د هغو ټولواکو په پرتله چې سلطنت په میراثي توګه ور رسېدلی، د نوو راښکاره شو ټولواکو چلند او کړنې په زیات غور څاري.
که دغه اعمال په ښه، پر له پسې توګه او په پوره هوښیارۍ تش په نامه وښودل شي، اغېزې به یې د میراثي ټولواکو د نفوذ د سابقې په پرتله هم خلک دېر د نوي ټولواک پر لور را مات کړي. ځکه خلک د زړو او لرغونو شیانو په پرتله تل نوو شیانو ته دېر لېواله وي، په تېره بیا کله چې خپله وضعه او حالت تر پخوا غوره ووینې یا ورته ښکاره شي چې په بشپړه هوساینه او د سولې په چاپېریال کې ژوند کوي. او خلک تر دې زیات د نورو شیانو تمه هم نه ترې کوي.
که له ټولواک څخه په نورو مسایلو کې څه غفلت او تېروتنه ونه شي خلک چمتو دي ښکاره کړي چې له نوي ټولواک څخه دېر خوشاله دي. په دې توګه به دا د یوه نوي ټولواک لپاره دوه ویاړه وي چې یو خو یې نوی سلطنت رامنځته کړ، او بل یې د دې نوي سلطنت بنسټ په ښو قوانینو، ښو متحدینو، او په غوره چلند کلک کړی دی. او هغو لپاره به دوه شرمه وي چې سلطنت یې په میراثي توګه ترلاسه کړی دی خو د ورتیا ((د پورتنیو ځانګړنو)) په نه لرو یې له لاسه ورکړی.
که موږ هغو ټولواکو ته، چې زموږ په پېر کې یې خپل هېوادونه له لاسه ورکړي، کتنه وکړو او د هغوی د پرځېدو لاملونه وڅېړو، د بېلګې په توګه: د ناپل ټولواک، د میلان دیوک او داسې نور، نو جوته به شي چې هغو دلایلو ته په پام سره، چې مخکې یې یادونه وشوه: لومړی هغوی دفاعي ځواک او یو منظم لښکر نه درلود او دویم ولس د هغوی تر شا نهؤ ولاړ او پر ضد یې ؤ ..
که ولس یې پلوی وی او یا په دې پوهېدی چې د اشرافیانو له دسیسو څخه په څه ډول ځان وژغوري، ارو مرو بریالي کېدل. خو هغه هېوادونه چې پورتنۍ دوې((۲ ((نیمګړتیاوې نه لري، یو منظم او برابر لښکر یې هم تیار کړی چې د اړتیا پر مهال د جګړې ډګر ته ودانګي، ماتې یې ناشونې ده.

که د مقدونیې د فلیپ ((د سکندر پلار نه بلکې هغه چې د ټیټوس کینټوس Titus Quintus له خوا راوپرځېده)) ځواک او د یونان او روم ځواکونه چې دواړو په یوه لاس پر هغه یرغل کړی و سره پرتله کړو، ، وبه وینو چې د هغه ځواک د دغو دوو هېوادونو په پرتله څومره لږ و، خو څرنګه چې یې منظمې لښکرې درلودې، ولس یې هم په وړاندې وفادار او د هغه پلوی و، اشرافیان هم ترې خوښ وو او خپله یې هم یوه جګړه ییزه روحیه لرله. تر ډېره د هغوی په وړاندې وجنګېد او د دې سره سره چې د دښمن د ډېر ځواک په وړاندې یې خپل څو ښارونه هم له لاسه ورکړل، خو تر پایه ودرېد او له خپل هېواد څخه یې په مېړانه ساتنه وکړه. ځکه نو هغو ټولواکو چې خپل هېوادونه یې تر څو کلونو واکمنۍ وروسته له لاسه ورکړي، باید پوه شي چې دا د قضا او تقدیر حکم نه دی چې د هغوی لاسونه دې له خپل میراثي هېواد څخه لنډ او پردیو لاسونو ته دې ولوېږي، بلکې زیان د هغوی پخپله لټۍ ((د سمو لارو نه کارونه)) کې دی.
څرنګه چې یې د سولې او کرارۍ پر مهال تصور نه کاوه چې ممکن یوه ورځ به په دې توره ورځ اوړي ((بشر د اسې طبیعت لري چې کله سمندر ولاړ ووینې توپان هېروي)) نو کله چې پر داسې ټولواکو ناوړه حالات راغلي، د خپل هېواد د دفاع او ساتلو په فکر کې نه دي شوي بلکې تل یې د تېښتې نقشې برابرې کړې او تل له خپل میراثي تخت او تاج څخه په دې تمه تېر شوي دي چې په راتلونکې کې به یې ولس د اتلانو له ظلم او تېرې څخه تنګ راشي او یوه ورځ به یې بېرته خپل پلرنې هېواد ته راوبولي. پورتنۍ فکر ممکن په هغه صورت کې پر ځای وي چې د هېواد د ژغورلو لپاره یې د دفاع ټول وسایل او ټولې لازمې هڅې کارولې وي خو ګټورې نه وي پرېیو تې.
که یوازې په دې خیال له هېواده لاس واخلي، د راتلونکې د پېښو او بدلونو د یوې خیالي مرستې په تمه چې ښایي ورسره وشي، د خپل پلرنې هېواد له ساتنې او دفاع څخه غفلت کوي، شونې نه ده چې ولس د اسې یو ټولواک راوبولي.
که بیا فرضاً ولس په راتلونکې کې داسې یوه بلنه ورهم کړي دغه بلنه ټولواک ته دا ډاډ نه شي ورکولی چې هېواد به یې په لاس کې پاتې شي.
څرنګه چې د ټولواک له خوا ددې کار د تر سره کولو لپاره کومه هڅه نه ده شوې، ځکه نو دغه ډول سپارنه د ټولواک لپاره بې ګټې ده.
د هېواد د تلپاتې ساتنې او ولکې لپاره یوازېنۍ ډاډمنه او ګټوره لار دا ده چې خپله ټولواک د هېواد د ساتلو لارې چارې په خپله ځانګړې وړتیا او زړورتیا په خپله برابرې کړي.

## پنځه ویشتم څپرکی

بخت د بشر پر چارو څه اغېز لري او په کومو لارو چارو کولی شو چې د ځان لپاره یې مساعد کړو؟

زیاتره خلک په دې ګروهه دي چې د بشر چارې د پاک خدای او د بخت او تقدیر له خوا داسې اداره کېږي، چې خلک نه شي کولی د خپل عقل او هوښ له مخې بدلون ورکړي او یا دا چې د تقدیر په وړاندې هېڅ چاره نه شته او له دې امله دې پایلې ته رسېدلي چې د بخت او تقدیر په وړاندې ډېره هڅه او خواري بې ګټې ده او ښه لار دا ده چې ټول کارونه د تقدیر په واک کې پرېښودل شي.
ځینې وخت چې ما پخپله په دې خبره غور کړی، تر یوې کچې دې ټکي ته رامات شوی یم چې پورتنۍ ګروهې ته، چې ټولو ته د منلو وړ ده، غاړه کېږدم. ځکه په اوسنې پېر کې ځینې سترې پېښې او لوی بدلونونه چې مونږ په خپلو سترګو لیدلي او اوس یې هم وینو، ټول د بشر له هیلو پورته دي، خو بیا هم له دې انکار نه شو کولی چې بشر په خپلو کارونو کې فاعل مختار دی.
زما په اند ښایي بخت او تقدیر زمونږ پر نیمایي اعمالو اغېز ولري، خو نیم نور او یا شاید له نیم څخه لږ کم یې زمونږ په واک کې هم راکړي وي. کیدی شي چې بخت او تقدیر له یوه لوی نیز یا سېلاب سره پرتله کړو، چې کله سر واخلي نوري لویې دښتې لاندې کوي او هر څه چې یې لګه ودانۍ او ونې مخې ته راشي له بېخه یې باسي او ړنګوي یې، د یو ځای خاورې بل ځای ته لېږدوي او هر څه یې له مخې تېښته کوي او د هغه ځواک ته سر ږدي. له هغه ځایه چې ټول د نیز له زیان او ورانیو خبر دي، پوهېږي چې د هغه بهیر او راپورته کیدل وحشت او وېره رامنځته کوي، شونې نه ده چې خلک یې په عادي وختونو کې د مخنیوي پر لارو چارو غور ونه کړي، اړین خنډونه او کلک دفاعي بندونه جوړ نه کړي. داسې چې کله بیا نیز سر اخلي، او به

به يې هغو کانالونو ته سمبړي چې وار له مخه چمتو شوي. او په دې توګه به د نيز او به بيا نه دومره خپلسرې او نه ډېرې وېرونکې وي، چې د وحشت او وراني سبب شي؛ بخت او تقدير هم همدا سې دی.
بخت او تقدير خپل ځواک په هغه ځای کې ښيي چې له وړاندې يې په مخکې د مقاومت ځواک نه وي تيار شوی او تل په هغه ځانګړې لورې زور اچوي چې پوهېږي په وړاندې يې داسې خنډ نه شته چې مخنيوی يې وکړي.
که تاسو ايټاليا ته فکر وکړئ چې د دې ټولو پېښو او بدلونونو اصلي ځای دی، وبه وينئ چې د يوې پراخې دښتې ښېلګه لري چې هېڅ ډول خنډ په کې نه وي. که ايټاليا هم د فرانسې، المان او اسپانيا په څېر په پوره مهارت او وړتيا ساتل کېدی، هېڅ يوه رنګوونکې سېلاب به دا بدلونونه، وحشت او وراني چې نن هلته ليدل کېږي نه ول رامنځته کړي. زما په اند همدومره به په ټوليز ډول د بخت او تقدير په وړاندې د مقاومت په اړه بسنه وکړي .
او اوس که دا موضوع په ځانګړې ډول وڅېړم، وايم چې ځينې وخت داسې پېښېږي چې يو ټولواک يوه ورځ نيکمرغه دی، خو په سبا يې وينو چې همدا ټولواک، پرته له دې چې په روحياتو او چلند کې يې څه توپير وليدل شي، سلطنت يې له لاسه وتلی دی.
زما په اند دا خبره هغه لامل پورې اړه لري، چې مخکې مو اوږدې خبرې پرې وکړې. ياني هغه ټولواک چې په بشپړه توګه پر بخت ډډه وهي، د بخت له بدلون سره راپرځي. همداراز هغه ټولواک چې کړنې يې د وخت له غوښتنې سره سمې تر سره کوي تر ټولو بريالی راوزي، خو هغه ټولواک له ماتې سره مخامخ کېږي چې کړنې يې د وخت له غوښتنې سره نه شي سمولی. ځکه تل وينو چې خلک د شته وسايلو په مرسته هغې موخې پر لور وځي چې په پام کې يې لري. چې دا د شتمنۍ يا اقتدار ترلاسه کول دي. د دې موخو د ترلاسه کولو لپاره هغوی بېلابېلې لارې کاروي، د بېلګې په توګه يو د پاملرنې له لارې وړاندې ځي، بل په ګړندیتوب او بې پروايۍ، يو د ځواک په کارولو او بل په پلمو او چل ول، يو په زغم او بل د هغه په سرچپه ډول. هر يو له دې بېلابېلو لارو څخه يوه خپلوي او خپلې موخې ته رسېږي .همداراز ښکاره ده (داکتاب د ښونا پاڼې څخه کاپي شوی دی ) چې که دوه کسان، دواړه د احتياط له لارې يوې موخې پر لور ګام پورته کړي، يو بريالی کېږي خو دويم خپلې موخې ته نه رسېږي. خو دوه نور کسان چې يو محتاط او بل بې پروا وي، دواړه بريالي کېږي. د دې بريا او لامل يوازې دا دی چې ايا د دې موخې پر لور د پرمختګ ميتود او لاره چاره، د وخت له شرايطو او حالاتو سره سمون خوري او کنه؟
دا ځکه لکه چې مو مخکې ورته نغوته وکړه، دوه کسان له دوو بېلابېلو لارو څخه يوې موخې ته اقدام کوي او دواړه بريالي کېږي. دوه نور کسان له يوې لارې څخه کار اخلي يو موخې ته رسېږي او بل پاتې راځي. په يوه هېواد کې د بدلونونو رامنځته کېدل هم له همدې ځايه سرچينه اخلي. که له هغه چا سره چې په احتياط او زغم پرمختګ کوي، وخت او حالات هم يو ځای رغېږي، کارول شوي وسايل يې سم دي او دا سړی به په پوره برياليتوب پر مخ ولاړ شي. خو که وخت او حالاتو بدلون وکړ، د هغه له منځه تلل هم حتمي دي. ځکه کوم وسايل چې دغه سړی يې د دې کار لپاره په واک کې لري، نه شي کولی وخت او حالاتو ته بدلون ورکړي. هېڅوک په خپله پوهه او هوښيارۍ نه دي بريالي شوي چې له دې بدلونو سره ځان روږدی کړي او دا کار د لاندې دوو دلايلو له مخې ناشونی دی :
١ .ځکه چې له هغو وسايلو څخه نشي ګرځېدلی چې طبيعت يې کارولو ته اړ کوي.
.2ځرنګه چې يوازې د هماغو وسايلو په کارولو سره بريالی شوی دی نشي چمتو کېدی چې د حالاتو له بدلون سره يې پرېښودل ګټور دي.
ځکه نو که يو محتاط سړی اړ شي چې په بې پروايۍ او مهارت ځان موخې ته ورسوي بريالی به نه شي. که طبيعت له وخت او حالاتو سره بدلون کولی د هغه ښه بخت به هم نه اوښته.
دويم پاپ جوليوس به تل په بشپړه بې پروايۍ او بې باکۍ په کارونو لاس پورې کاوه، او تل به يې شرايط او حالات له خپلې کارولې لارې سره سم پيدا کول او پايله به يې ترلاسه کوله. که د بولونا په وړاندې د هغه لومړنۍ جګړه را په زړه کړو، چې ميسر ګيواني بنتي وګلي هم په دې وخت کې ژوندی و، د وېنيس هېواد د دې لښکرلېږد مخالف و او د اسپانيا ټولواک هم له دې ګامه خوښ نه و، د فرانسې له هېواد سره هم تر اوسه په دې اړه تړون نه و شوی. خو بيا هم پاپ جوليوس په خورا سپين سترګۍ د لښکرو مشري پر خپله غاړه واخيسته. دا يو داسې حرکت و چې د اسپانيا ټولواک او وېنيسيان يې د ټکنيتوب )تذبذب) او چوپتيا په حالت کې وساتل چې وېنيسيانو له وېرې او د اسپانيا ټولواک د ناپل هېواد د ترلاسه کولو په تمه د هغه په وړاندې ګام وانخيست. د فرانسې ټولواک يې هم په همدې مهال کې له ځانه سره همغاړی کړ. ځکه د فرانسې ټولواک د وېنيس هېواد د رټلو او ځپلو لپاره د پاپ جوليوس مرستې ته اړتيا درلوده او کله چې يې پاپ د لښکرلېږد په حال کې

ولید ، ناچاره و چې هوکړه ورسره وکړي، ان تر دې چې پاپ ته یې د هر ډول مرستې ټېر وواهه. که یې له دې پرته بله لار خپله کړې وی، پاپ به یې له ځانه خپه کړی وی.
پاپ جولیوس په خپلې بې پروایۍ او ګړندیتوب د هغو کارونو په ترسره کولو بریالی شو چې نورو پاپانو په ښه سمبالتیا د احتیاط له لارې او یا د بشر د طبیعي او دودیز عقل له لارې نه شو ترسره کولی. که دې پاپ خپل تګ له روم څخه په دې نیت ځنډولی وی چې اختلافات له منځه لاړ شي او تړونونه پر وخت ترسره شي، لکه نورو پاپانو چې به کول، هېڅکله یې نه شو کولی خپلو موخو ته ورسېږي. ځکه د فرانسې ټولواک د هغه د خوځښت په وړاندې په زرګونو پلمې کولی او راولاړولی شوې او نورو خواو به هم له وېرې سره مخ کړی وی چې په پای کې به خپلې موخې ته نه ؤ رسېدلی.
زه یې له نورو اخیستل شویو ګامونو څخه تېرېږم. ځکه ټول یې په عمل کې یو ډول ول او ټولو ښې پایلې درلودې، خو د هغه لنډ عمر د دې مخنیوی وکړ چې د خپلو کړنو غبرګون ووینې. که عمر یې د یو څه وخت لپاره دوام کړی وی، او د دې وخت رارسېدلی وی چې د زغم او احتیاط وسایلو ته اړتیا پیدا کړي، د هغه ړنګېدل او راپرځېدل هم حتمي و.
نو دې پرېکړې ته رسېږو چې بخت تل د بدلون په حالت کې دی، خو خلک په خپلو افکارو او کړنو کې ثابت پاتې کېږي. ځکه نو خلکو ته هغه وخت بریاوې ورپه برخه کېږي چې د دواړو په منځ کې انډول او سمون رامنځته شي. ماتې او پرځېدنه یې هغه وخت شونې ده، چې د دواړو په منځ کې سمون له منځه ولاړ شي.
ما پر دې دوه لارو زیات غور کړی او په دې اند یم چې د کارونو په ترسره کولو کې بې پروایي، ګړندیتوب او چټکتیا د زغم او احتیاط په پرتله ښو ځلې ښه ده. ځکه بخت او تقدیر د هغې ښځې په څېر دی چې که وغواړئ خپل اطاعت ته یې اړ باسئ، باید په توندی چلند ورسره وکړئ. ځکه موږ وینو چې ښځې زیاتره هغو خلکو ته سر ږدي، چې په توندی چلند ورسره کوي. خو چمتو نه دي چې د هغه چا اطاعت وکړي چې له هغوی سره په نرمۍ او مهربانۍ چلند کوي؛ بخت هم د ښځې په شان زیاتره د ځوانانو پر لور میلان لري. ځکه ځوانان له احتیاط او زغم سره لږ روږدي دي او زیاتره توند او ګړندی چلند کوي او پر ښځو هم په خورا زړورتیا او بې باکۍ امر کوي .

## شپږویشتم څپرکی

د وحشیانو له ولکې څخه د ایټالیا د ژغورنې لپاره یوه مشوره

کله چې تېر شوی وخت په بشپړ او کره ډول راپه زړه کړم، له ځان سره هیښ پیښ شم چې ایا اوسنی وخت به د یوه ستر ټولواک لپاره وړ وي چې د یو روښانه راتلونکي خاوند یې کړي؟ ایا داسې لارې چارې او وسایل شته چې یو نوي هوښیار او زړور ټولواک ته د دې وخت ورکړي چې په ټوله ایټالیا کې د نوو ارونو او قوانینو په پلي کولو او د هراړخیزو بدلونونو په رامنځته کولو سره ځان ته ویاړ او سرلوړي وګټي او د ایټالیا ولس ته نېکمرغي ورپه برخه کړي.
خو زما په اند اوس مهال د دې کار د ترسره کولو په موخه د نوي ټولواک د مرستې لپاره اړینې لارې چارې او وسایل تیار دي چې په هېڅ وخت کې یې ساری نه دی لیدل شوی. لکه مخکې چې مو یادونه وکړه، پکار وه بني اسرائیل د مصریانو تر اسارت لاندې راشي چې د حضرت موسی علیه السلام وړتیا څرګنده کړي. د دې لپاره چې د لوی کوروس سترتوب په ډاګه شي، پکار وه چې پارسیان د مادیانو تر تېرې لاندې راشي. د دې لپاره چې د تیسیوس ستر توب او ستر همت خلکو ته څرګند شي پکار وه چې د اتن اوسېدونکي تیت او پرک شي او په دې ډول او سمهال: د دې لپاره چې د یو ایټالوي اتل Italian Spirit وړتیا او سترتوب په ډاګه شي، په کار وه چې ایټالیا سپکه او بدمرغه شي لکه چې اوس ده، مانا تر یهودو ډېره خواره او ذلیله، تر پارسیانو ډېره د تېریو او ربړو لاندې، تر اتنیانو ډېره تیته او پرکه شي او د یو وړ مشر او ډاډمن ټیکاؤ په نشتوالي کې بې ټولې سیمې له ماتې، چورتالان، یرغلونو او تېریو سره مخامخ شي او د هېواد هره سیمه ډول ډول ورانې وګالي.
� که څه هم په دې وروستیو کې د یو شخصیت په ځلېدو د هیلو پلوشې خپرې شوې وې او موږ یې په اړه تصور کاوه، چې ښایي زموږ د علاج او له دې بدبختۍ څخه د خلاصون په موخه به د پاک خدای له خوا ټاکل شوی وي. خو وروسته بیا ولیدل شول چې بخت له هغه څخه د پرمختګ په وروستي پړاؤ ((اوج)) کې مخ وګرځاوه او ایټالیا یو وار بیا په یوه مړژواندي حالت کې پاتې شوه او تر دې ګړۍ یو داسې مشر ته په تمه ده چې د هغې پر ټپونو پټۍ ولګوي. د لمبارډي لوټ تالان او د)) ناپل)) د سلطنت او ټوسکاني قلنګونو او باجونو ته نور د پای ټکی کېږدي او د هغوی ناسور ټپونه چې له اوږدې مودې راهیسې د بې پروایۍ له امله له خیبرو او چټلیو ډک شوي، پاک کړي.

ایټالیا د پاک خدای دربار ته په دعا ده او زاری ورته کوي چې یو داسې څوک راوا ستوي چې دا هېواد له دې ورانیو او د وحشیانو له تېریو څخه وژغوري .همدارنګه ایټالیا تیاره ده چې یوه بیرغ پسې روانه شي خو په دې شرط چې یو څوک یې یو ځل د پورته کولو زړه وکړي.

�اوس ستاسو له نامتو کورنۍ �پرته بل څوک نه شته، چې ایټالیا خپلې هیلې او امیدونه ورپورې وتړي، چې د خپلې پاک لمنۍ او نېکمرغۍ له مخې د پاک خدای او د کلیسا له مرستې څخه په بشپړه توګه برخمنه ده او د کلیسا مشري یې هم پر غاړه ده، کولی شي له دې بدمرغۍ څخه د ایټالیا د ژغورنې مشري پر غاړه واخلي.

که تاسو د هغو نومیالیو کړنې او ژوند راپه زړه کړئ چې ما یې یادونه کړې، د دې کار ترسره کول به ستونزمن نه وي. که څه هم هغوی ستر او عجیب اشخاص ول، خو بیا هم پرته له بشره بل څه نه و او هېڅ یوه ته دومره ډېر مهالویش یا فرصتونه نه ول برابر، لکه په اوس مهال کې چې تاسو ته دي. ځکه د هغوی کړنې دومره عادلانه او له نیاوه (( انصافه )) ډکې نه وې، نه یې د اوس مهال په پرتله زیاتې اسانتیاوې لرلې او نه پاک خدای ته دومره نژدې ول، لکه نن ورځ چې تاسو یاست. عدالت او انصاف زموږ پلوی دی. ځکه هغه جګړه چې پر موږ فرض ده پرځای او عادلانه ده او هغه لښکرې مو پاکې او مقدسې دي، چې موږ په دې موخه خپلې هیلې ورپورې تړلې دي. په دې نیت دلته ټولو چمتووالی ښودلی او چېرته چې په دې کچه راټولیدل او چمتووالی وي او تاسو هم د هغو نومیالیو پر لاره تګ وکړئ، چې ما مو پام وروا ړاوه، له دومره ستونزو سره نه مخامخ کېږئ.

سره له دې پاک خدای موږ ته خپل بې ساري نعمتونه راپه برخه کړي او ښېې ښانې یې راښودلي؛ سیند په منځ کې څیرې شوی، وریځو د ستاسو پر لارو سوري اچولي، له تېږو څخه چینې بهېدلې، من او سلوی٘را اورېدلي او دا ټول د دې لپاره دي چې ستاسو د سترتوب او لویوالي وسایل برابر کړي. نو په کار ده چې پاتې نور وسایل یې تاسو په خپله ترسره کړئ. څرنګه چې یې موږ ته پر ځمکه د کړنو خپللاسې او خپلواکې د فاعل مختار په توګه راکړې او دا کار زموږ لپاره په حقیقت کې یو ویاړ هم دی، په خپله به پاک خدای زموږ لپاره نور کارونه ترسره نه کړي.

د هغې موخې د ترسره کولو تمه چې ستاسو له نامتو او له ویاړه ډکې کورنۍ څخه کېږي، که د ایټالیا نورو نومیالیو او سترو څېرو ، چې ما یې یادونه کړې، ترسره نه کړی شوه، د حیرانتیا وړ نه ده. د دې پرله پسې بدلونونو او جګړو په پایله کې که موږ ته یوازې داسې ښکاره شوې چې جګړه ییزه روحیه او مېړانه مو له کاره غورځېدلې او ستومانه شوې، له دې امله ده چې زموږ پخوانې اصول او ترتیبات نیمګړې ول او زموږ په منځ کې لا داسې څوک نه دی راپورته شوی چې نوی اصول او مقررات وټاکي. له نوي قانون، نویو اصولو او مقرراتو پرته بل څه یوه نوي راپورته شوي شخصیت ته دومره ویاړ او درناوی نه شي ورپه برخه کولی. دغه ډول اصول او مقررات چې لوړې موخې په کې نغښتې وي، که په کلکو او ټینګو ستنو ودرول شي، بنسټ ایښوونکی به د ولس تر منځ د ستاینې او درنښت وړ وګرځوي. په ایټالیا کې د داسې وسایلو او فرصتونو کمی نه لیدل کېږي چې دغه ډول سمونونه مو پرې له خپلې خوښې سره سم رامنځته کړئ. دا هېواد غښتلي او د اړتیا وړ سرتېري لري خو د یو وړ مشر نشتوالی احساسوي. که تاسو د هغوی دوه په دوه، لاس او ګرېوان جګړو ته ځیر شئ، ایټالویان څومره غښتلي او چالاکه دي او ژورفکر لري، خو په لښکرو کې بیا توپیر کوي او دا ټول د مشرانو د بې کفایتۍ له امله راپورته کېږي. ځکه څوک چې لیاقت او وړتیا لري غاړه غږوي. هر یو خپل ځان ماهر ګڼي، خو تر اوسه زموږ په منځ کې داسې څوک چې د وړتیا ، استعداد یا بخت له مخې پر ټولو پورته وي، نه دی راپورته شوی چې نور یې د وړتیا او استعداد په ارزولو خپل مشر وټاکي او پلوي یې وکړي. ځکه نو له ډېرې مودې راهیسې او د تېرو شل کلنو جګړو په ترڅ کې چې هرکله زموږ لښکرې له سوچه ایټالویانو څخه جوړې وې، له ناوړه پایلو سره مخامخ شوي او ماتې یې خوړلې. چې د دې جګړو لومړني شواهد د ټارو Taro ، ویلاVaila ، بولونا Bologna او مستېرې جګړې دي. ځکه نو که ستاسو نامتو او له ویاړه ډکه کورنۍ وغواړي چې د لرغوني پېر د نومیالیو کړنې چې د خپلو هېوادوالو د ژغورنې لپاره یې ترسره کړې، د لارې مشال وګرځوي، تر هر څه د مخه په کار ده یوازې له خپلو سرتېرو څخه ملي لښکرې جوړې کړئ، چې د ټولو طرحو او اصلاحاتو یو حقیقي بنسټ دی .

ځکه له دې پرته نه شئ کولی رښتیني، وفاداره او زړورې لښکرې پیدا کړئ. که څه هم هر سرتېری په یوازې سر ښه زړور دی، خو کله چې هغوی ټول سره یو ځای د خپل واکمن تر قوماندې لاندې وي، د هغه له خوا یې درنښت او ستاینه کېږي او لګښت یې هم له خپل واکمن څخه تر لاسه کوي، نور هم زړور کېږي.

نو د دې لپاره چې خپل هېواد د ایټالویانو په زړورتوب او وړتیا وساتئ، اړینه ده چې یوازې ملي لښکرې تیارې کړئ.

که څه هم سویسي او اسپانوي پلي لښکرې ډېرې خطرناکې ګڼل شوي، خو بیاهم په دواړو کې یوه نیمګړتیا لیدل کېږي او له

دې امله که يو دريېم لښکر تيار شي، نو نه يوازې دا چې له هغوی سره به برابره سيالي کوي بلکې پر دې به هم ډاډه وي چې په خپل مټ ماتې ورکولی شي. اسپانوي لښکرې د سپرو لښکرو په وړاندې دربدی نه شي او سويسي لښکرې له پليو لښکرو څخه ډاربږي او په تېره بيا هغه وخت چې په مخامخ جګړه کې يې مقابله وي. نو لکه په وار وار چې وليدل شول او بيا به هم وليدل شي، اسپانوي لښکرې د فرانسوي سپرو لښکرو په وړاندې د دربدو نه دي او سويسي لښکرې بيا د اسپانوي پلي پوځ په وړاندې ماتې خوري.

که څه هم د دې وروستۍ وينا د زبات لپاره دلته يو بشپړ لاسوند نه شم وړاندې کولی ، خو بيا هم د �راونا �جګړه يې يوه ښه بېلګه ده.

کله چې پلي اسپانوي لښکرې د جرمني لښکرو له څو کنډکونو سره چې لښکرو يې د سويسي لښکرو ته ورته تکتيک کارولی و ، مخامخ شول اسپانوي سرتېرو د بدن په چالاکۍ او د خپلو ډالونو په مرسته د جرمني لښکرو د نيزو تر ګوزارونو لاندې ځان د هغوی ځنګ ته ورساوه او پرته له دې چې له کوم ګواښ سره مخامخ شي، پر هغوی د بريد جوګه ول. خو جرمنيان بې مرستې پاتې شول او نه يې شو کولی له ځانه دفاع وکړي. که سپرو لښکرې د هغوی مرستې ته راغلې نه وی او پر اسپانوي لښکرو يې بريد نه وی کړی، اسپانويانو به ټول جرمنيان تر خپلې تورې تېر کړي وی.

اوس چې د دې دواړو پليو پوځونو نيمګړتياوې څرګندې شوې ممکنه ده خپل نوی لښکر داسې وروزئ چې د سپاره پوځ په وړاندې ودرېږي او له پلي پوځ څخه ډار ونه لري. اړينه نه ده چې د دې موخې لپاره تاسې يو نوی لښکر تيار کړئ، په زاړه لښکر کې بدلونونه راولئ او دا له هغو اصلاحاتو او پرمختګونو څخه دي، چې يو نوي ټولواک ته نوم ، شهرت او ځواک ورپه برخه کوي.

نو د ايټاليا د ژغورنې لپاره يو داسې مناسب مهال چې دغه هېواد ته دا وار په لاس ورکوي چې د خپلې خپلواکۍ اتل راميدان ته کړي، بايد بېځايه تېر نه شي.

دا چې د ايټاليا ټول هغه ايالتونه به چې د پرديو د تېري له امله په کنډوالو بدل شوي دي په څومره چټکه، نه سپمونکې سرښندنې، وفا ، فداکارۍ او د خوښۍ پر اوښکو ، چې پر مخ به يې خوري وي، خپله مينه د خپل اتل ټولواک په وړاندې ښکاره کړي د ويلو يې ټول عاجز دي. هغه به څه ډول دروازې وي چې د ورته ټولواک پر مخ به وتړل شي؟ څوک به وي چې د امر له منلو يې انکار وکړي؟ کوم سيال به د هغه په وړاندې خپله ناخوښي څرګنده کړي او د هغه د پرمختګ مخه به ونيسي؟ کوم ايټالوی به د هغه له درناوي او ملاتړ څخه سرغړونه کوي؟ په داسې حال کې چې د وحشيانو د ولکې تريخ خوند ټولو څکلی دی.

ځکه نو د دې وخت رارسېدلی چې ستاسو نامتو او له وياړه ډکه کورنۍ د دې چارو ټول واک، په هغه مېړانه او هيله چې ټولې دا ډول کړنې يې پر غاړه اخيستې دي يو وار بيا په لاس کې واخلي چې تر بيرغ لاندې يې زموږ ګران هېواد سرلوړی، له سيالانو سره سيال او تر سيوري لاندې يې د پيټرارک Petrorch دا وينا رښتينې کړي چې وايي :

پاک لمنې مېړنې به له وحشت سره جنګېږي
حقيقت به جګړه يو سې تور پوځونه به ماتېږي
لا زاړه روم ته ورپاته دغيرت او پت کيسه ده
لا هغه ايټالويان دي د ژوند اور پکښې بلېږي
د دې بيتونو ژباړه عبد الباري جهاني کړې ده